د نوي ژبپوهنې په رڼا کې

# ليکلار ښود

(يوه پښتو – کره پښتو)

پوهاند داکتر م. ا. زيار

Ketabton.com

١٣٨٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بسم الله الرحمن الرحیم

## لیکي پوهه:

لیکی : لیکلار ښود «یوه پښتو _ ګډه پښتو»

لیکوال : پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

خپرندوی : د ساپې پښتو څېړنې او پراختیا مرکز

چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

چاپنېټه :پسرلی ۱۳۸۵/ 2006 (تر یونیم کال ځنډ وروسته)

دچاپ ربنتې له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي ،

بې اخځ ښووني ترې دګټنې اجازه نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه لاربنود سم له لاسه د یوې – کره لیکلارې مینه والو ته هممهال د ساپي، ټول افغان، بېنوا ، سمسور ،هیواداو... انټرنېټ پاڼو له لارې وړاندې کېږي.که چا پرې د چاپ لورېینه کوله، له ما سره به هرومرو سلا کوي. (زیار )

خوان کمپیوټري پښتني پښت ته
چې د همدوی په هڅونه دغه لاربنود وکښل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ننګونه

یوازې اکاډېمیک پښتو ژبپوهان له لوړترین زده کړېز لاسوند او اړوند څېړنیز رېکارډ سره دا ږښته درلودای شي چې په لا زیاتو پیاوړو ژبپوهنیزو آرونو، لاسوندونو او پروسیجرونو دا لاړښود راوننګوي، نه لکه زموږ تو کمپوه ډاکتر پالوال چې له «معیاري پښتو» سره یې دغه یو ارواړ هم رانغښتی نه دی !

# A
# Guide of Standard Pashto

پارسي ځپلې پښتو:
(څو، ترڅو) د (چې) پرځای.
د کابل څخه کتنه - ملاتړ- دفاع-
یادونه - ستاینه... (څخه؟)
اردو- انګرېزي ځپلې:
چېرې چې، څوک چې، کوم چې...
په ډېر شمېر کې، په مشرۍ کې...
(کې؟) لاپته، لادرکه (ترې تم)...

**Prof. Dr. M. A. Zyar**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوه پښتو _ ګړه پښتو

# ليکلاربنود

پيليزه:
دا خبره چې پښتو ولې لا تراوسه د نورو يادو نړيوالو او بيا ګاونډيو ژبو پرخلاف په سمه توګه يوه يوازينۍ کره ليکنۍ بڼه نه لري او ډيری ليکوال يې لا تراوسه د خپل خپل سيمه ييز ګړدود ، په بله وينا ، د خپلې سيمه ييزې ګړنۍ پښتو ښکارندويي کوي او په دې توګه دغې ژبې لا په سمه توګه له ګړني او ګړدودي دريځه يوه کره ليکني ژبني دريخ ته لوړتيا نه ده موندلې، دك ودليل يې دا دی چې دغې ژبې لا هاغومره علمي - فرهنګي پرمختګ نه دی کړی او له دې سره ورته هغومره اړتيا هم پيدا شوې او ننګېرل شوې نه ده او چې دغه ژبه بيا په علمي - فرهنګي سيالۍ کې ولې پاتې راغلې، لاسوند يې دا دی چې د ويونکې «پښتني» ټولنې ټوليز بشپړتيايي بهير يې وروسته پاتې دی .

له دې لامله دا کومه هېښنده او نادوده پېښه نه ده، څومره خنډونه او کړکندې چې د پښتني ټولنې د بېخبنايي بشپړتيايي بهير مخې ته پراته دي ، هماغومره يې د ژبې او فرهنګي مخبنايي بهير مخې ته هم پراته دي.
مور په غړولو سترګو وينو چې پښتني ټولنې لا په ټوله نومهالې مانا له بې شمېرو خېلونو او ټبرونو څخه يوه يوازيني ولس (ملت) ته لوړتيا او بشپړتيا موندلې نه ده، نو څنګه کېدلای شي، ژبه يې په رښتينه مانا له بېلابېلو بې شمېرو ټبرنيو او سيمه ييزو ګړدودونو څخه يوې يوازينۍ ژبنۍ او بيا کره ليکنۍ بڼې ته لوړتيا ومومي؟

هو، هماغسې چې ټولنيز بشپړتيايي بهيرونه له آګاهانه هاندوهڅو سره ګړندتيا او پراختيا مومي، دغسې ورسره تړلې مخبنايي هغه هم په آګاهانه او ځانخبرې توګه ګړندي کېدای شي. همدا خبره وه چې د افغاني، په بله وينا، پښتني ټولنې د وروستيو ټولنيزو او بيا فرهنګي پرمختياوو له يوې واريزې چټکتيا سره د يوې کره ليکنۍ او خپرنۍ پښتو ځنډن او خنډن بهير هم يو واريز غورځنګ ته راګډ شو، پراختيا او پرمختيا يې وموندله او دا دی، له ښه مرغه په ټول شور و زور پرمخ درومي او پرله پسې بشپړ تيايي پړاوونه وهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورې دا ببولالې زړې شوې دي چې هر څه دې د مهال عادي بهير ته پرېښوول شي. که دغه آر د منلو وړ واى، نو ولې به دا دومره ټولنيز او فرهنګي اوړونونه او غورځنګونه رامنځته کېدل. ربښتيني روښاندي پښتانه اوس په دې پوره پوه شوي چې په ګردو ببښبنايي او مخبنايي ډګرو کې يې له نورې پرمختللې نړۍ سره سيالي او هملاري په آګاهانه او ځانخبرو هاندوهڅو سره کېدون موندلاى شي او په دغه لړ کې د يوې داسې کره ليکنۍ پښتو په سمبالونه چې په دغه سيالۍ او هملارۍ کې يې ربښتيني مرستندويه شي.

د يوې يوازينۍ کره پښتو د ربښتيايني او سمبالونې لپاره چې کومې پرله غښتې ژبپوهنيزې هلې ځلې په وروستيو دوه - درو لسيزو کې ترسره شوې، هغه ټولې د ليکونکي له خوا پر خپل خپل مهال څېړل شوې او ارزول شوې او له بېلابېلو لارو د زده کړه والو او ليکوالو د ګټې اخېستنې لپاره وړاندي شوې دي، چې د بشپړې کتابي بڼې«پښتو ليکلار» تر لومړي چاپ (۱۳۶۰ ل) راوروسته يې دغه اوسنى لاربښود د هغو ګردو ليکوالو، پوهانو او زده کړه والو د پرله پسې غوښتنو او سپاربښتنو يو غبرګون دى چې د جنګ وجهالت ځپلي هيواد پرېښوونې او يا يې بيا رغونې ته اړ شوي او د پښتو ليکلار په ګډون يې بشپړ کتابتونونه تر شا پرې اېښي دي. دا هغه پښتو مين پښتانه دي چې د خپلې ژبې او ژبني فرهنګ ربښتينى پرمختګ او د نړيوالې علمي - تخنيکي سيالۍ لپاره يې جوګه کېدنه د دغې ژبې ليکنى يووالى او کره والى لومړنى او بنسټيز آر وآر (اصل و شرط) ګڼي او همزمان يې د ملي رغښت او يووالي پيلامه.

د هغو ښاغلو او آغلو د پوهاوي لپاره چې د يوې - کره ليکنۍ پښتو په اړه ورته دغه ټولې ځانګيزې علمي هاندو هڅې بيا هم سمې او اړينې نه برېښي، ځانګړې او خپلسري يې بولي، پر همدومره غبرګون بسنه کوو چې دغه ربړه او ټولې ورته ژبنۍ ربړې او مسالې نورې د کابل پښتو ټولنې يا پېښور پښتو اکېډېمۍ د زاړه نا پوهنيز دود «ټولپوښتنې (رېفرينډم)» پرځاى په نوې ژبپوهنه هوارېداى شي او يوازې په ژبپوهانو اړه لري. بيا هم دغه اوسنى لاربښود د تېرو هغو غونډې د هماغې ژبپوهنيزې چلند لارې (پروسيجر) پر بنسټ رغېدلى چې پر ۱۳۵۵ل کال د اروابناد علامه حبيبي تر مشرۍ لاندې د يو شمېر دودېزو او نويو ژبپوهانو او ليکوالو په يوه غونډه کې لاسليك شوى او د هماغه کال د لړم په مياشت کې د پښتو ټولنې تر پخلي او منښتې وروسته د ۱۳۵۶ ل په لومړيو کې اړوند سرکاري اورګان «زيري» او ورپسې بياد پښتوپرمختيا او پياوړتيادوې مياشتنۍ«

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشې)) خپور کړی وو.
نوې، خپلاسي رغاونې یا نوېزونه (نیولوجېزمونه)چې د یوې - کره لیکنۍ ښتو له رغندو توکونو (اجزاوو) څخه ګڼل کېږي، هم همداسې یوه ورته ژبپوهنیزه ربړه ده او تر ټولو مخکې په ژبپوهانو اړه لري او د هرې علمي، تخنیکي یا انفارماتیکي څانګې پوهان هم خپلې اړوندې نومونې بې د ژبپوهانو او په ځانګړې توګه، ویپپوهانو (لېکزیکولوجېستانو) له لارښوونې رغولای او ټاکلای نه شي.

زه په دغو ژبنیو ربړو او سکالوو کې له اوږدې مخینې (سابقې) او ازمېښت سره سره بیا هم دغه لارښود په ټوله مانا کوم وروستنی او همېشنی لارښود یا د چا خبره کومه کاڼي کرښه نه ګڼم، ځکه یو خوا د ښتو ټوله ګړنۍ او لیکنۍ شتمني لا په بشپړ ډول رابرسېره شوې او راخوندي شوې نه ده او بل خوا یې اوسنۍ ګړندۍ خپرنۍ او فرهنګي پراختیا او پرمختیا پرله پسې نوې نوې څنډونه او لر لیدونه پرمخ راپرانیزي او له دې سره یې اړوند لارښود هم زاز و ادلون بدلون غواړي. ان په همدغه اوسني لارښود کې د یوه لړ ګړدودي څېلونو (وارینټونو) امرنه (انتخاب) او ټاکنه سم له لاسه وړاندېزي ښه لري. لکه واخلې د (سول، سته ...) او (شول، شته...) تر منځ، یا د (بود - بودند) د انډول په توګه د (و، وو) او (وو، ول، وه)... تر منځ که څه هم د یاد شوي علمي پروسیجر له مخې د وروستنیو څېلونو کره والی په ګوته شوی او زباد شوی دی. د نیولو جیزمونو په برخه کې یې هم همداسې درواخله.
د دغو ټولو خبرو په پای کې دا هم له پامه غورځول په کار نه دي چې ژبه د یوې ټولنیزې ښکارندې (پدیدې) او فرهنګي اربې په توګه تل په ادلون بدلون کې ده او له دې سره یې رغاونیز (فونېتیکي او ګرامري) او ویېیز اکر بکر هم اوښتونکی او بدلېدونکی دی او کره لیکنۍ ښه یې هم ورسره هرومرو پر یوه اکر پاتېدای نه شي.

بلخوا ژبپوهنه د ژبې او ژبنیو سکالوو د پوهنې په توګه له ټولو پرتلیزو (نسبي) سانتیفیکو آرونو سره بیا هم له ټولنیزو پوهنو څخه ګڼل کېږي او په دې ډول یې د نورو سکالوو په څېر معیاري دا هم د تل لپاره نا لاسوهلې پاتې کېدای نه شي. همدا خبره ده چې ان په وتلیو اروپایي ژبو، لکه انګرېزۍ، فرانسۍ او جرمنۍ کې هم دغه بهیر لا تراوسه پر مخ روان دی او یو نیم ادلون بدلون پکې راوړل کېږي
.

## چلند لار (پروسیجر)

ښتو، لکه د نړۍ بله هره ژبه د غږیزو او مانیزو پیلامو (لغاتو) د یوه غونډال (سېستم) په توګه د خپلې ویونکې «ښتني» ټولنې له خوا د خپلمنځي پوهاوي لپاره ویل کېږي او اورول کېږي. اوسنۍ ښتو د نورو خپلوانو (آریاني) ژبو په څېر د خپلې پرمختیا په دربیم پړاو یا پېر (دور) کې ټیکاو لري چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسمې زېږدي (میلادي) پېړۍ راپیل شوی او تراوسه پر مخ ځي. تر دې له مخه د منځنۍ پښتو پېړوو چې اوږدوالی یې لږ تر لږه دولس پیړۍ اټکلېدای شي.

پښتو ګړدوددونه (لهجې) پر څلورو غورو ډلو وېشنه مومي: (۱) سوېل - لویدیزه پښتو، (۲) سوېل - ختیزه پښتو، (۳) شمال - ختیزه پښتو او (۴) منځنۍ پښتو.

یوه - کره پښتو لکه یو - ټولیز - کره ګرامر یې د بېلابېلو ګړدودونو یو داسې غورچاڼ دی چې د لیکنۍ اړتیا له مخې یې د شاعرانو او لیکوالو له خوا بنسټ اېښوول شوی او پر له پسې یې بشپړتیا موندلې ده. خو له یوې پېړۍ راهیسې چې پښتو په یو واریز ډول خپرني ډګر ته راګډه شوې، دغه بهیر یې هم ګړندی شوی او په دې لړ کې یې له هغو زیاتو آګاهانه او پر له غښتو ژبپوهنیزو هاندوهڅو سره چې له تېرو درو لسیزو راهیسې یې د یوه فرهنګي غورځنګ بڼه غوره کړې، خپل لوړترین بشپړ تیايي پړاو ته رارسیدلی او همداسې پسې ورځ پر ورځ مخ پر بره درومي. دا چې یوه - کره پښتو د لیکوالۍ او خپراوي په بهیر کې را دود شوې او په دې توګه لا سم له لاسه په لیکوالۍ او خپراوي اړه لري، «یوه - کره - لیکنۍ پښتو» هم بلل کېږي.

یوه کره - لیکنۍ پښتو پر دوو ټولیزو او غورو بنسټونو ټیکاو لري. (۱) رغاونیزه یا ګرامري یو رنګي او (۲) ویي پانګیزه (لغوي) رنګارنګي.

## ۱ - رغاونیزه یا ګرامري یو رنګي

دا مانا چې د وینګ (تلفظ)، اوازپوهې، ګړپوهې (صرف) او غونډله پوهې (نحوې) په برخه کې له څو بېلابېلو ګړدودي ځېلونو (وارینټونو) څخه هماغه یو ځېل غوره کړشي او وکارول شي چې تر نورو یې تاریخي مخینه یا د ویونکیو شمېره زیاته وي. یا یې هم لیکنۍ او خپرنۍ مخینه او دودوالی ډېر وي، همدا راز یې لنډون، وینګ او خوږوالی او بیا با قاعده والی او نه ګډون په پام کې نیول کېږي: لکه له نوسي، لمسي او نمسي څخه وروستی دا، او یا له ورسید، ورسېده، ورسېدو، ورسېدلو، ورسیدئ، ورسېدلئ، اورسېدو، اورسېدلو... څخه ړومبی دا.

## ۲ - ویي پانګیزه رنګارنګي

په دې مانا چې په یوه - کره - لیکنۍ پښتو کې په دغه اړه له غورچاڼ یا په ملایي نومونه (انتخاب واطراد) څخه کار نه اخېستل کېږي، بلکې د یوه ویي (لغت) ټول هممانیزونه (مترادفات) رااخېستل کېږي، لکه تیږه، ډبره، ګټه، کاڼی، غرګی، کمر... داځکه چې په لږو ډېر مانیز بدلون سره راز راز

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارول کېداى شي: تيږه د عامې تيږې (سنگ)، ډبره د کانې (معدني) تېږې، گټه د ودانيزې (تعميراتي) توکي، کانۍ د آسماني تيږې، غرگۍ د گردې تېږې لپاره چې د يو څيز د اوړه کولو يا ميده کولو لپاره په کارېږي او داسې نور. دغه همماني‌زونه د گرامري وارينتو پرخلاف ژبنی او ليکنی يووالی او کره والی نه ژوبلوي، بلکې لايې پراخوي او بډايه کوي.

## د يوې کره - ليکنۍ پښتو وييپانگه لکه نورې ژبې له څلورگونو خواووڅخه را بشپړېږي:

(۱) گړدودي وييونه يا گړوېزونه، (۲) لرغوني يا ارکاييك وييونه او يا زړوېزونه، (۳) خپللاسي يا مصنوعي وييونه يا نوېزونه او (۴) پور يا مستعار او د خيل وييونه، يا پوروېزونه.

په دې توگه ړومبنې درې ويي ډولونه د پښتو وييپانگې خپله نړه پانگه گڼل کېږي او څلورم دا له نورو (پارسي، هندي، عربي، انگرېزي، پرانسي...) ژبو څخه راپور شوي او دود شوي دي. مانا دا چې ټوله وييپانگه په سل کې ۷۵ په پښتو اړه لري او په سل کې ۲۵ په پرديو ژبو. تر ۲۵٪ زياته پورونه پښتو له پښتنو څخه ورو ورو پردۍ کوي او کنډيباغي (پتوا) يا لږ تر لږه اردو ترې جوړيږي.

## ليکلار او ليکدود:

دغه دواړې نومونې د بېلابېلو ماناوو او موخو لپاره دود شوې دي. په ليکلار کې ژبني اړخونه او گرامري جوړښتونه تر پام لاندې نيول کېږي. په دې توگه کله چې وايو، کره يا معياري پښتو ليکلار، نو مانا يې دا چې له پورتنيو آرونو سره سم يې د يوې - کره پښتو استازي او ښکارندويي وکړاى شي. خو ليکدود يا املاً په ټاکلي الفبايي يا ليکني (تحريري) سېستم کې د توپير (کنټراسټ) يا نه گډون (عدم التباس) له آر سره سم د يوې ژبې ليکنۍ يا انځوريزه سېمبوليکه بڼه ده. کره ليکدود هله رښتينوالی مونداى شي چې په اړونده ابېڅې (الفبا) کې د هر غږ او ويي لپاره ټاکلی سېمبول (توری - حرف) ولري او بيا د هماغې ټاکلې کره ژبې تر وسې وسې څرگندويي وکړاى شي. اوسنۍ دوديزه پښتو ابېڅې چې بنسټ يې پر عربي هغې اېښوول شوی، زياتره د (۲۹) گونو بېواکو (کنسوننټو - صامتو) او نيمواکو (w,y) غږونو يا اوازونو لپاره توري (حروف) لري او د اووگونو خپلواکو (واولو - صايتو) اوازونو لپاره تش درې توري (ا، و، ی)، خو بيا هم د اوږده او لنډ (و) لپاره هماغه يوه نښه (توری) کاروي، او د زور او زورکي لپاره گردۍ يا لکۍ ډوله بيا هم گډون رامنځته کوي. همزه (ء) يا چرگۍ (ه) هم همداسې درواخله. گ له کړۍ (ګ) سره ليکل هم يو بې سر وبوله کاردی. ځکه دا نښه يوازې د غبرگژبيزو اوازونو (ټ، ډ، ړ، ڼ) لپاره سمه راځي، چې ژبه ورسره راکړۍ کېږي، گ تخنيکي او اقتصادي ستونزه هم رامنځ ته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کره لیکنۍ پښتو ابېڅې (الفباء) په لاندېني لښتیلیک کې وړاندې کېږي:

| دودیز | غږیز(فونیمیک) | نوم | بېلګه | غږیزلیک |
|---|---|---|---|---|
| ا، ه، ـه | a | زور | اره، اړ | ará, aṛ |
| ه، ـه | ə | زورکی | زړه | zṛə |
| آ | ā | اوږد (ممدوده) الف | آر، آس، کال | ār, ās, kāl |
| ب | b | بې | بر | bar |
| پ | p | پې | پوړ | poṛ |
| ت | t | تې | تل | tal |
| ټ | ṭ | ټې | ټل | ṭal |
| ج | ǰ | جې (جیم) | جل | ǰal |
| چ | č | چې | چم | čam |
| ځ | j | ځې | ځل، ورځ | jal, wraj |
| څ | c | څې | څرخ، خرڅ | carx, xarc |
| خ | x | خې | خر، خور | xar,xor |
| د | d | دې (دال) | دادا | dādā |
| ډ | ḍ | ډې (ډال) | ډول | ḍol |
| ر | r | رې | رګ، تور | rag, tor |
| ړ | ṛ | ړې | ړوند | ṛund |
| ز | z | زې | زر | zar |
| ژ | ž | ژې | ژر | žar |
| ږ | ğ, ẓ̌ | ږې | ږیره | ğıra \|\| ẓ̌ıra |
| س | s | سې(سین) | سم | sam |
| ش | š | شې(شین) | شپه | špa |
| ښ | x̌ , ṣ̌ | ښې | ښار | x̌ār \|\| ṣ̌ār |
| غ | γ | غې(غېن) | غر | γar |
| ك | k | كې(كاف) | كر | kar |
| ګ | g | ګې (ګاف) | ګڼ | gaṇ |
| ل | l | لې(لام) | لر | lar |
| م | m | مې(میم) | مور | mor |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ن | n | نې(نون) | نر | nar |
| ڼ | ṇ | ڼې | روڼ | ruṇ |
| و | (o) o | او [اوږد (و)] | کور | kor |
| و | u | او [لنډ (و)] | زوم | zum |
| و | w | وې [ابېواك (و)] | ور | war |
| ه،هـ | h | هې | هم | ham |
| ې | e | اوږده يې | هېر | her |
| ي | i | لنډه يې | وير | wɪr |
| ی | ay | زورواله يې | وری | wray |
| ۍ،ئ | əy | زورکي واله يې | ورۍ، خورئ | wrəy, xwrəy |

| عربي | غږيز | نوم | بېلگه |
|---|---|---|---|
| ث | Θ | ثې، ثاء | حديث |
| ح | ḥ | حاْ | حليم |
| ذ | Δ | ذال | ذاكر |
| ص | ṣ | صاد | صابر |
| ض | Z | ضاد | ضمير |
| ط | ṯ | طا، طې | طاهر |
| ظ | ẕ | ظا، ظې | ظاهر |
| ع | Σ | عين | عالم |
| ف | F | فاء، فې | فاروق |
| ق | Q | قاف | قرآن |

## د رغاونيز يا پښوييز (گرامري) يووالي آرونه (پرنسيپونه)

دا پرنسيپونه د يادشوي پروسيجر په رڼاکې د پورتنيو معياري يا ټوليزو پرنسيپونو د کاروني لپاره پر کار راتلاي شي او د هغو علمي کول کيدوني کولای شي. په بله وينا داسې آرونه (پرنسيپونه) چې د هغو له مخې موږ په راز راز گړدودي گرامري ځېلونو (وارينتونو) کې د غورځونې (اطراد) او يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غورونې (انتخاب) اجازه ولرلای شو:

۱- دويو نکو ډېروالی، دا په دې مانا چې د يوه ګرامري توك له مخې له څوواريتېونو څخه هماغه يوه ته معياري ارزښت ورکړ شي چې د ويونکو شمير يې ډير وي، لکه: (ورځ) د (روځ)، (ځمکه) د (زمکه)، (شته) د (سته) يا (ما نيولی دی) د (ما نيسلی دی) پر وړاندې. په دې لړ کې منځنۍ پښتو د نورو درېواړو ګړدودي ډلو پرخلاف يو نيم تاريخي (لرغونی) آواز خوندي ساتلی، خو د ويونکيو د لږوالي پر بنسټ کره نه شي منل کېدای، لکه س په سګه، دېرس ، مسر، کسر... کې.

۲- توپير او نه التباس، په دې مانا چې د يوه فونولوجيکي او ګرامري توك له وارينتونو څخه هماغه يوه ته معياري ارزښت ورکړ شي چې له نورو معياري امرل شوو توکونو سره يې توپيرو شي، په بله وينا ، د التباس او يو له بله د ټکر مخه يې ونيول شي. د ژبنيو توکونو تر منځ توپير او نه التباس يو ژبنی قانون او ناموس ګڼل کېږي، لکه (شول) د (سول) پر وړاندې چې له (سوځل) سره يې ټکر راځي، همدارنګه سيوری - سوری ، پسور - سور، خپور - خور ... در واخله.

۳- د ويوالی (باقاعده ګي)، دا مانا چې له بېلابېلو رغاونيزو (پښوييزو) ځېلونو څخه هماغو ته معياري ارزښت ورکول کېږي چې بېدوېي يا استثناء يې کمه وي، لکه دا دوی (قاعده) چې - زور(- a) په دوديز او بيا (فونيميك) ليك کې د ښځينه پايلې په توګه په پام کې ونيول شي او ډېرګړې يې هم - ې (- e) ، نه دا چې د نورو دروګونو ګړدودي ډلو پر وړاندې د کندهاري ګړدود پر بنسټ تر خجن خپلواك (واوېل) وروسته a_ پر ə واړول شي او ə بيا په ډېر ګړي کې پر i_.
همداسې په نرينه نومونو کې درواخله چې کندهاريان يې د نورې ډېرۍ پښتو ay_ پای د ناحجنۍ له کبله پر əy اړوي او بيا يې ډېرګړی هم د Ii_ پرځای پر əy_ پای ته رسوي او داسې نور.

۴- سپما ، دا مانا چې تر وسې وسې او وروستني بريده په لږو ويیو کې ډېره مانا او مطلب وړاندې شي، بې له دې چې ابهام او ګونګوالی پيښن شي، يوه خبره چې په يوه جمله کې راتلای شي، دوو ته بايد ونه رسېږي او يوه جمله چې له پنځو توکو څخه جوړېدای شي، په کارنه دي، اتو يا لسو توکو ته ورسي. البته په ادبي او هنري ډګر کې د يوه مطلب څو څو رازه څرګندول له سپما څخه سرغړاوی نه ګڼل کېږي، هغه هم په دې شرط چې نوې نوې مانيزې او بديعي رنګارنګۍ منځ ته راوړي، د چا خبره تکرار حسن اوسي، نه دا چې تشه لفاظي بنه ولري. له بده مرغه زموږ ډېر ليکوال د ډېر پخواني ختيز دود تر اغېز لاندې د همماينزو ويیو او جملو بيا بيا کارول د خپل ليکني سبك ستر ټوك ګڼي. سپما په کړاوړون (فعلي ګردان) کې هم ډېره پاموړ بلل کېږي او هغه دا چې له بيلابيلو ګړدودي ځېلونو يې هماغه لنډه دا امرل کېږي: لکه د (يوه شوم) پرځای (وپوهيدم) يا د (ډوډۍ وخوړلې شوه) پرځای (ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخوړل شوه» . په ويي غونډونو ، لکه: کابل پوهنتون، د «د کابل پوهنتون»، «کابل ښار» د «د کابل ښار» ... پر وړاندې . په نوېږونو کې، لکه: «رسنۍ» د «خبري يا خپرندويه رسنۍ» پر وړاندې.

۵ - اساني او رواني، په دې جاج «مفهوم» چې د يوه ژبني توك د تلفظ «وينګ» او له دې سره بيا د ليك او چاپ ... له مخې پښتنو او نا پښتنو ټولو لپاره اساني او رواني ولري . دا آر په پښتو زده کړه او ښوونه کې بيا په ځانګړي ډول د زيات ارزښت وړ دی، لکه «راوړ شو»او راکړ شو ، د «راوړل شو» او «راکړل شو» يا پېړ د پرېړ، درون - درانه د دروند - دراندہ پر وړاندې .

۶ - خوږ غږي او بلاغت، چې يو ژبنی توك په ټولنه کې «دا کثريت له نظره» رکاکت او کراهيت ونه لري. د ساري په توګه له فونولوجيکي او ګرامري او ان لغوي او محاوروي وارينټو د يوه ګرانښت او خوږوالی زيات وي، لکه: «هيلۍ ته لامبو ښوول» د «کونډې ته غوول ښوول» پر وړاندې يا «نتل» د «رټل»، «وختېری» د «وخت ګوډی» پر وړاندې ... .

۷ - لرغونوالی، په دې جاج چې د وييزو او ګرامري وارينټونو په ډله کې هماغو ته معياري ارزښت ورکول کېږي چې يې تر نورو تاريخي او ايټمولوجيکي لرغونوالی ډېر وي، لکه: «ځمکه» د «مزکه»، «ولاړم» د «لاړم» پر وړاندې. دا چې له نجل - نجن، نجلۍ - نجنۍ، زما - دما ، زموږ - دموږ، ستا – د تا او ستاسې – د تاسې، ژغ - جغ، جندره - ژندره، ژرنده - جرنده، نږور - نګور... څخه وروستي ځېلونه لرغوني دي، خو د ويونکيو زياتوالی او له دې سره کره والی د مخنيو پر خوا دی .

يادونه:

په دی ياد شوو پر نسيپونو کې کېدای شي، يو له بله ټکر راشي. په دې مانا چې که يو توك د يوه پرنسيپ «لکه لرغونوالي» له مخې معياري ارزښت ولري، مګر د يوه بل پرنسيپ «لکه د ويونکو ډېروالي» له پلوه يې دغه ارزښت سلب شي، په دې توګه په کار ده چې لومړی د ژبپوهنې يا عملي او تطبيقي چانس او ارزښت د ډيروالي او لږوالي له مخې هر پرنسيپ ته لوړې يا ټيټې شمېرې ورکړ شي او کله چې يو ژبنی توك د ټولو پرنسيپونو له ټوليزو شمېرو څخه تر نيمايي زياتې يوسي، معياري ارزښت به ورکول کېږي. د ساري په توګه د ننۍ ژبپوهنې له مخې د يوه ژبني توك ډېر کاربدنګ، په بله وينا ، د هغه د ويونکو ډيروالی تر تاريخي لر غونوالي او دودوالي څخه زيات ارزښت لري او په کار ده،که لرغونوالي او دودوالي يا نورو آرونو ته په سل کې پنځه پنځه شمېرې ورکول کېږي، نو د ننني دود او کاريدنګ او ويونکو ډيروالي ته به په سل کې شل شمېرې ورکړشي. بياهم که د دې کار لپاره کومه بله جوړه شوې واکمنه غونډه له لا کره پروسېجر سره ټولو آرونو ته يو يو راز شمېرې ورکول غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګنې، په بله وينا ، هيڅ شمېرې ورنه کړي او د يوه ژبني توك په معياري ټاکلو او امر لوکې د ياد شوو آرونو ډيروالی په پام کې ونيسي، نو بيا هم له علمي بنسټونو څخه دومره سرغړاوی نه ګڼل کېږي. ځکه د ژبې غوندې يوې ټولنيزې پديدې، هغه يې هم په ليکنۍ برخه کې قرار دادي او ترڼوني لاسوهنې او ريفورمونه تل منلي او منلای شي.

د دې لپاره چې دغه لاربنود مو له توليزوالي څخه را ځانګړی کړی او بيلابيلو ژبني توکونه او ټوکونه (اجزا) مو په کې رانغښتي اوسي، لومړی يې له غونډله پوهيزو (نحوي) يونونو (واحدونو) څخخه را پيلوو، بيا ګړپوهيز (صرفي)، ورپسې غږپوهيز (فونولوجيکي) هغه تر کروڼې لاندې نيسو او تر ټولو وروسته بيا د دغو ټولو رغاونيزو او پښوييزو (ګرامري) يونونو يا توکونو د کروڼې په رڼا کې ليکدودي (املايي يا ارتوګرافيکي) هغه .

## لومړی - په غونډله پوهيزه (نحوي) برخه کې:

۱- لکه څنګه يې چې له نوې نومونې څخه څرګندېږي، په غونډله پوهه کې غونډلې (جملې)، غونډونه (فقرې)، او ګړنې (محاورې)، په بله وينا ، څرګندنې (اکسپرېشنونه) تر ويېنې (بحث) لاندې نيول کېږي او په دې توګه د يوې ژبې لوېترين توکونه يا يوونونه (واحدونه) را اخلي چې د دود له مخې د ګړپوهې (صرف) تر څنګه د پښويې (ګرامر) دويمه څانګه بلل کېږي. په دې لړ کې غونډله بيا له اړوندو رغندو توکونو (نومونو، کړونو، کړولونو يا قيدونو او وييکو يا اداتو) سره په وروسته ډول تر کاروڼې لاندې نيسو .

۲- پښتو غونډله ړومبی پر دوو برخو يا غونډونو (فقرو) وېشل کېږي چې لومړی هغه ته نوموال غونډ وايي او دويم ته کړوال، خو د دندې له مخې لومړی هغه اينبی (مسند اليه يا مبتدا) بلل کېږي او دويم دا اينبونی (مسند يا خبر). په اينبي کې کړند (فاعل يا نائب فاعل) له اړوندو ستاينومونو او نورو ټاکندو توکو سره راځي چې لومړی پېژند (حرف تعريف)، بيا شمېرنوم ، ورپسې ستاينوم او وروسته پخپله کړند اوډون مومي. د غونډلې په دويمه برخه «اينبوني» کې کړی (مفعول) او کړ او کړول يا کړولونه او پخپله د کړي اړوندان راځي، په دې اوډون: ړومبی د کړي پېژند يا شمېرنوم، ستاينوم او بيا په خپله کړی، ورپسې کړول يا کړولونه او په پای کې کړ او مرستيال کړ يا کړونه راځي. ځينې کړولونه د نوموال ونډ په سر کې هم راځي، لکه: نن په کابل کې واووره ووري، په لندن کې ډېر مهال افغان سفارت نه وو .... .

لکه : ببرك ـ سنك په څپېړه وواهه (يا وهلی دی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- که په دغه اوډ کې یو توکی له بل توکي سره ځای بدل کړي، غونډله خپل کره والی (معیار) له لاسه ورکوي، لکه چې په ګړنۍ پښتو کې ویل کېږي: یو سنك ببرك په څپېړه وواهه. یا د شمېرنوم له ځای بدلون سره: په ښاري دویمه مینه کې ... د «په دویمه ښاري مینه کې...» پر ځای، هر ګوره په زماني کړولي غونډونو کې ستاینوم له شمېرنوم سره ځای بدلولای شي، لکه: په دوو تېرو کلونو کې یا په تېرو دوو کلونو کې، خو که خبره ګړیو او شېبو ته ورسي، ستاینوم هرومرو تر شمېرنوم له مخه کره بربښي، لکه: په تېرو څلیرویشتو ګړیو کې، په تېره یوه شېبه کې .... .

دغه راز کله ناکله د سبکي رنګارنګۍ لپاره په منفي غونډله کې آر کړ (اصلي فعل) تر مرستیالکړ (معاون فعل) وروسته کېدل لړ و ډېر دود لري، لکه: زمری نه دی راغلی = زمری راغلی نه دی.

د غونډلې بېلابېل کوشني کوشني توکونه او په دې لړ کې سربلونه، وستربلونه او نور وییکي (ادات) په وروسته ډول تر کاروني لاندې راځي.

۴- هر ګوره، که په غونډله کې د غښتلیو نومځرو (زه ـ ما ـ موږ، ته ـ تاسې، دی ـ ده، دا ـ دې ـ دوی یا زما ـ زموږ ، ستا ـ ستاسې، د ده ـ د دوی...) پر ځای کمزوري هغه (مې ـ مو ـ دې ـ مو ـ یې...) وکارول شي، نه یوازې ترې تولنومونه (مضافات)، ستاینومونه (صفات) او شمېر نومونه (اعداد) ړومبی راځي، بلکې کړی (مفعول) هم ترې مخکې کېږي، لکه:

یوه پېړه ډوډۍ (مې، دې، مو ، یې) وخوړه... .

۵- که یو نوم تر یوه زیات ستاینومونه ولري، د ارزښت له مخې پرله پسې اوډون مومي او شمېرنومونه تر ستاینومو له مخه راځي :

| کره | ناکره |
| --- | --- |
| یو ډېر ښه سړی راغی | ډېر یوښه سړی راغی . |
| دویمه ښاري څانګه | ښاري دویمه څانګه |
| یوه پېړه توره ډوډۍ مې وخوړه | یوه توره پېړه ډوډۍ مې وخوړه (توره ډوډۍ د سپینې پر وړاندې یوه دوده نومونه ده) |

مګر «بېړنۍ لومړنۍ مرستې»، نه «لومړنۍ بېړنۍ مرستې»، ځکه «لومړنۍ مرستې» یو نړیوال منلی ترنګ او جاج دی.

د اېښي او اېښوني (مبتدا او خبر) تر منځ بشپړ ګرامري سمون اړین دی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

| کره | ناکره |
|---|---|
| پلوشه راغله . | پلوشه راغلل . (کندهارۍ پښتو) |
| ما ډوډۍ وخوړه . | ما ډوډۍ وخوړل. // |
| پلوشه زما خور ده . | پلوشه زما خور دي. // |
| // // | پلوشه زما خور دی. (ځائۍ پښتو) |
| زلمی- زما ورور دی . | زلمی دما ورور ده. (منځنۍ پښتو) |
| زه او ته - ښار ته ځو. | ما او تا ښار ته ځو. (ننګرهارۍ پښتو) |
| هلکان راغلل. | هلکان راغلو. (د غزني، پکتیکا، کوټې، کوهاټ... خوا ته) |
| زلمی، زرڅانګه، زرمینه او زرینه راغلل | - راغلې. |
| ما - په لندن کې یو کال او درې اوونۍ تېر کړل. | - تېرې کړې. |
| نولسمه او شلمه پېړۍ تېره شوه. | - تېرې شوې. |
| اوړم کال او پروسږکال- ښه تېر شو. | - ښه تیر شول. |

[زیار، پښتو لیکلار ۱۲۹-۱۲ مخ].

«چې» د غونډلې د ناازادو یا مرستیالو رغندو ټوکونو په لړکې یو ډېر کاری او ډېر پېښنی اړیکوییکی (ارتباطی ادات) دی:

| کره | ناکره |
|---|---|
| زه راغلم چې تا ووینم. | زه راغلم (تر څو) تا ووینم. (کابلۍ پښتو) |
| د بي بي سي والایې "تر هغې"هم پرځای کاروي): | // |
| هېواد ته خدمت وکړئ چې اباد شي. | هیواد ته خدمت وکړئ (تر څو) اباد شي. |
| بلبر امریکا ته ولاړ چې له کلېنټن سره وګوري. | - (چېرته) چې له کلنټن سره ګوري. (پېښوورۍ پښتو) |
| زه یو کتاب اخلم چې ویې لولم. | _ (کوم) چې لولم یې (- هغه چې -). // |
| واجپایي اسلام اباد ته ولاړ. | - (څوک) چې له پاکستان سره. // |
| چې له پاکستان سره خپل اړیکي ښه کړي. | تعلقات ښه کول غواړي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا د اجمل په شعر کې:
ځئ هغو خوارو له جنت وګټو (ځوك) چې له ځایه دوزخیان پیدا دي.
د «چې» په ملګرتیا یو لړ ترښتي (ترکیبي) اړیکوییکي، لکه دا وروسته کره بېلګې یې:
څومره چې غوربړي- هومره نه وربړي.
څنګه چې ناروغ وم ، نو روغتون ته ولاړم.
کله چې ته راغلې، بیا به زه ولاړ شم.
ناکره بېلګه یې لکه:
ځکه چې ناروغ وم- نوو روغتون ته ولاړم. (کندهاری پښتو)
د همدې غونډلې کره بڼې:
څنګه چې ناروغ وم- نو روغتون ته ولاړم.
یا:
(څنګه) چې هوا ښه شوه ـ (نو) له کوره ووتم (څنګه او نو غورځېدا ی شي)
«لکه څنګه چې» د ترښتي اړیکوییکي (ترکیبي ارتباطي ادات) په توګه:
لکه څنګه چې تاریخ زیاده کړې ده- پښتانه له آره ساك دي.
«څو»، «څو چې» یا «تر څو چې» یوازې د زماني کړول (قید) په توګه، هغه هم د لومړۍ راوړل شوې څېرمه (فرعي) غونډلې په سر کې راځي او یوازې په همدې کارونګ د پارسي «تا» انډول کېدای شي،

لکه:
تر څو چې کوشنی ونه ژاړي - مورتی نه ورکوي.
څو چې بنستپال پر هېواد واکمن وي، د سولې او سوکالۍ هیله نشته.
[دلته یوازې «ترڅو» او « څو» هم ناکره نه بریښي]
همداسې له «چېرې» او « کله» سره، لکه:
چېرې چې اوسې، په خوی به د هغو سې.
کله چې ته راغلې، هله به زه ولاړ شم.
څوك چې خوب کوي، نر کټې به یې زېږي.
ځینې ناکره لیکوال یې له تکراره ځان ژغوري اوهغه دا چې که یوځل یې بیانیه وکاروي، بل ځل یې د پارسي « تای علتیه» تر اغیز لاندې پر (څو) یا (ترڅو) اړوي:
نازوله ښوونځي ژر راغله چې له مور سره بازار ته ولاړه شي، « تر څو» ځانته ګوټونه واخلي [دلته تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو پر «او» یا «او په دې توګه» بدلول په کار دي].

[د لازیاتې خبرتیا لپاره: پښتو لیکلار ۶۴-۵۶۱ مخ، پښتو پښنو یه درېیم چاپ، اړونده سکالو، پښتو ویي پوهنه ۴۴ مخ، د انګرېزي-پښتو دسربلونو سیندګي سریزه].

## سربلونه او وستربلونه:

۶- سربلونه د غونډلې (جملې) د مرستیالو رغندو ټوکونو په توګه له ازادو یا آرو ټوکونو (نومونو) سره کړولونه (قیدونه) جوړوي. داسې چې سربل تر نوم له مخه او وستر بل ترې وروسته راځي، لکه په کور کې «په» سر بل او «کې» وستر بل دی. د پښتو د دغو غبرګو وییکو یا «غبرګبلونو» په وړاندې زیاترې خپلوانې ژبې یووستوي سربلونه کاروي، لکه پارسي «در» او انګریزي. «in» د کره لیکنۍ پښتو سربلونه او وستربلونه په لاندې ډول ښوول کېږي:

۷- «له» له هغو ډېر پېښنو سربلو څخه دی چې د ځو بېلابېلو وستربلونو په ملګرتیا له منځ کې راښکېل نوم سره بېلابېل کړولونه (قیدونه) جوړوي او له یو لړ منځنیو ګړدودو پرته له یوه بل ډېر پېښنې سربل «د» سره ګډ شوی او په دې توګه یو ژبنی آر (توپیر یا نه التباس) تر پښنو لاندېې کوي.

لکه:

| کره | ناکره |
|---|---|
| تل به دې ساتم له پردو وطنه... | تل به دې ساتم د پردو وطنه... |
| ته خو به له زلفو کوځې جوړې کړې... | ته خو به د زلفو کوځې جوړې کړې... |

او داسې نورې پېیلې او ناپېیلې بېلګې یې. کره جوړې یې دا دي:

غرګبلونه یا د سربلونو او وستربلونو جوړې په لاندې ډول بېلابېلې تر سپړنې لاندې نیول کېږي:

له - سره: زه له زلمي سره له کندهاره (څخه)، راغلم (څخه، په دې توګه غورځېدای شي)

له- څخه: د " څخه " ناکره ګړدودي ځېلونه (څه، نه، ځنې) هم په پېیلو ویناوو کې راتلای شي.

له - سره سره: زه له ناروغۍ سره سره (بیا هم)، کار ته ولاړم . یو وستوی «سره» په همدغه (باوجود) جاج هله بسیا کېدای شي چې تر «له» له مخه راشي، لکه: سره له ناروغی کارته ولاړم. «بې» (ل) هم همداسې په سرکې راځي.

له - پرته: له رابللیو پرته، نا بللي هم راغلي ول (- څخه پرته - په یو ځایي ډول کره نه راځي).

له - وروسته: له غرمې وروسته لمبا ته ځم (دلته تر «له» "تر" زیات کره برېښي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له - راهیسي**: له دوولسیزو راهیسې افغان ولس د مرګ و ژوند پر پوله ولاړ دی (د راپه دې خوا ، د- راسې، د- را په هیسته ... یې ناکره انډولونه دي.
په هغو کړولي ترنګو (قیدي ترکیبو) کې چې «څخه» ترې غورځېدلی ګڼل کېږي:
د قانون له مخې (څخه) چې «تر مخه» یې ناکره انډول دی، د ځان له خوا ، له ډېرې تودوخې، له غرمې (- تر مابنامه)....
په «لپاره» کې د لیکدودي آر له مخې «له» رانغښتل شوی دی. کله کله د " راهیسي" پر ځای تش "څخه" او یا هم د لاسپما لپاره یوازې پر "له" بسنه کیږي. لکه له کلو څخه، له پخوا... د محمد هوتك په لیکلار کې هم زیاتره "څخه" غورځېدلی دی. له آره، له لاسه، سم له لاسه، وار له مخه، سم له سمونې هم هداسې درواخله.
له ساده (یووستوو) کړولو څخه ښېلښتي کړولونه رغوي. لکه : له پاسه، له لاندې، له دننه ... کښل پکار دي .

۸- «تر» چې له "وروسته" یا "مخکي، له مخه "،" څخه " "پرته"... او ستربلو سره هماغه کړولونه یا ترنګونه منځته راوړي چې "له" یې هم راوړي، خو بیا هم لکه چې وویل شول، دلته له "له" څخه "تر" ډېر کره راځي، په تېره د وینګ د اسانتیا له پلوه. د "تر" نور او ستربلونه، لکه:
تر- لاندې: تر ډېوې لاندې تیاره ده (ناکره: د ډیوې [د سیوري] لاندې تیاره ده.
چې اوبو ته وایي پاني - سر یې لاندې کړه تر کاني.
لاس تر زنې لاندې مه ږده - ستا به عادت وي ما به ورك له ملکه کېنه!
تر- پورې: تر مرګ پورې به له خپلی پښتو وانه وړم (که "پورې" غورځول کېږي، نو "تر مرګه " غوره راځي).
تر- څخه: تر سرو وریجو (څخه) خوب ښه دی ("تر - څخه " دلته پرتلیز کړول جوړوې او له منشایي "له - څخه" توپیر مومي).
تر- دننه: تر کور دننه یې ژوند خوار دی.
تر - د باندې (بهر): تر ښار د باندې څوك وتای نه شي.
۹- «په»: له خپلو څلور ګونو او ستربلونو سره څلور ډوله کړولونه (قیدونه) رامنځته کوي، لکه :
په - کې: په کوټه کې تیاره ده.
په - سره: په کیلي (سره) کولپ پرانېستل کېږي (سره غورځېدای شي او اړوند زور پای یا زورکی پای ښځینه نوم نه اغېزمنوي، لکه: په خوله مې ورته وویل، په مېړانه وجنګید)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په- پورې: په چا پورې مه خانده (پورې هله غورځېدای شي چې "په" پر "پر" واړول شي).
ستا په خبرې پورې مې وويل (ستا د خبرې په اړه مې وويل).
په - پسې: زه په هر چا پسې نه ځم.
(په يو لړ ختيزو ګړدودو کې "په" زياتره غورځول کېږي او له (په - کې) پرته لکه "له" زياتره پر "د" بدلېږي. اردو- انګريزي پېښې، لکه: زه (په) پښتو کې ليکل - خبرې يا ژباړه کوم د چا په مشرۍ کې، په ډېر شمېر کې (ګڼ)، يا ډېر شمېر... ناکره دي.

**۱۰- پر- (باندې)**: دا سربل له لويديزو ګړدودو پرته نور زياتره پر "په" اړول کېږي او ژبنی توپير (contrast) له منځه وړي او ګډون (التباس) رامنځته کوي د ("باندې" يو ليکدودي ځېل "نې" دی):
زرينې زرمينه پر مېز ځملوله او په لرګي يې ووهله.
يا: زرينې زرمينه پر تخته ځملوله او په څوباړي يې ووهله.
زرينې زرمينه پر تخته (باندې) ووهله (مانا دا چې لومړی يې پر تخته ځملوله او بيا يې په سوك ځپيړه يا لښتې لرګي ووهله، نوکه وليکو چې: (زرينې زرمينه په تخته ووهله) مانا دا چې د تختې په وسيله يې هغه ووهله. همدا راز (پر مېز) او (په ميز)، (پر څوکۍ) او (په څوکۍ)... ورته مانا ګډون رامنځته کوي. د همدغه آرو معيار له مخې بايد: په پښتو ليکل "او" "پر پښتو ليکل " سره په دوو بېلابېلو ماناوو وکاروو.

د ګران معصوم هوتك (دعوت ۱۱۳ او ۱۱۴ ګڼه ۹ مخ) په " وابنه پر خوله، رسۍ پر غاړه" کې لومړی "پر" پر "په" کره ګڼي او هغه هم په دې چې وابنه په خوله کې دننه نيول کيږي، نه پر خوله باندې، خو زه يې ورسره په دې منلای نه شم چې يو خو په ظرفي مانا او جاج "په" ما هيڅکله، په هيڅ ګړدود او متن کې بې "-کې" سر بله نه دی موندلی او بله دا چې دلته اړينه نه ده چې وابنه دې کوړتې او سکوټې دننه په خوله کې ونيول شي، بلکې کېږي د چا خبره هسې يې اکټ وشي، "روژه پر خوله" هم همداسې درواخله.
دلته "پر" سرسري او بابز جاج اخلي، کوچيان وايي: "موږ اوړی پر کابل او ژمی پر پېښور تېروو".
ځکه دوی تر ښارو او کليو بهر په کېږديو کې اوسي، نه دننه په ښارونو او مېشتو سيمو کې.
که چېرې "پر" دلته پر "په" واړوي، هرومرو به ورسره "کې" ملګرې کوي او د اړوندو ښارونو يا سيمو "دننه" مانا به ترې اخلي، يا په ملايي ژبه د استعلايي مانا پرځای ظرفي هغه. دا هم خرګنده ده چې ډېروکوچيانو هم "پر" هر چېرې پر "په" اړولی، په بله وينا ، را لنډ کړی دی، خو د ياد شوي آر له مخې دا دواړه سربلونه سره توپيرول په کار دي، که څه هم ډېری يې يوازې "په" په دواړو جاجو يو شان کاروي، د "پر" نور کره کارونځايونه:
يو څه پر بل څه اړول يا بدلول، ژباړل او داسې نور، پر مخه دې ښه، (مخ) پر وړاندې، پر کال، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشت، پر ورځ، پر شپه، پر_بجو...

۱۱- بې- لکه جرمني ohne یا انګرېزي without له آره ځانته کارول کېدای شي، لکه:
بې زده کړې ژوند ګران دی، بې علمه ژوندون ګران دی...
ورسره "له" ملګری کول او بیا ورسره "څخه (ځنې،)" اوستربل غاړې کول، د سپما، اسانۍ اوروانۍ آرونه زیانمنوي او زیاتره په پېیلي (منظومه) وینا کې ورته د تول برابرۍ لپاره اړتیا پیدا کېږي.
که اړوند توکي چې باید نفې یې کړي، زیات شي، بیا یې پرځای "له - پرته" کارول په کار دي: د هېواد " له" ارامۍ او پرمختګ " پرته " بله هیله نه لرم. " له " زده کړې او کارو زیار " پرته " ژوند کېدون نه لري.
همدارنګه په سرچپه ډول د یوه یووستوي یا ترېنتي توك یا غونډ (فقرې) لپاره " له - پرته " کارول هم کره نه برېښي، لکه: له پیسو پرته هم ژوند کېدای شي چې کره او لنډ اسانه بڼه یې "بې پیسو هم ژوند کېدای شي". "بې" لړو ډېر د «- له» په ملتیا تل د نومونو او غونډونو په سر کې راځي او د " له - پرته " ځای نیسي، لکه:
زه بې له هغې هم درتلونکی وم، بې ستا له وینا ما خپل کار ترسره کړ. کټ مټ لکه "سره" چې د "باوجود" په مانا منځنی دریځ لري. نور نا کره انډولونه، لکه: د زمري نه په غیر، د ستا نه په غیر.

۱۲- (و) - ته: "و" یو زوړ سر بل دی او یوازې یې له تاریخي پلوه د کره والي یو آر په برخه دی چې د ویونکو د ډېرې، لیکني او خپرني دود، لنډون او اسانتیا د پنځګونو آرونو په وړاندې په هیستوریزمونو کې راځي او یوازې اړوند او ستربل "ته" یې کره ګڼل کېږي. ان په لویدیزه (کندهارۍ) پښتو کې چې دغه پخوانی سربل چې لا ژوندی ساتلی، هم د یوه لړ لیکوالو او په تېره شاعرانو له خوا یو مخیز نه کارول کېږي چې محمد هوتك (پټه خزانه) یې غوره ببلګه ګڼل کیږي.
په لرغوني او منځني شعر کې د - ته تر څنګه و - وته، و- لړو ډیر لبدل کېږي، لکه:
... هر پلوته ټپي زړونه په ځار ځار
... چې غزنه ته مې باتلی په تلوار
... سه یې والوتله هسك ته پردې لار
... نه را درومي غور ته بیا جوپې د ښار (اسعد سوری).
همداسې ښکارندوی، شیخ بوستان، اسماعیل، متي، خوشال، رحمان... (- ته) ډېر کارولی، که څه هم کېدای شي، لاسوند یې وزني اړتیا وي.
د (و- ته) بېلګې، لکه: څمه څمه چې اوږد یون مې دی ومخ ته - د یا نه څوری به اچوم و ترخ ته (خرښبون).
د (و-وته) بېلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای وما وته ښکاره کړ هغه لمر بیا (رحمان بابا)
د (و-) بېلګې:
سوز ګداز د محبت هسې و ما را (پیر محمد کاکړ)
چې مې خوږ کا کام، ترخه وما ناکام را (محمد هوتك)

۱۳- د «ته» او ستربل شعري انډول "لره" هم دود لري او همدا راز يې "له" هم درواخله چې د غږونج پایله ده او د کوزنیو لیکوالو په پېښنو یې په نثر کې کارونه کره نه ګڼل کېږي.

۱۴- « د-...» یو داسې ډېر کاری او ډېر پېښنی سربل دی چې له «کره» پرته د یووستوو نومونو او یا هم د غونډونو په ملتیا د (اضافت، چار پرڅای کوي، لکه: د زمري ورور، د اسمان ستوري، د ژوند سرې تودي، د رمو او ګلو خاوند، د پت ښتن... "- کره" چې له آره د "کور " اوښتې بڼه بربښي، د (د-) یوازینی ساده او یووستوی اضافي اوستربل دی. تشبیهي یا ورتني وستربلونه - یې له "غوندې" پرته نور زیاتره غونډیز (فقره یي) بڼې لري او نارښتیني "کاذب" بلل کیږي، لکه: د مزدور غوندې یې وګټه - د بادار غوندې یې وخوره، د بېوزلو په ګټه، د پېړیو په پوړیو کې، د هېواد اوسنی اکر په پام کې نیول، د ... دفاع، کتنه، درناوی، ساتنه، ننګه ... مخنیوی، لیدنه ، هرکلی... چې بې له "څخه" سم او کره ګڼل کېږي.
د " - غوندې" پرڅای دا غونډونه د تشبیهي وستربلونو ښکارندويي کوي: د- په څېر، د- په رنګ، د- په ډول، د- په دود ، د-په شان (یا شانې، په شانته، په شانتې)، د- په توګه، د- په راز، د- په بڼه ....
-"لپاره" یو داسې ببلښتي (اشتقاقی) اوستربل دی چې تر هرڅه له مخه " د اړوندی او ځانګړونې " او لږ و ډېر د "ته" غوندې لرکړی پېر (د اتیف یا مفعول له حالت) رامنځته کوي، لکه :
دا کتاب "د لوستو لپاره" دی، اوبه " د ښناك لپاره " دي. دا ډالۍ "د زمري لپاره" ساتم. "د-" د مهالوییو په ملتیا مهالي کړولونه جوړوي، لکه د کال په اوږدو کې، د ورځې، د شپې، د سهار، د غرمې....
زما کره، ستاکره، زما غوندې، ستا غوندې، زما لپاره، ستا لپاره، ستا په څېر....
دا چې (زما) او ستا له آره (دما) او (دتا) دي، یا په بله وینا ، د اسانتیا لپاره (د) پر (ز) او (س) اوښتی، نو زما کره، زما غوندې، ستا غوندې، زما لپاره، ستا لپاره... بل (د) ته اړتیا نه لري او له دې کبله د ستا... د زما... ناکره ګڼل کېږي.
له "د" سره (سره، څخه، پورې، پسې، لاندې، وروسته، پرته، راهیسې، دننه، د باندې...) اوستربل کول ناکره دي چې په زیاترو ختیزو ګړدودو کې دود لري . همدا راز، لکه پاس چې نغوته وشوه، د پارسي ځپلې کابلۍ پښتو تر اغیز لاندې (د- څخه ملاتړ، مرسته، ننګه، استازي، دفاع، مخنیوی، هرکلې، یادونه، ستاینه، ساتنه، څارنه، درناوی، کتنه...) ناکره بلل کېږي، په کار ده " څخه " ترې وغورځول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي.

له مهالي او توني کړولونو (مکاني قيدونه) سره خپله تولواله (اضافي) دنده داسې پرځای کوي: دغره له پاسه، د کور له دننه، د غره له لاندې، د- له کښته، د- له پورته، د- له سره، د- له مخه، د- له څنګه... په دغه راز بېلګو کې د پای اوستربل "څخه " تل غورځي.

له څرنګيز او توسني (علتيه)، کړولو سره داسې سربل کېدای شي: د- له مخې، د- له کبله، د- له لامله، د- له توسنه، د- له لاسه، د- له ټسه، د- له درده....

په دې ډول د "له" پرځای "د" کارول ناکره دي، لکه: د- دپاسه، د- دمخه، د- دلاندې، د- دلاسه، د- د کبله... يا سم دلاسه، سم د سمونې... لکه څنګه چې د "له" سربل په برخه کې وويل شول.

**۱۵- څرګندنې او ګړنې يا اصطلاحات او محاورې چې د نه شنل کيدونکو غونډونو په توګه کارول** کېږي، بايد پردی بڼه ونه لري، په بله وينا، د پارسي يا بلې ژبې ګړنې ټکي پر ټکي په پښتو جملو کې ونه ژباړل شي او په دې توګه ژبنۍ رغاونه زيانمنه نه شي، لکه: اقدام په عمل راوړل، په وجود راتلل، صورت نيول، پرکرسۍ کښينول، په عمل کې پلی کول... په دې باب دې نورې اړوندې ليکنې له مخه ولوستل شي.

- دلته د پارسي ځېلې او اردو ځېلې پښتو د ناکره غونډلو (جملو) پر وړاندې د يوې - کره پښتو هغو يو لړ بېلګې د درنو مينه والو مخې ته ږدو.

| کره | ناکره (پارسي ځېلې پښتو) |
| --- | --- |
| د سولې لپاره لازې چارې غوره کول. | د سولې د پاره تدابير اتخاذ کول. |
| په امنيتي لارو چارو لاس پورې کول. | امنيتی تدابير په لاره اچول. |
| دولك کسيز ايراني ځواکونه پر افغاني پوله ځای پرځای شول. | د ايران دوه سوه زره قواوې د افغانستان په سرحد کې متمرکزې شوې. |
| تر پنځوسو زيات بنديان خوشې شول . | زياتره پنځوس بنديان خوشې کړی شول. |
| اوس پوره خبرونه وړاندې کېږي. | اوس زياتره خبرونه وړاندې کېږي، اوس هم د خبرونو پوره سپړاو وړاندې کېږي. اوس هم د خبرونو زياتره تفصيل وړاندې کېدلی شي. |
| په کابل کې خپل ژوند تېروي. | په کابل کې خپل ژوند په سروړي. |
| افغانان له چکالۍ څخه ځورېږي. | افغانان د وچکالۍ د ناحيې څخه |

| | |
|---|---|
| | ځوربږي. |
| زه د کابل په شېرشاه مېنه کې اوسېږم. | زه د کابل په کارتۀ چار کې کښېنم. |
| ته چېرې اوسې؟ | ته چرته پاتې کېږې؟ |
| ما په کورکې همسایه اچولی دی. | ما په کور کې همسایه کښېنولی دی. |
| ما دکور ور جوړ کړ. | ما د کور دروازه کښېنوله. |
| ما نیالګي کېښوول. | ما نیالګي کښېنول. |
| د ملی ایرونو (عایداتو) پاموړ زیاتېدنې. | په ملی عایداتو کې د ملاحظې یا توجه وړ اقلام زیاتېدل. |
| تر کېدونه دورځنیو لګښتونو کمول. | تر ممکن حده د ورځنیو مصارفو اندازه کمول. |
| دغه وړهڅې (پرخپل وار) ګټورې زبادېدای شي. | دا اقدامات په خپل ذات کې مفید ثابتېدای شي. |
| د سولې هره هڅه ګټوره پر بو تای شي. | د سولې هر اقدام مفید تمامېدای شي. |
| د کور ډوډۍ تر بازاره ارزانه پرېوځي. | د کور ډوډۍ نسبت بازار ته ارزانه تمامېږي. |
| له کرنیزو سرچینو څخه په زړه پورې ګټه لاسته راتلای شي. | د زراعتی منابعونه مطلوبه ګټه میسرېدلی شي. |
| پروژه ترکار لاندې ونیول شوه. | پروژه د اجرا لاندې قرار وموند. |
| له تخنیك څخه په ګټه اخېستنه یا ګټنه. | د تخنیك نه په استفادې سره. |
| ما خپل کتابونه تر لاسه کړل یا راورسېدل. | زه خپل کتابونه تسلیم شوم (کابلۍ پښتو). |
| ما یې خبرې ته غاړه کېښووه. | ما د هغه خبره تسلیم یا تسلیمه کړه (پېښورۍ پښتو). |
| زه پر ځان پام کوم یا ساتم. | زه ځانته متوجه یم - توجه لرم یا توجه ورکوم. |
| زه خپلې تېروتنې ته ځیر شوم. | زه خپلې سهوې ته متوجه شوم. |
| ما د هغه پام را واړوه یا راوښکاوه. | ما د هغه توجه جلبه کړه. |
| ما د ده مرسته راوښکوله. | ما دده مرسته را جذبه کړه. |
| ما خپلې مرستې ته دهغه پام راوښکاوه. | ما د خپلې مرستې لپاره د هغه توجه را جذبه کړه. |
| زه له خطر سره مخ یا مخامخ شوم. | زه له خطر سره مواجه شوم. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| زه په خطر کې یم. | زه د خطر په معرض کې واقع یم. |
| هغوی ځانونه وسپارل. | هغې ځانونه تسلیم کړل. |
| لارې چارې - هڅې - هاندوهڅې... پیلول. | تدابیر - اقدامات - مساعی... پر لاره اچول. |
| افغانستان د تاریخ په خورا بداکرکې تېکاو لري. | افغانستان د تاریخ په زیاته بده وضع کې قرار لري. |
| زه تر اوړي ژمی غوره گڼم. | زه نسبت یا نظر اوړي ته ژمي ته تر جیح ورکوم. |
| په ځینو برخو کې اندېښنه رامنځته کولای شي. | په یو سلسله مواردو کې د نگرانۍ باعث گرځېدی شي. |
| تاوتریخوالی ډېر شوی دی. | شر شدت سوا شوی دی. |
| ځارندویانو پر توند لارو گولۍ وورولې. | پولیسوالو په شدت (تشدد) پسندو د ټوپك گولۍ وورولې. |
| جنگ سخت شوی دی. | جنگ شدت موندلی دی. |
| نن درې نومولي زرك، زمرك او اتل، خلکو ته وینا وې کوي. | نن درې نامزدان هر یو زرك، زمرك او اتل خلکو ته بیا نیې (بیانونه) ورکوي. |
| د هغووېناوې په ورځپاڼو کې خپرېږي. | د هغووینا گانې (بیانونه) په اخبارو کې نشرېدلی شي. |
| هغوی خپل استازي ونومول. | هغوی خپل نماینده گان کاندید (نامزد) کړل. |
| نومولي دادي:... | کاندیدان (نامزدان)عبارت دي د... |
| په یو لړ ځانگړو برخو کې. | په یوه سلسله حادومواردوکې. |
| ډېر وگړي ورسره لېوالتیا لري. | اکثریت خلك ورسره دلچسپي لري. |
| دغه کتاب مې دومره نه خوښېږي. | دغه کتاب ماته چنداني دلچسپ نه دی. |
| دغه کارېې نه خوښېږي. | داکارېې ددلچسپۍ موردنه واقع کېږي. |
| د کورنیو چارو وزیر په ناسوبتیا کې. | د داخله چارو د وزیر په غیاب (غیابت) کې. |
| تر کېدونه یې مخنیوی په کار دی. | ترممکن حده پورې یې مخنیوی ضروري دی. |
| د امریکا کېدوني بریدونه. | د امریکا ممکنه بریدونه. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| هېواد د بشپړې نېستۍ تر بریده ورسېد. | هېواد د نېستۍ تر (سر_) حده ورسېدلو. |
| پرګڼ مېشتي ښار توغندي وورول شول. | د نفوسو نه په ډك ښار راكټي بمبار وشو. |
| د باوري لاسوندو پر بنسټ (له مخې). | د بااعتباره اسنادو په بنا. |
| دواړه مشران یوه جوړجاړې ته ورسېدل. | دواړه مشران یو موافقت (موافقې، توافق) ته ورسېدل. |
| د دواړو تر منځ د اندونو اوازمېښتونو راكړه وركړه وشوه. | د دواړو په منځ كې د افكارو او تجاربو تبادله وشوه. |
| ده ته د الیاره (كابو) پر لاس ورغله... | ده ته دا فرصت حاصل شو... |
| له ګاونډیانو سره دنه تېري او ښواړیكو تړون لاسلیك شو. | د ګاونډیانو سره د تېري دنه كولو او ښو مناسباتو قرارداد امضاء شو. |
| هغوی دوبله پوهاوي لار راخپله كړه. | هغوی دګډ تفاهم په منځته راتګ سلا شول |
| د دواړو ترمنځ ورانپوهاوی پای ته ورسېد. | د دواړو په منځ كې سوء تفاهم رفع شو. |
| جنګ جګړوته پای ټكی اېښوول په كار دي. | باید جنګ وجدل ته وروستی ټكی كېښوول شي. |
| د نومولو استازونو ملیك و پایلل شو. | د نامزدانو د نماینده ګانو لست وروستی كړی شو. |
| هغه د لندن ښار د كتنې لپاره وخوځېد. | هغه د لندن د ښار څخه د كتنې په غرض (منظور) حركت وكړ. |
| كوشنی پر مېز كېښېناست. | كوچنی د مېز په سركښېناستو. |
| خپلې خواخوږۍ یې وړاندې (څرګندې) كړې. | خپل د همدردی مراتب یې په عرض ورسول. |
| په ډزوكې ټپي شو او روغتون ته ولېږدول شو. | د ډزو په نتیجه كې ټپي او روغتون ته منتقل یا یووړل شو. |
| د ځینو پاملرنو له مخې وبښل شو. | د ځینو ملحوظاتو په اساس وبخښلی شو. |
| ترهغې وروسته، (له مخه ...) چې خوازك راغی، نو زه ولاړم. | وروسته، (له مخه...) ترهغې چې خوازك راغی، زه لاړم. |
| سكالو پردې لاسوندو ټیكاو نه مومي. | موضوع په دې د لایلو نه بنا كېږي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| جنگ د بدمرغۍ سرچینه ده. | جنگ د بدمرغۍ مبداء (منبع) تشکلیوي. |

**- له تازه ناکره، خپرنیزو (ژورنالېستیکو)، هغه هم په زیاته کچه له اردو - انگرېزي ځېلې پښتو بېلگو څخه:**

| ناکره (اردو ځېلې پښتو) | کره |
|---|---|
| نواز شریف څوك چې د پاکستان پخوانی وزیراعظم دی، عدالت ته پېش کولی شي. | نواز شریف چې د پاکستان پخوانی مشروزیر دی، نیاوتون ته وړاندې کېږي. |
| د پاکستان د قومی اسمبلۍ سپیکر کراچی ته لاړو چرته چې فرقوی شدت تشدد اختیار کړی دی. | د پاکستان دولسي جرگې مشر کراچۍ ته ولاړ چې گروهیز تاوتریخوالی پکې سخت شوی دی. |
| د وزیر خارجه پاکستان په مشرۍ کې یو وفد جوړېدلی شي. | د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر په مشرۍ یو پلاوی جوړېږي. |
| په یکم مئی د مزدور کسان پارټی پاکستان جلوس ایستلی شي. | د مي پر لومړۍ د پاکستان د مزدورانو د گوند لاریون تر سره کېږي. |
| په ضلع مردان کې بجلی چالو کېدلی شي. | په مردان ولسوالۍ (ضلع) کې برېښنا چالانېږي. |
| زه هېڅوك په اعتماد کې اخستل نه غواړم. | زه پر هېچا باور (ویسا) نه کوم. |
| یوه شاندار دستوره به جوړېدلی شي. | یوه پرتمینه غونډه به جوړېږي. |
| ... د پاکستان صدر جوړ کړی شو. | .... د پاکستان هېواد مشر وټاکل شو. |
| بېنظیره په انگلینډ کې پاتې کېدلی شي. | بېنظیره په انگلستان کې اوسېږي، یا استوگنه لري. |
| بدعنوانه بیروکرېټ نااهله و گرځولی شو. | بدنام کارمند (له ټاکنو) بې برخې کړ شو. |
| یوه زنانه گلوکاره نوې گانې (گانیانې) پېش کوي. | یوه سندرغاړې نوې سندرې وړاندې کوي. |
| یو کس د غلا په الزام کې گرفتار کړی شو. | یو څوك د غلا په تور ونیول شو. |
| د پارټۍ یوه کارکنه د خپلې حلقې امېدواره ده. | یوه گوندي غړې د خپلې سیمې نوموړې (کاندیده) ده. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| ستا د مدد شکریه ادا کوم. | ستا له مرستې مننه کوم، یا: ستاد مرستې مننه کوم. |
| د پاکستان د آبادۍ خانداني منصوبه بندي پاس کړی شوه. | د پاکستان د وګړمېشتې (نفوسو) پروژه ومنل شوه. |
| د مزاحمت تحریك په بره روان دی. | د ټینګار (مقاومت) غورځنګ پر مخ درومي. |
| د بهارت جارحیت کشمیریان نه شي برداشت کولی. | کشمیریان د هند تېری زغملای نه شي. |
| د فیصلې په حق (مخالفت) کې تقریر پېش کېدلی شي. | د پرېکړې د منښتې (نمنښتې) په اړه وینا کېږي. |
| د دستاویزاتو تر مخه به په اندروني مسایلو ضرور عمل درآمد کېدلی شي. | د لاسوندو له مخې به پر کورنیو ربړو هرومرو چاریاغور کېږي. |
| د هشتګردي به په مزه مزه د ملك نه ورکه شي. | تر هګري به ورو ورو له هېواده ورکه شي. |
| هغه ته به خراج تحسین پېش کېدلی شي. | د هغه ستاینه به کېږي. |
| هغه قابل تحسین وګرځولی شو. | هغه د ستاینې وړ وګرځېد. |
| جدیدې سماجي (معاشرتي) زمه واریانې تسلیم کولی نه شم. | نوې ټولنیزې ژمنې منلای نه شم. |
| سامراجي استحصال او نوابادیت دې مرده باد وي! | پانګواکي(امپریالېستي) زبېښناك او ښکېلاك دې برباد وي! |
| د آبپاشۍ محکمه د بجټ د مشکل باوجود خپلې ډېو ټیانې په مخ بوزي. | د اوبه خور(اوبلګونې) څانګه (اداره) د پانګې (بودجې) له ستونزې سره سره خپلې دندې پر مخ وړې. |
| سکول د بېمارو د سواکېدو په وجه بند کړی شو. | ښوونځی د ناروغیو د ډېرښت له کبله وتړل شو. |
| د جنرل هسپتال د ډاکټرانو هرتال ختم کړی شو. | د عامه (ټولوال) روغتون د ډاکټرانو کار بندي پای ته ورسېده. |
| قیدیانو د اپیل خواست وکړلو. | بندیانو د بیا غور (استیناف) غوښتنه وکړه. |
| هغه ته یې د غمرازۍ اظهار وکړلو. | هغه ته یې خواخوږي څرګنده کړه. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| زه په سماجي اقدارو (قدرونو) بحث کول نه غواړم. | زه پر ټولنیزو ارزښتونو نه غږېږم یا: زه نه غواړم، پر ټولنیزو ارزښتونو وغږېږم [پاکستان پښتو لیکوال داردو - انګرېزۍ په اغیزمنۍ دغه آر کړل (غوښتل) د مرستیالکړ په توګه هسې سرباري کاروي.] |
| د ملازمانو د بحالۍ دپاره کوششونه جاري ساتلی شي. | د کارمندانو د بیا ټاکنې لپاره هڅې روانې وي. |
| د حریت پسندو جنګرېز (جدوجهد) نور هم سوا کېدالی شي. | د ازادیپالو جنګ جګړه نوره هم زیاتېږي. |
| د انتها پسندو اسلامي جماعتونو سربراهان ګرفتار کړی شو. | د بنسټپالو اسلامي ګوندونو مشران ونیول شول. |
| اغواکړی شوی ټیچر رهاکړی شو. | تروښلی (اختطاف شوی) ښوونکی خوشې شو. |
| زمینداران نور پرست وغیره روغندار نباتاتي څیزونه پسنده یي. | څمکوال نمر ګلي او نورو غوړ بوټي خوښوي. |
| د نهې په ورځ به دوکانونه کولاو کړي شي او هر به څیز به میلا و شي. | پر دربیمه (درېنۍ) به دوکانونه پرانېستل شي او هر څیز به تر لاسه شي. |
| دلته کې سرمایه کاري سرګرمیانې چندانې نیشتې. | دلته پانګونیزې بوختیاوې دومره نشته. |
| تانه دار د زور دارو جانبداري کوي. | تانه والا د زورورو پلوي کوي. |
| د ذرائع عامه تر مخه اهمې کاروایانی کېدلی شي. | د ټولیزو رسنیو له مخې غورې چارې ترسره کېږي. |
| د زرعي سکیم په حقله تجویز منظور کړی شو. | د کرنیز پلان وړاندیز ومنل شو. |
| د حکومت پاکستان په حواله دعوام پسندۍ څه بحث نه شي کیدلی. | د پاکستان پرټولمنلتیا (وګړنیتوب) څه خبرې نه شي کېدای. |
| وزیر خارجه پاکستان په عالمي مسلو کې دلچسپی نه اخلي. | د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر له نړیوالو سکالوو سره لېوالتیا نه لري. |
| اقوام متحده په مشرق وسطی کې اهم کردار ادا کوي. | ملګري ملتونه په منځنی ختیځ کې غوره نقش تر سره کوي. |
| بن لادن د ګردود ببماری په وجه | بن لادن د پښتورګو (بډوډو) د ناروغۍ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| مشکل سره مخ شوی دی. | له کبله له ستونزې سره مخ شوی دی. |
| په بنیادی طور باندې د ستهوډنټانو سره ښه سلوك نه کېږي. | له شاگردانو (زده کړیانو) سره له آره ښه (سم) چلند نه کېږي. |
| ملاعمر د پټې د خپل ځای نه لا درکه (لاپته) شوی دی. | ملاعمر له خپل پټوني ځخه تری تم شوی دی. |
| وزیر صحت پاکستان د ربډیو اسلام اباد نه براه راست یو ضروري پیغام نشروي. | د پاکستان د روعتیا وزیر د اسلام اباد له رادیو ځخه یو اړین پیغام نېغ پر نېغه خپروي. |
| د تعلیمي محکمو کې تحفظ نه مبلاو ېږي. | په ښوونیزو ځانگو (ادارو) کې خوندیینه نشته. |
| د وزیر ثقافت اهلیه (ټبر، کور، بېگم) په حق اورسېده. | د فرهنگ (کولتور) وزیر مېرمن مړه شوه (له نړۍ سترگې پټې کړې). |
| کابل ته ورغلي د استرالیا ډپلومېټان اسلام آباد ته واپس شو. | کابل ته ورغلي استرالیایي دېپلوماتان (بیرته) اسلام آباد ته ستانه شول. |
| د یوولسم ستمبر د بریدونو سره تړاو لرونکی یو دهشتگرد گرفتار کړی شو. | د سېتمبر د یوولسمې د بریدونو اړوند ترهگر ونیول شو. |
| دپړه لرونکو کسانو د عدالت قرارداد تسلیم نه کړلو. | گرمو کسانو دنیاوتون پرېکړه ونه منله. |
| د زلزلې کور ړنگونکې غمېزه ختمه شوه. | د ربړدلې کور گډې بخوله پای ته ورسېده. |
| د لویدیځ ښاریان په کابل کې نیولي شوي دي. | د لویدیځ هېواد وندان (تبعه) په کابل کې نیول شوي دي. |
| د ملك صدر یوه خوشخبري پېش کړه. | هېواد مشر (ولسمشر) یوزیری وړاندی کړ. |
| هغه په ربډیو او ټي وي یو اهم بیان جاري کوي. | هغه په رادیو او تلوېزیون کې یوه ارزښتمنه وینا کوي. |

[کښېني لیکوال او ژورنالېستان او د دوی په لاروۍ نور ټولیز پښتانه د انگرېزي «on» په پېښو په تېلفون، تېلوېزیون، راډیو... کې د غږېدلو لپاره د (په - کې) پر ځای "په" کاروي او په سرچپه ډول "په مشری یا صدارت کې"، "په تعداد یا شمېر کې" هسې بېځایه "کې" سرباري کوي چې د نورو بېخرته پېښو په څېر په لره بره گړنۍ پښتو کې کوم بنسټ نه لري].

## دویم - په غږپوهیزه مورفولوجیکي(صرفي) برخه کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۶- استل د دویم ډبرګړي پایله - است یا - ست او - واست باید د- یئ، استئ، یاستئ اوویئ پر وړاندی معیاري ګڼل په کار دي.

۱۷- د تېرمهال کړ د دریېم یوګړي نرینه پایله باید صفر او زورکی غوره وګڼل شي، لکه: وخوړ، ولیکه. دغه راز (وبله)، (وګڼه)، (وپیژند)، تر (وباله)، (وګاڼه)، (وپیژاند یا وپیژانده)... کره راځي.

۱۸- (دی) ((په زور والا)) ی ((باید د ((د)) او ((دئ)) پر وړاندې د دریېم نرینه وګړي معیاري روستاړي وګڼل شي، لکه: زلمی راغلی دی، دی زلمی دی، دغه راز د ختیزې پښتو دواز خپلواك (é) پر وړاندی هم.

۱۹- وو (په اوږد- و) د لر تېرمهالکړ د دریېم نرینه وګړي او (وه) یا (ول) د دریېم جمع نرینه وګړي لپاره باید معیاري وګڼل شي.

۲۰- نا بشپړ تېرمهالکړ د دریېم نرینه وګړي روستاړی باید د بشپړې هغې په څېر صفر او زورکی اوسي، البته بې له کوم مختاړی ((و)) لکه: زلمي ناك خوړ. سنك راته، د خوړې، خوړلو، خوړو، راتلې، راتلو او داسې نورو پر وړاندې.
۲۱- «خوړلای» باید په بشپړ او نابشپړ تېر مهال کې د تواني او ارماني اړخ یوه معیاري بیلګه ومنل شي، لکه ومې خوړلای شو. کاشکی مې وخوړلای، خوړلای می شو، کاشکې مې خوړلای یا د(ل) په غورځونه (خوړای).

۲۲- (خوړل) باید په ټولو بېچارو کړو کې یوه معیاری بیلګه وګڼل شي، لکه وخوړل شو (شول، شوه، شوی...)، خوړل شوی دی (دي، ده، دي)، خوړل شوي ول (شوې وه شوې وي...) خوړل کېده (کېدل، کېده، کېدی...).
خوړل کېدای شو(شول، شوه، شوې...)، یا خوړل کېږی. و به خوړل شي او نور.

۲۳- (زور) باید د (زورکی) پر وړاندې معیاري ښځینه روستاړی ومنو او ډېرګړی یې اوږده -ې، چې تیاره، خوله، ویاله،... په بیدودو (استثناوو) کې راځي، زورکی به په ټولیز ډول یو نرینه روستاړی وي، لکه پسه، زړه، تره، وراره. همداراز باید مفرد ښځینه نومونه، لکه وله، ونه، غنه، ستنه د اوږدې ((ې)) په روستاړی ومنل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴- هر (زور روستاړی والا) ښځینه نوم باید په اوږده (ې) جمع او مغیره کړو، لکه دوې ښځې، د یوې ښځې. داسې نه، لکه په کندهاري ګړدودکې چې د ناخجنۍ په ترخ کې یو دا راز ښځینه نوم په لنډه (ي) جمع یا مغیره کوي او د خجنتیا په ترخ کې یې بیا په اوږده (ې)، لکه لاري (راه ها) او لارې (نغمه ها).

۲۵- زور کی واله ((ی)) باید یوازېنۍ معیاري ښځینه روستاړی وګڼو، نه نرینه، لکه په کندهاري ګړدود کې لیکونکی د نرینه لپاره زورکی والا «ی» او د ښځینه لپاره په لنډه «ي» او دغه راز د (راغلئ دئ) دواړې (یاوې) زورکي والې وایي او لیکي.

۲۶- هره زور واله (ی) نرینه روستاړی وګڼو او ډېرګړې او اوښتې بڼه یې بیا په لنډه (ي)، لکه: سړی - سړي اولښتی - لښتي نه سړی، سړیان اولښتی، لښتیان.
«غویی»، «خوریی» او «ویی» کېدای شي، دوې او درې ډېرګړې بڼې ولري، لکه : غویی یا غویان، خوریي یا خورییونه او کله هم خورییان، ویی ـ ویي یا وییونه.

۲۷- په پارسي یا عربي پېښنو پښتو شمېر نومونه جمع کول نامعیاري دي، لکه: سلها، زر ها، په سلهاو، په زر هاوو، د (سلونه، زرونه یا سلګونه، زرګونه...) پرځای یا سرحدات (سرحدونه)، رودات (رودونه)، جنګلات (ځنګلونه)، چتیات (اپلتې) او داسې نور.

۲۸- (پاته)، (ټول)، (لږ)، (ښه) او داسې نور صفتونه باید د وګړي، ګڼې او نوږي له مخې له موصوف سره سم ګردان شي، نه لکه لږ اوبه، ټوله خلك، پاته هلکان، ښه (په زور) ښځه، ښه (په زورکي) سړی... همدارنګه (دواړه) او (واړه) باید د ځینو ګړدودو په لاسوند د نوږي او پېر له پلوه سم ګردان شي.

۲۹- اوږد «و» باید د مغیره جمع روستاړی اوسي، لکه د خلکو، چې کندهاریان یې په لنډ (و) وایي. دا راز (اوږد) مغیبره «و» باید د «نوم» په ستې پورې سیده ونه نښلي، لکه له (سړی) څخه (سړو)، له (کورنۍ) څخه (کورنو)، له (پېړۍ) څخه (پېړو)، له (پې) څخه (پو) ... چې یې له نورو وییو سره ګډون راځي. البته که د ګډون ویره نه وي او رواني پېښنوي، نو (ی) غور ځول دومره نادوده نه برېښي، په تېره په شعر او وینا کې.

۳۰- هر نوم یا صفت چې له فعلي بنسټ سره یوځای کېږي، باید په وسمهال کې د ځوانېدل، ځوانېږي او ځوانول، ځوانوي په بېلګه ګردان شي، نه د ځوان کیدل، ځوان کېږي او ځوان کول، ځوان کوي په بېلګه. په دې ډول ورسره باید پیلېدل، پیلېږي او پیلوي یا مخامخېدل او مخامخول هم قیاس کړو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله وینا ، د (کېدل) او (کول) پرځای (بېدل) او (شول) معیاری وګڼو. یوازې په هغو برخو کې له داسې لنډیزه کار وانه خلو چې مانا بدلوي، لکه له اړ څخه اړول چې مانیز بدلون پېښوي. دغه راز له کونډ او کونډې څخه (کونډېدل) او (کونډول) جوړولای شو، مګر له ډېره یا تیږه څخه ډېربېدل او تیږبېدل نه. له همدې کبله تر (پاتې کېدل) څخه د (پاتېدل) ګړدود معیاري ارزښت لري. هرګوره، د وردګو او ځېنو نورو کرلانیو خوشې – خوشیول، سترې – سترېدل ... ټولیزېدای نه شي.

۳۱- ځانګړي- تولنومځري، لکه: (زما دا) د وګړي، ګڼې نوږي او پېر (شخص عدد ، جنس او حالت) له مخې باید پوره ګردان ولري او هغه هم د دواړو توکونو په پام کې نیولو سره. په دې توګه به یوازې (زما دا) نه، بلکې زما دوی. زما هغوی... ستا دا. ستا دی ستا دوی، ستا هغوی... هم لیکلای شو ، ځکه دا یوه ژبنۍ سپمایي ځانګړتیا ده.

۳۲- د ملتیا او اشتراکیت یا ټولوال ضمیر باید په څو ډولونو کې لږ تر لږه یو دا معیاری وګڼل شي، لکه: زلمي دوی، زلمي ډلې - دلې، زلمي ګلې... .

## دریېیم - غږپوهیز (فونولوجیکي) معیاري اړخونه:

۳۳- معیاری پښتو ټول ۳۶ غږونه لري. (ء) او (ق) چې په ځېنو ختېزو ګړدودو کې دود لري او د پردي اغېز ښکارندویي کوي، ورسره معیاري ونه ګڼل شي. په دې توګه باید (چکړې)، (کلا)، (وکړه) ولوستل او ولیکل شي، نه (چقړې)، (قلا) (اوکړه) یا (ؤکړه) او داسې نور. دغه راز د څ، ځ، ښ، ژ او (ڼ) غږو نه پر، س ز، خ، ز یا ج او ګ وا نه ړول شي. په سرچپه ډول د (ز) پرځای (ځ) کارول، لکه ځوی - ځما - ځموږ... هم کره نه برېښي.

۳۴- په معیاری پښتو کې باید «ښ» او «ژ» د منځنیو ګړدودو (لکه د وردګو یا اندړو) په وینګ او تلفظ ومنل شي. ځکه یو څه زیاتوالی لري او بل په را دیویي خپرونو کې لږ تر لږه د «ښ» دا همداسې دود شوی دی. د ساري په ډول هلته له کندهاریا نو پرته نور ټول خبرلوڅان (ښ) له همدغه منځني وینګ سره سم د (ش) او (خ) تر منځ تلفظوي.

۳۵- په سوېل - ختیزو ګړدودو کې چې الف پر اوږده (و) یالنډ (و) او هغه پر اوږده (ې) یا لنډه (ي) اوړي، باید معیاري ونه ګڼل شي، لکه ځدران چې وایي : میږ په کېر کې کور کړي (موږ په کور کې کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو).

۳۶- یولړ وییونه چې په ځینو ګړدودو کې یې د غږو نو اوډون یو راز او په ځینو کې بل راز دی، باید هماغه ډول ته معیاري ارزښت ورکړو چې یا یې تاریخي لرغونتوب زیات وي. لکه کښل تر ښکل، کښته تر ښکته، خسا (خوسا) تر سخا، خسی (خوسی) تر سخی، خسر تر سخر، څمکه تر مځکه، اسویلی تر اوسیلی، زولنه تر زلونه، پسرلی تر سپرلی، پښه تر ښپه، پښېمان تر ښپېمان، انګازه تر ازانګه، ولېشت تر لوېشت... او یا خو یې ویونکي زیات وي، لکه زمری د مزری یا امزری، غږ د ږغ، ورخ د روخ، اورېدل د اروېدل... پروړاندې.

۳۷- اوږد ، ارت، اړخ، بوخت باید په یو څپیز ډول، معیاري وګڼل شي، نه په دوه څپیز ډول، لکه څنګه چې په لویدیزو ګړدودو کې دود لري.

۳۸- چې، پورې، لاندې، باندې، وړاندې، غوندې، کې، هسې، داسې، دغسې، چیرې، پرې، ترې، یوازې، همدا راز نومځري تاسې، دې، یې... او دا راز نور وییکي باید د ګړدودي زیاتوالي له کبله په اوږده (ې) ولیکل شي او ولوستل شي، نه په لنډه (ي).

۳۹- (موږ) باید د ګړدودي زیاتوالي له کبله د (مونږ) په وړاندې معیاری وبلل شي.

۴۰- (زما) او (زموږ) دې دوییونکو د زیاتوالي په لاسوند په دوه څپیز ډول معیاري وګڼل شي، نه به یوڅپیز ډول. په شعر کې یې دواړه بڼې جواز لري، ان (زموږ) درې څپیز (زموږه) هم راتلای شي.

۴۱- نمسی یا نوسی، نمانځل، نمانځنه، نماړی یا نواړی، نماړل... د لرغونوالي له کبله د لمسي، لمانځل، لمانځنه، لمانځه، لماړي، لماړل ... پر وړاندی معیاری ارزښت لري. مګر ماسپښین، مازیګر، ماښام او ماسخوتن همداسې (مفغن) د اسانتیا له کبله معیاری پاتې شي. لمونځ او لمر دې بیا تر نمونځ او نمر، نور، مر یا مېر د ویونکو د زیاتوالي او دودوالي له لامله غوره وګڼل شي.

۴۲- هغه، هسی، هغې، هماغه، هغومره... ترهاغه، هاسې، هاغسې، همغه، هاغومره ... اسان او روان بربښي او په کار دي معیاري وبلل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۳- «ته» خو د «له» یا «لره» پر وړاندې له وخته بیا معیاري منل شوی او کارول کېږي. «له» یا «لره» باید ګړنی او شعري ژبې ته پرېښوول شي، لکه څله یا څه لره.

۴۴- ولېدل تر لوېدل یا ولېږې تر لوېږي د عام منښت وړ بریښي او باید معیاری یې وګڼو.

۴۵- درول د ودرول پر وړاندې زیات ټولیز والی لري او د معیاریتوب پر آر برابر دي.

۴۶- موندل او بیا موندل باید د میندل او بیا میندل پر وړاندې معیاري وټاکل شي، او وسمهال ګردان یې مومم، بیا مومم، د میمم، بیا میمم پر وړاندې.

۴۷- اوبدل یا اوبل تر اودل هم تاریخي مخکیوالی لري او هم ګړدودي زیاتوالی، نو یې معیاري منل غوره دي. هرګوره، اودل یې تېرمهال انډول دی.

۴۸- «ژر، ژرنده، ژړل...» خود «زر، زرنده، اوزړل...» یا «زر، جرنده، جړل...» پر وړاندې لږو ډېر معیاری منل شوی او په کار ده همداسې منل شوي پاتې شي. همداسې ژامه د زامه پر وړاندې، که څه هم ګړدودي ډېروالی یې دومره نه دی.

۴۹- یوازې د یواځې او بیا ځې پر وړاندې زیات معیاري لاسوند لري، ځکه پر دې سربیره چې لږو ډېر ګړدودي دود لري، په اوسني لیکدود کې هم اسان او بې ګډوډه راتلای شي.

۵۰- ځینې پور ویي چې د زیاترو پښتنو له خوا یې په څپو کې لنډون راځي، باید همغسې تلفظ شي، لکه نیاز یو څپیز، اختیار دوه څپیز او داسې نور. مګر داسې نه چې په سرچپه ډول لږ څپیز پر ډېر څپیز وواړول شي، لکه پلان چې له آره یو څپیز دی او باید همداسې د معیاری پښتو ټوك وګرځي، یو څپیز عربي او پارسي درې کانسوننټه ویي بیا په سرچپه ډول په پښتو کې دوه څپیز کېږي، لکه شعر، جرم، علم، شرم، رزم، بزم، قدر، نذر، فضل، صدق، صبر، او داسې نور.

۵۱- هر راز پور ویي باید تر وسې وسې په لیك ولوست کې د معیاري پښتو تر دود لاندې راشي. دلته به یوازې قرآن او حدیث مستثنا وبلل شي یا ځینې ډېر دود ځانګړي نومونه، لکه افغان یا افغانستان چې له آره د"اوګان" او" او ګانستان" معرب بلل کېږي. د ځینو ژبو پورویيونو ته باید پام ولرو چې کېږي، یو نیم غږ یې د پښتو له غږونو سره سمون یا نږدېوالی ولري او خوندي یې وساتو، لکه الماني او روسي «ښ» او «څ» چې له پښتو سره ګډون لري. په دې توګه باید «مونشن» میونیخ - «مونښن»، «زوریخ» - «ثوریښ» یا ثوبریښ، «بارزل» - «بارځل»، زرابکیین» - «څرابکین»، «تزار یازار» - څار... ولولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وليكو. دا چې ځينې په تېره کښيني پښتانه انگرېزي پورويېونه زياتره په هندي وينگ وايي، ټ پر ټ د پر ډ... اړوي، بايد يو مخيز معياري و نه منل شي، لکه ډاکټر چې آر لاتيني وينگ يې (دوکتور) دی او په کار دي، دوکتور يې غوره وگڼو، او په دې ډول نور اروپايي ويېونه هم همدا يو راز راپور شي، لکه د کلچر پرځای کولتور زيات دود موندلی دی. کوټ، بوټ او دا راز نورويېونه خو بيا زياتره د پښتو غړپوهې تر اغيز لاندې راغلي او مستثنا گڼل کېدای شي. همدارنگه اړ نه يو چې پارسی پر فارسی، پاړسي يا پاړسو، واړوو. جور د ځور، چراغ د څراغ په بڼه معياری راځي «ځواب» چې زياتره له سوال سره يوځای يو ځپيز ويل کېږي، نو که همداسې په پښتو شوې بڼه معياری ومنل شي، دومره به نادوده ونه ايسي. (زنجير) بايد د دود له مخې په (زنځير) پښتو شي او د ورته غړو د گاونډيتوب په اغيز سره (ځنځير) ونه ليکل شي.

۵۲- ځينې پښتو شوي (مفغن) عربي پور ويي، لکه ميرات، متل، مخنت، اتمان (عثمان...) دا کيلي پر لاس راکوي چې عربي، ص، پر، س واړوو او ث، پر، ت، خو بيا هم اړنه يو، دومره يې له پښتو(س) سره انډول کړو چې د ټکر لامل شي. همداسې پر(ز) د (ض) او (ظ) اړول درواخله.

۵۳- د پورويېو خجونه هم بايد زياتره د پښتو د خج پوهنې اړوند شي او هغه دا چې د نورو ډېرو ختيزو ژبو غوندې پښتو دې ته ډېره هڅه لري چې داروپايي يا نورو پورويېو پر وروستۍ څپې ياله وروستۍ څپې څخه پر مخکې څپه باندې خج راوړو، لکه لندن، واشينگټن، مکسيکو، کاناډا، يورپ، اتلانتيك چې په خپل ژبني قلمرو کې زياتره په لومړي خج ويل کېږي، نه لکه د لرو پښتنو غوندې چې هماغه اردو او انگرېزي وينگ او خج يې راټينگ کړي دي.

لويديزيان هم زموږ ختيز ويېونه او نومونه د خپلو ژبو له دود سره سم په لومړي او يا دويم خج تلفظوي، لکه کابل او افغانستان. مگر که هغوی زموږ ويېونه زموږ په خج ووايي او موږ د هغوی ويېونه د هغو په خج، لابه ښه وي.

۵۴- د درېيم وگړي نژدې جمع ضمير (دوی) بايد په لنډ (و) معياري وگڼل شي، که نه له يوه بل ويي (دوی) سره يې گډون راځي چې په پښتو قاموس کې په دستور، قانون او آئين مانا شوی دی.

۵۵- کښېناستل د کښېنوستل او کښېناستيدل پر وړاندې د معياري کېدووړ برېښي.

۵۶- ځينی پښتانه چې په بخښل کې د بخشيدن (خ) نه غور ځوي او په همدې اغيز نخښه وايي چې له پارسي نشان سره اړيکی لري او پښتو شوې بڼه يې نښان دی، نو بخښل د نښه په اغېز ښښل هم اسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی او هم زیات دود لري، په کار دي، ښنه او ښښل معیاري وګڼل شي. همدا راز تر خوښینه، ښینه زیات معیاری ارزښت درلودای شي.

۵۷- ښوول، کېښوول، پرېښوول... باید د ښودل، کېښودل، پرېښودل... کېښوستل، پرېښوستلیا ښیل، کېښیل، پرېښیل... پر وړاندې معیاري ومنل شي.

۵۸- ښوونځی او پوهنځی د ښځینه بڼې ښوونځۍ او پوهنځۍ په پرتله زیات معیاری ارزښت لري، ځکه اروابناد الفت خبره زموږ په کولتور کې نارینه تر ښځې له مخه ځي، په دغه لړ کې ټولی او ټولګی هم همدا سې نرینه کره راځي.

۵۹- دا چې په پښتو غږ پوهه کې په ټولیز ډول تر پېښې، زورکی او تر زېر زور اسان ویل کېږي، نو باید په معیاری پښتو کې هم دا آر په پام کې ونیول شی. تر هغې چې ګډوون نه راشي. او د ټکر ډار نه وي. د ساري په ډول که په پندانه کې د زورکي پرځای د لنډ (و) په ګړدود معیاري وګڼو، اساني به ولري، بې له دې چې له بلې کلمې سره یې ګډوون راشي. خو که یې په زورکي پیل کړو، بیا «پنبه دانه» نه، بلکې (میرګن) مانا ورکوي.

۶۰- د ځینو فعلی اوړونونو (ګردانونو) په وسمهال برخه کې د فعلي ولۍ وروستۍ (ت) په (ځ) ښوول معیاری ګڼل کېدای شي، نه په (ز). ځکه ګړدودي استناد یې په هر ډول، مګر اوسنی دودوالی یې هم ارزښت لري، لکه وځي د وزي، پریوځي د پرېوزي، پرځي د پرزي، غورځي د غورزي... پر وړاندی.

نو د دې لپاره چې رښتیا یوه قاعده مو ترلاسه کړې وي او په دې توګه مو د یوې ګرامری ګډوډتیا مخه نیولې وي، نو په کار دي، په داسې فعلونو کې د (ز) پرځای (ځ) وکاروو، لکه له (تلل) څخه (ځي) له (پرانیستل) څخه (پرانیځی)، له (پرېمینتل) څخه (پرېمینځي) او نور په ساتل، نتل، کتل... کې خو بیا بېخي د (ز) او (ځ) پوښتنه نه راپورته کېږي. هرګوره (ختل) پر (خېژي) او (کوتل) پر (کوژی) اوړي. ګرځېدل هم تر ګرزېدل ډېر لیکنی دود لري.

۶۱- په (وکړې اووکي) کې فونولوجیکي پوښتنه نه راځي، بلکه په دوو بیلابیلو لیکزیکي (لغوي) ډولونو پورې اړه لري، یو له (کړل) فعل سره اړه لري او دا بل یې له (کول) یا (کلل) سره. که په ویې پانګه کې (کړل) غوره وګڼل شول، نو (. کړي) به غوره وي او که (کول) یا (کلل) غوره وګڼل شول، نو (وکي) به غوره وي او که (کړل) او (کول) یا (کلل) دواړه معیاري ومنل شول، نو وکړي او وکي به هم ورسره غبرګ معیاری منل کېږي. کاندې یا کاڼې یې لا نور ګړدودي ځېلونه بلل کېږي، خو د معیاری کېدنګ ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې لړ ښکاري. که موږ په رښتيا سره يووالی د معياري والي بنسټ بولو، بايد له دغو څو ډولونو څخه يو وامرو او په ټولو زمانو کې يې بشپړ ګردان کړو، يا لږ تر لږه د سوپلاتيف په ډول يو تېرمهال ته پرېږدو او بل يې وسمهال، په بله وينا، يو بشپړ او بل نابشپړ مهال ته. بيا نو پخپله دې پرېکړې ته رسيږو چې (وکړي) ووايو او که (وکي).

۶۲- (زما، زموږ، ستا، ستاسې) د دما، يما، دموږ، دتا، يتا، يا د ستا د تاسې يېتاسې يا دستاسې) پر وړاندې ارزښت لري او لکه څنګه چې يې تر اوسه دود هم موندلی دی. البته، لکه له مخه چې وويل شول، له ستا پر ته دا نور بايد يو څېيز نه، بلکې دوه څېيز وويل شي، په شعر کې البته د دواړو ډولو جواز شته.

۶۳- اېستل تر ايستل او ويستل نه زيات دود لري او بايد غوره وګڼل شي.

۶۴- چونګښه په لنډه (و) د چينډه خه او ځينګښه پر وړاندې تاريخي لرغونتوب ښيي، نو بايد په معياري پښتو کې ونيول شي. همدا راز د ورسره د چونګانښ او البته چونګښ (بقه کلان)ګډ آری بللای شو چې ښايي د چونګ له اواز نه يې سرچينه اخېستې وي

.

## څلورم - د ليك دود معياري اړخونه:

۶۵- ليك د ژبې کوم ټوك او جزء نه چې تش يو انځور دی. د ژبی اومه توکي غږونه دي او د ليك دا توري، يا په غونډه نوم ابيتې يا ابيخې. بشپړليك هماغه دی چې د يوې ژبې د هر يووستوي غږ لپاره يوه نښه (توری) ولري. داسې ليك ته غږ ليك يا فونيميك ليك يا ابېخې (الفباء) ويل کيږي. مګر د نړۍ په ژبو کې يوه دا هم هېڅ دا راز ليك نه لري. لاتيني يوناني، الماني، روسي يا توركي ليكونه ورته په پرتليز ډول يو څه ورنژدې دي، که نه د نړۍ زياتره ليك دودونه نيمګړي دي. د دې پرځای چې د هر غږ يا اواز لپاره يو توری ولري. يوې څپې (هجا) يا كلمې لپاره يو ه نښه يا توری لري. پښتو ليك چې له آره عربي ليك دی او يو څه لاس پكې وهل شوی دی، له نيمګړو ليكونو څخه ګڼل کېږي. په دې چې له (الف-و-ی) نه پرته نورو خپلواكو (واولو) غږونو لپاره پكې نښې نښانې يا توري نشته او هغه هم په هرځای کې نه کارول کېږي. د ساری په ډول (لور) د (دختر، داس او رحم) په مانا يو راز ليکل کېږي.

له دې کبله زموږ اوسنی ليك ريفورم لا څه چې بيخی يوه اوښتون ته اړتيا لري. هغه دا چې يې بيخي ابيخې واوړي او د عربي تورو پرځای نړيواله فونيميکي الفباء رامنځ ته شي چې که څه هم بنسټ يې لاتيني الفباء ده مګر لږو ډېر له نورو ليکدودونو او ځينو نورو نښو نښانو څخه پکې کار اخېستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی دی، لکه (خ) او (غ) دا یې یوناني توري دي او د ډ ، ټ، ړ ، ڼ او داسې نورو لپاره تر لاتیني ( n, r, t, d) لاندې ټکي ایښوول کېږي.

په دې توګه د اوسنۍ پښتو الفباء په چوکاټ کې مو پر لیکدود باندې هر راز وېینې(بحثونه) او څېړنې تل یو سر خوړ دی. ځکه دلته باید د توپیر آر و پالل شي او په دې ډول هېڅ وییې سره یو راز ونه لیکل شي، حال دا چې د الفبا له نیمګړتیا سره دا خبره کیدون نه لري. د ساري په ډول څنګه کولای شو ، (سره) د(مع، سرخ، سره زر او کود) درې واړو مانا وو لپاره راز راز و کاږو.
خو دا چې زموږ د لیك ریفورم یا اوښتون د هوسۍ په ښکر کې دی او یو وخت غواړي، لومړی ورته پخپله پښتانه راوځکېږي او بیا ورته لارې چارې وپلټل شي، نو سم له لاسه اړ یو، د همدې اوسنۍ ابېځې (الفبا) په چوکاټ کې یې پر معیاری لیکدود باندې یو څه رڼا واچوو، چې که د معیاری پښتو پوره انځور ونه شي کړای، د یووالي، یورنګوالي او اسانوالي، او له دې سره څه نا څه د التباس د مخنیوي د آر او اصل سلنه (فیصدي) خو لږه لوړه یووړلای شي. له بلې خوا مو څنګه چې د معیاري پښتو د اختلاف وړ ګرامري او نور اړخونه تروسې وسې پورې نښه کړل او په دې توګه ورسره ډېر لیکدودي معیاري اړخونه هم په ترڅ کې وښوول شول، نو دلته یوازې په هماغه رښتینو لیکدودي هغو بس راوړو. د ساري په ډول پر (چې - چه) او (کښې - کې) غوندې د غړپوهنې په برخه کې خبرې شوې دي او بیا اړنه یو، چې د اروا ښاد خادم غوندې پرې د لیکدود یا «پښتو تصیفی» ترنامه لاندې کلونه کلونه د خپرونو مخونه ډك کړو، بلکه زیات هاند به مو دا وي چې په کوم جادو او چل ول سره کولای شو، څه مو چې په غړپوهنه کې معیاري ښوولي او ټاکلي دي، په لیکدود کې راښکاره کړو. په دې ډول به تر هرڅه له مخه دېته ټینګ پام ولرو چې څنګه له دوه دروخپلواکي نښو (و-ا-ی) ځخه ښه ترا او ډېر ترا ګټه واخیستلای شو.

۴۶- په پښتو کې د پارسي، اردو، انګرېزي... ژبو پرخلاف د عربي پېښ، زېر، ء او اوږد الف (ممدوده آ) فونولوجیک انډول نشته او پښتانه یې اړوند ګډ یا پورویېونه هم له خپل پښتو وینګ سره برابروي او پر («اوږد» و، «اوږده» ي یا «لنډه» ي، لنډ الف...) یې اړوي، لکه: ګمان- ګومان، دکان- دوکان، کنر- کونړ، کندز- کوندز یاکوندوز، بن- بون، کلتور - کولتور، ارګان-اورګان، رمان- رومان،فلم- فېلم، فزیک- فېزیک ،ګله- ګېله یا ګیله، ریالست- ریالېست، آزادي- ازادي،آفسر- افسر، لائق- لایق... . په دې توګه دا وروستی لیکدودي بېلګې کره بلل کېږي:
-[د پېښ پرځای«و»]: خوله، لومړی، غونچه، ګوندي، ګومارل، ګوربت، ګورت، اوشنل، کومک، کولمه، دورمه، پوخلا، ګورګورې، اوتاک (اتاق یا اطاق)، بوګاښ، اوتمانزی، اوتمانخېل، اخون، پومبه، پوندانه، کونړ، کوندوز...، خوځښې دیني او ډېر دود وییونه استثناء ګڼل کېږي، لکه: خدای،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیاد، استاد، گناه، گل، گلاب، گلالی، گلورین، گلباغ، سوروتال، سورنی، اردو...، که له دیني نومونو پرته نور له «و» سره ولیکو، خپل لیکدود به مو نور هم کره کړی اوسي، لکه: ذره - دوره- خم- خوم، تخم- توخم، خرما- خورما، ارزگان-اوروزگان، ارگون- اورگون، ختن- خوتن، ترک- تورک،مغل- مغول او داسې پسې نور.

-[د زبر پرځای «ې» یا «ي»]: ابزگي، ابنځر، پېنځه، پېنځوس، برېښنا، څېرمه، هېنداره، هېنډه، ابنده، امبد، پېیل، پتېیل، تېیل، ټوکرېیل، څوکرېیل....

- همداراز په ښویېدل، تویېدل، لوېېدل او داسې ورته وییونو کې د کنسوننتي (ي) او واوېلي اوږدې (ې) یا لنډې (ي) توپیرول په کار دي، بلکې...، ټېکېټ، تېلېفون یا ټېلېفون (لرغږون)، تېلوېزیون (لروینون)، اېمپراتور، اېټالیا، دېموکراسي یا ډېموکراسي، رېکارډ، انټرنېټ، دېټا، وېب سایت... .

افغا نستان، پاکستان ...،هرات، هند و سند او داسې نور له ډېرې دودتیا او نومورتیا استثناء بلل کېږي. په (- ستان) وال نومونو کې تاجیکستان، وزبېکېستان، تورکمنیستان، قرغېزیستان، قزاقیستان، انگلیستان... هم همداسې لږو ډېر تازه رادود شوي دي. برلین هم د پارسي یا انگلېسي وینگ تر اغېز لاندې(برلن) لیکل په کار نه دي.

- [د آ پرځای ا]: ازاد، ازادي، ارام، ارامي، اسوده، اسان، ارمان، ازار، ازمون، اشنا،اواز، اوازه، اباد، ابادي، اخور، ادم، ارزو، اسیا، اسمان،اغا، اگاه، الو، الوبالو، اینه، اهنگر،ارتېست، اژانس، انتن... . داچې په کره پښتو کې آس، آر، آره، آړ، آړه، یا آریا، آریانا... په مد کښل کېږي، د عربي، پارسي، انگرېزي د مد هومره لوړ نه ویل کېږي،بلکې له نورو الفونو سره د توبیر له مخې لیکل کېږي، نور ټول پښتو سرالفونه د زور یا فتحې هومره وینگ لري او په دې توگه یې «لنډ الف» نومول په کار نه دي.

۶۷- ځانتني عربي توري (ث، ح، ص، ض، ط، ظ،ف، ق) باید له قرآن و حدیث او نورو سپېڅلو دیني دخیلو وییونو پرته د پښتو فونولوجۍ تابع شي او له پښتو وینگ سره سم به پکې ص او ث پر- س، ض او ظ پر- ز، ف پر - پ، ق پر- ك، ح، ع او همزه پر یوه خپلواك (a) اوړي او یا به بیخی غورځول کېږي، لکه سوله، سلا، تمه، شمه، او سون، خلك... چې آرې بنې یې صلح، صلاح، طمع، شمع، افسون، خلق... دي. تورخم - طورخم، توپان - طوفان، کلا- قلا یا قلعه، دوتر - دفتر، کوندوز یا کندوز - قندز، او زار - افزار یا ابزار، کندهار - قندهار، پارسی - فارسی، مانا - معنی... لیکل خو ځکه بېځایه دي چې آره یې آریاني، په بله وینا، پښتو جوته شوې ده.

۶۸- د (ڼ) غږ یو یووستوی غږ دی او باید د (نړ) په بڼه چې دوه توري دي، ونه لیکل شي، که نه (کوڼ) له (کونړ)، خوڼی له (خونړی) او داسې نورو وییو سره هرومرو ټکر راولي. همداراز د نورو غبرگژبو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه ټ، ډ، ړ توري همداسې يووستوی معياري وګڼل شي، نه د اردو په پېښنو پرت، د، ر باندې (ط) په سر باري کولو.

۶۹- د (ګ) غږ د پارسي او پښتو ترمنځ ګډ دي، نو که همداسې وليکل شي، څه پروا به ونه لري. دا چې ځينې يې د غبرګژبو غږونو توريو غوندې د (ك) په کړی (ګ) کولو غوره ګڼي، يو بی سروبوله کار دی، ځکه (ګ) د (ب) غوندی يو ساده غږ نه (انسدادي) غږ دی. هو که هسې په نومونو، سرليکوکې د ډول او رنګارنګۍ لپاره کله په کړی (کونډه) وکښل شی او کله د پارسي غوندې، دومره به بې دوده نه وي، خو په ټوليز ډول په هر راز لاسي يا ماشيني (کمپيوټري...) ليکني سپستمونوکې ګ هم کره او هم ارزان او اسان راځي.

۷۱- ځينی پردي ځانګړي نومونه، لکه څنګه چې د غږپوهنې په برخه کې ورنه نغوته وشوه، ترکومه ځايه چې خپله پښتو غږپوهه اجازه راکوي، بايد له اصل سره سم وويل شي او هماغسې وليکل شي. د ساري په ډول چارلس او په همدې يوه بڼه دودلري، په ورځپاڼو کې چاپېږي او له راديو تلويژيون نه اورول کېږي، بې له دې چې پر آره يې سوچ وشي. همدارنګه ريچارد چې په الماني، انګريزي، پرانسي او نورو اروپايي ژبو کې يې ليك دود يوراز دی، مګر وينګ يې بيلابيل لکه مېکاييل په روسۍ او المانۍ کې (مېخاييل) ويل کېږي، په پرانسي کې مېشل او په انګرېزۍ کې مايکل يا يوسف په روسۍ او المانۍ کې يوزف، په پرانسۍ کې ژوزف، په انګرېزۍ کې جوزف او په اسپانۍ کې خوسف. په دې لړکې د ګاډي ځغلونې الماني اتل «شومخر» په کارنه دی، په انګرېزي پېښنو ((شومکر)) وويل شي او وليکل شي.

۷۲- د (ونکی) روستاړي والا وييونه بايد له معياري وينګ سره سم وليکل شي. که څوك يې په ليکلو کې ټکني کېږي چې چېرې يې يو (و) را ځي او چيرې دوه واوه، نو د داسې وييو کړسته دې په پام کې نيسي، په بله وينا، له مصدري بڼې يې (ـل) وغورځوي، له پاتې کړستې سره (-ونکی) ونښلوي چې که هلته هيڅ (و) نه وو، له مخه بل (و) نه راځي. لکه له (ليکل) نه (ليکونکی)، له (څټل) نه (څټونکی) له (وېرېدل) نه (وېرېدونکی). که کړستې له ځايه يو (و) درلود، نو بيا په دوه (واوو) راځي، لکه : له (خپرول) نه (خپروونکی)، له (ټولول) نه (ټولوونکی) له (خرڅول) نه (خرڅوونکی). په دې لړ کې داسې کړونه (فعلونه) هم شته چې تر مصدري روستاړي (ل) له مخه دوه (واوه) له ځايه لري، نو د (-ونکی) روستاړي په نښلو لو سره يې بايد اړوند فاعلي صفت په منځ کې درې (واوه) ولري، لکه له (ښوول) نه (ښووونکی) او له (پوول) نه (پووونکی). مګر دا چې دويم (واو) پکی دومره څرګند نه ويل کېږي اوڅوك يې نه تلفظوي، نو ليکل يې هم اړين نه دي او بايد په دوو واوو (ښوونکی) او پوونکی ليکل يې معياري ومنل شي، کېښوونکی او پرېښوونکی هم همداسې درواخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۳- د ووت، ووت یا پریووت، پریووت یا پریوت تر منځ پریکړه باید لومړی په صوتي او صرفي برخه کې وشي اوهغه دا چې هرڅنګه په ګردان کې معیاري ومنل شي، نو هله به څرګنده شي چې په پورتنیو وییونوکې څوځو (واوه) ولیکل شي. د لیکو نکي پر وړاندې خو (ووت) او پریوت زیات معیاري ارزښت درلودای شي، ځکه دا یو له فعلي ریښې وت او مطلقې ماضي مختاړي (و-) څخه منځ ته راځي او په دې ډول په دوو (واوو) ټیك راځي او دا بل له فعلي ریښې (وت) څخه د یوه مخکړ یا فعلي مختاړی (پرې) په ملګرتیا جوړېږي او په هیڅ کوم ګړدود کې یې د بشپړ تېرمهال (مطلقی ماضی) د مختاړي (واو) څرك نه لګېږي، په بله وینا ، په هماغو فعلو کې راځي چې داسې مختاړي ته هډو اړتیا نه لري، نو باید صرفي جوله یې پریوت معیاري وګڼل شي او لیکدود یې هم همداسې معیاری راشي.

۷۴- یوځای یا جلا لیکل نن سبا دا هم یوه لیکدودي ربړه (پرابلم) ګرځیدلی دی چې کوم ویي سره یوځای ولیکل شي او کوم سره بېلابېل په دې برخه کې باید لږ تر لږه درې آره او اصله له پامه ونه غورځوو: یو دوینګ او کښنګ تر منځ نژدیوالی، دویم د التباس مخنیوی او درېیم لاسي او تخنیکي اسانوالی دی چې کله د همدې درو آروتر منځ ټکر هم پېښېږي، د ساري په ډول (پخپله) د ټینګار کړول او بیا ناوړوني ویي په توګه یوځاي لیکل کېږی. پر وړاندې یې (په خپله) لکه (په خپله خوښه) یا (په خپل کور کې) دغه آرونه نه پرځای کوي، نو جلا لیکل یې په کار دي. همداسې (پخوا)، (ځانته)، (مخکې)، (پکې)، (لپاره)، (خپلاسی)، (خپلمنځي)، (خپل خوښی)، (لاسلیك)، (نوملیك)... درواخله. په دې لړکې (مه)، (نه) له (خدای مکړه) او (خدای دې نکړي) پرته له کړستې سره نښلول پر دروګونو آرونو سم نه خېژي، خو مخکړونه (پرې، پورې...) بیا ورسره معیاري راځي، لکه په پرېوتل، پورېوتل، کېښناستل... کې.

۷۶- ځینی پښتانه په خپل دې ګومان چې وینګ او کښنګ یې سره نژدې کړی اوسي، اوچتوی - او چته وی، ګرځوی - ګرځه وی، وکړی - وه کړی او داسې نور لیکي او دښته یې سوچ نشته چې همدغه زیاته کړې نښه یوازې د زور یا زورکي تر منځ ګډه نه، چې له کا نسوننتې (ه) سره هم ګډون لري. نو له دې پرته چې دود شوې لیکدود نور هم په شخړه کې واچوي، کوم لیکدودي ریفورم ورته ویلای نه شو. البته د (سوچه والي) غوندې وییو کې چې د "چه" او "و" یو ځای کول، نه یوازې دود نه لري، چې د التباس مخنیوی هم کوي. د (سوچه) ترڅنګ (سوچ) یو بل ویی دی چې (قاطع) مانا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادښت:
داهم د هغو سلګونو لیکونو یوه تازه بېلګه چې لیکوال د یوې پښتو- کره لیکنې پښتو په اړه له درو لسیزو راهیسې بېلابېلو لیکوالو، خپرندویانو او چارواکو ته استولي او یو مهال به په ((سپین لیکونه)) ټولګه کې خپاره شي( اکسفورډ ، اپرېل 2006):

اکسفورډ ،اپرېل2006

## د پښتو ژبې او فرهنګ رښتینی خدایي خد متګار امام الدین ساپی صاحب او منلی فرهنګیالی قتیل صاحب،

تر مینه وړو پېرزوینو وروسته:
د نورو ډېرو غونډې ماته هم د لمر په څېر څرګنده ده چې ستاسې.مرکز د هېواد او سیمې پرکچ د یوې رغنده فرهنګي سیالۍ لپاره را منځته شوی او تر هرڅه له مخه په دې مخه او موخه چې د نړۍ له کاروانه په کروړونو کروړه وروسته پاتې پښتو ژبې او پښتني ټولنې په اړه تر وسې وسې نوي او ګټور څه وړاندې کړي.

په دې لړ کې له دوه میاشتنۍ ((ورځ)) څخه دا هیله ډېره کېږي چې رامخته کړی ارمان لا ښه ترا تر سره کړای شي. خو له بده مرغه، لکه څنګه چې لیدل کېږي، ددغه ښکلي نامه زیاتره تشه جوله(لفظ) په پام کې نیول شوې ، نه مانا. بېلګه یې داچې ځای او نا ځای ((ځ)) وکاروي، لکه: ځوی، ځېرېدل، ځېرېدنه، ځېرنده، ځېرون، ځما، ځمونږ، ځانګو، ځانګل، ځمری، ستونځه... او بیا چې په یوه کورنۍ کې د سرورزوي تر څنګه سرورځوی او قتیل ځوی کښل کېږي... . په پای کې به دا په زرګونو ټېرونه، هم د - زي پرځای په - ځي دود ومومي !

زه وایم، ولې یې جاج و مانا په پام کې و نه نیول شي او په دې توګه پکې د وسمهالي څېړندود (مېتادولوجۍ) پر بنسټ د نوې پوهې ، فرهنګ او بیا په ځانګړي ډول د نوې پښتو ژبپوهنې او رښتیني پښتني تاریخ په اړه هغه څه خپاره کړي چې د رحمان بابا خبره ، منکر پرې اعتراض و نه شي کړای !

موږ باید ځوان کمپیوټري پښتني پښت ته نور د وریځو اوښان جوړ نه کړو او د رښتیني مېتودیک افغاني - پښتني تاریخ پر ځای ورته بېځایه ویاړنې او ستاینې په غوږو کې ور پو نه کړو. همدارنګه پردي مذهبونه، ژبې، فرهنګونه او تمدنونه را خپلونه پرمختللې علمي نړۍ په ځان پورې له خندونې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته بله څه گټه او پایله نه لري  او بیا لا دا گیله هم کوي چې ختیځپوهانو یې پر دغو اپلتو ولې ځانونه ناگاره کړي دي ! پر دغو داوو او دنگلو خدای ښښلو دودیزو پوهانو پوره ځانونه ستړي کړي او بوجۍ بوجۍ کتابونه یې را پرې ایښي ، نو بیا بیا راغبرگول او لا پړسول یې څه په کار دي! نومهالي پوهنیز  دود و مېتود دادی چې هرڅوک یوه سکالو ترلیکنی څېړنې لاندې نیسي، باید مخکې له مخکې یې مخینه په پوره غور تر ځیرنې او کرونې تېره کړي، کره ترې  راواخلي او کوره کوټه یې ور پرېږدي او خپل نوي زوي پرې ورزیات کاندي.

ما چې پښځه دېرش کاله مخکې له اروپا څخه د نوې ژبپوهنې له رالېږدولو سره د خپل پوهنځي پېر استادانو لوستلیکي، لکه د علامه حبیبي پښتو ادب تاریخ، د استاد رښتین پښتو گرامر یا د استاد رشاد ادبي فنون، په تېره پښتو عروض و قافیه یومخیز وننگول، د کومې تربگنۍ له مخې نه وه، بلکې زماله ځانگیزې پازې یې اره اخېسته او د زړه له کومي مې غوښل چې نوې پښتنې پښت ته نوې څه وړاندې کړم. له هغو نه یوازې استادحبیبي وو چې د ۱۳۵۴ ل. کال په نړیواله پښتو پوهنغونډه کې یې په ټوله پښتنې مېړانه دا منښته وکړه: ((موږ له خپل واک و وس سره تر دې مهاله راورسوله، نور نوی اکادېمیک پښت پوه شه او نوې لاره روده یې! او بیا هم همدا استاد وو چې د ((یوې- کره پښتو لیکلارې)) په اړه یې راسره  لاسلیک کړې چلند لار (پروسېجر) بېرته وانخېست، که څه هم په کړن کې تر ډېره پر هماغه خپله کندهارۍ لیکلار ټینگ و ترینگ پاتې شو.مولانا خادم چې کړی لاسلیک یې په کړن کې پر خپل خورمنځ برابر و نه لید ، د داود خان تر دوتره یې پلپوټ (شکایت) ورسېد!

داچې په  ورځ کې زیات زور پر هماغه زړو دودیزو ما ویلو تا ویلو اچول کېږي او بیا پکې  بشپړ کتابونه راغبرگېږي، ښایي کوم دک و دلیل یې تر شا ټیکاو ولري، خو زه د مرکز او ددغې مهالنۍ د همکار په توگه د گوتنیوي پرځای دا رغنده وړاندیز کوم چې د هغو ترڅنگه د نوې ژبپوهنې په رڼاکې زما پښتو پښویه او همستاسې له خوا چاپ شوی کتاب ((پښتو او پښتانه)) هم پرله پسې ټوک ټوک خپور کړئ.  له دې سره به  نوی پښت دا کابو ومومي چې  تر دغه منځ یوه پرتله وکړي او یوه پایلنیوي ته پخپله ورسي !

دغه راز له گران گړندي صاحب نه هم هیله لرم، د پښتو لیکدود او لیکلارې په برخه کی د پښتو استادی پر ځانگړو ازمېښتو ، زړو پرېکړو او کتابونو بسیا پاتې نه شي او نوې پښتو ژبپوهنه او په تېره لیکلار هم تر کتنې اوڅېړنې لاندې هم ونیسي چې له  درې نیمو لسیزو او بیا د یاد شوې چلند لارې لاسلیک راهیسې یې په څه له پاسه دوه سوو توکو(مادو) سره  لیکنۍ پښتو ته لار موندلې او ښایسته ډېره دود شوې ده. داسې هم نه چې گوندې زه دا دومره مهال ارام ناست یم، بلکې له نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستليکيو سره يې په ژبپوهنه کې له نويو نويو برياووسره پرله پسې کروم او بشپړوم او دا دي په همدې نژدې کې به يې له پروسږنې ژمنې سره سمه د ((ليکلاربنود په نامه لا کره او کېښکلې جيبي بڼه د چاپ لپاره همتاسې ته در وسپارم.

دا به ډېره ښه وي، ګرندی صاحب يې د دغه نوي لاربنود په رڼا کې له همدې دوه مياشتنۍ را پيل کړي چې ولې پر ځ دومره زور اچول کېږي، هغه هم د ننګرهاريا نو له خوا چې په ((ځيګر)) کې يې ګرد سره ځ نشته. يا د کابلۍ پښتو ((څو، ترڅو، تر څوچې...)) او د پېښورۍ پښتو ((څوک چې، کوم چې...)) مخنيوی چې ان د مرکز په شپږم توک يا ماده کې پېښورۍ ډوله ((کومه چې)) راغلې ده .
همدارنګه د(د - له) او (په - پر) يو د بل پرځای ليکل، لکه: پرتوګې (په توګه)، پرهکلې (په اړه)، پر ټوليزې توګې (په ټو ليزه توګه)، دوه يم، دوه دېرش، دوه څلوېښت... چې ډېری پښتانه يې بې (ه) ادا کوي او اروابناد وزيرصاحب به د خلکو په خولو کې ور سموله. همداراز د ننګرهارۍ او ټوليزې شمال ختيزې پښتو نور له ارو معياره غورځول شوي - مونږ، زمونږ، ما وخوړو، وخوړلو د(( وخوړ)) پرځای، يا وليکلو د (( وليکه)) پرځای او داسې نور درواخله!
دا دی، له همدې ليک سره د اووغزوال او ګرندي صاحب ترمنځ د پوخلاينې په موخه د کره پښتو ليکدود يوه برخه د چاپ لپاره در برېښليکوم .

په ټوله پښتني- افغاني مينه او لوربينه
پوهاند دوکتور م. ا. زيا ر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یوې – کره پښتو لیکلارې اړوند لیکدود (Orthography)

۱- یوه کره لیکنۍ پښتو ۳۶ غږونه (sounds)، خو ابېڅې (الفبې) له دېرشو نښو (توریو) تېرې نه کوي. له ۷ خپلواکو (واوېلو) څخه یوازې درې دا لیکنۍ نښې یا توري (وای) لري. د زور (فتحې) او زورکي لپاره (ه) یا (ء) او یا چرګۍ (هه) کارونګ د ژبپوهنیز قانون «توپیر» تر ډېر ځایه زیانمنوي او له لوستونکي لار لودن ورکوي. یوازې د «ی» د څلورګونو ډولونو له رامنځته کولو سره یو څه لیکدودي سمون راغلی دی چې له ښه مرغه پېښور اکېډیمۍ هم هوکې کړې، که څه هم د اردو په پېښو(ے) او دغه راز(ء) بېخرته کارونې کوزنی لیکدود ډېر کړکېچن او کرغېړن کړی دی!

۲- څلورګونې«ی» ګانې له خپلو بېلګوسره:

- اوږده (ې)، لکه:خدای دې ادې له دې ناوړې پېښې لرې لري.
- لنډه (ي)، لکه:ښادي، خپلوي، وداني.
- نرمه (ی)، لکه: نری سړی، ځای، خدای، وری، وړی.
- درنه (ۍ، ئ)، لکه: نړۍ، کړۍ، ډوډۍ، څوکۍ...
- په کړ (فعل) کې، لکه: ډوډۍ وخورئ، ښه کوئ، بد مه کوئ.

۳- د واوېلي (غیرملفوظه) او کنسوننټي(ملفوظه) «ه» توپیرول په کار دي. په دې ډول:
په (دویم) کې د واوېل (فتحې) په توګه غورځي او په (نهم) کې د کنسوننټ (ملفوظه ه) په توګه پاتې کېږي. د (نهم) بنسټ (نه-)دی، مانا دا چې ړومبۍ(ه) کنسوننټ (حرف صحیح) دی او دویمه هغه یو واوېل (حرف علت) دی. (اووه - اووم، پېنځه - پېنځم، یو- یوم...) هم په همدې لړ کې راځي. نور واوېل پای یا خپلواکپای شمېرنومونه (-ي-) غواړي، لکه:
درې- درېیم، اویا- اویایم، اتیایم، نوي- نوي یم یا نوییم؛ «څویم» هم تر ورته دوی یا قاعدې لاندې راځي. کنسوننټ پای هغه خو په هر ډول اړونده پایله (- م) سیده په ځان پسې نښلوي، لکه:
څلورم، پنځم، شپږم، اتم، لسم... سلم، زرم، میلیونم... . پرکنسوننټي یا معدوله (و) پایته رسېدونکي شمېرې هم په دې لړ کې راځي، لکه:
یوم(یوسل ویوم)، دوه سوم....
زور- پای او زورکي پای هم د دغو واوېلو تر غورځونې و روسته تر ورته قانون لاندې راځي.

۴- په (- ونکی) رغېدونکي کړنومونه همدا یو «و» غواړي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکونکی، څېړونکی، ژباړونکی، ګنډونکی، خوړونکی، څښونکی، تلونکی، ویونکی، وهونکی... ، خو که له فعلي مصدره (- ل) لرې شي او پاتې بنسټ یو «و» ولري، نو (ونکی) بیا (وونکی) کېږي، لکه: کاروونکی، خپروونکی، څرګندوونکی، اړوونکی، ټولوونکی... له (ښوول) او (پوول) څخه چې (-ل) لرې کړې، نو (وو) پاتې کېږي او په کارده، اړوندستاینومونه یې (ښووونکی) او (پووونکی) ولیکل شي، خو د دود وینګ له مخې ترې یو«و» غورځي.

۵- غبرګژبیز توري (ټ، ډ، ړ، ڼ) چې غږونه یې له غږبوهیز پلوه پښتو ډېر پخوا له هندي (پراکرېټو) را پور کړي دي، په اروپایي ژبو کې هېڅ نه ویل کېږي. کوم انګرېزي ټکي چې په لره پښتو کې ویل کېږي او کارول کېږي، بیا هم هماغه هندي او بیا اردو- انګرېزي اغېز دی، لکه:
ډاکټر، ماسټر، تهئټر، سېنېټر، ډېموکرېټ ،ډېماکراسي، ډېکټېټر، کلېنټن، رامسفېلډ، ټوني بلېر، اکسفورډ.
که څه هم بره خوا تر پارسي او بیا لاتین آرې پرانسي اغېز لاندې دغه غبرګژبیزوالی له وینګ او لیکنګ دواړو وتلی وو ، لکه: دوکتور، ماستر، تیاتر (ننداري)، سناتور، دېموکرات، دېموکراسي، دېکتاتور...، خو زموږ د برنیو له کډوالۍ سره د لرنیو غبرګژبیزوالی پر ټوله پښتو واکمن شو او هغه هم زیاتره د انګرېزي پورویېونو په برخه کې، نه د نورو اروپایي ژبو(جرمني، پرانسي، ایټالیي، اسپانیي...) په برخه کې، لکه:
فیدل کاسترو- فیډل کاسټرو، شورایدر- شورایډر، هېلموت- هلموټ، دوګول- ډګل... . مانا داچې دومره ښنده (زیاده روی) هېڅ په کار نه ده!

۶- جغرافیایي نومونه، لکه: اسیا، افریقا، اروپا، امریکا، استرالیا، انترکتیکا، کاناډا، برتانیا، ایټالیا، البانیا، انتونیا، استونیا، مکدونیا، کروشیا، کولمبیا، لیبیا، سوریا، چېچنیا، سومالیا ،اېتوپیا، مالیزیا، اندونیزیا... زموږ د لرغونو آریایي نومونو (آریانا، سوغدیانا، لودیانا، باکتریا، پښتونخوا...) په بېلګه په الف کره راځي، نه دعربي او اردو په پېښو اسیه، افریقه.... هرګوره، روسیه، ترکیه، فرانسه، اوتریش- اتریش یا اطریش، پولېنډ- پولند، انګلیستان- انګلېنډ یا انګلند... کې لومړۍ بڼې غوره او کره دي.

۷- پښتو ویاند ته په کار ده، د هر چا او هر ځای نوم د اړوندې ژبې له وینګ سره سم ولیکي او ووايي، لکه: پرانسي (مېشل)، روسی او جرمني (میخاییل)، انګرېزي (مایکل)، عربي- اسلامي (مېکا ئیل- مېکاییل)، یا د جرمني (یوزف)، انګرېزي (جوزف)، اسپانیي (خوسف)، د جرمني پخواني بهرني وزیر نوم (یوشکا) چې له آره د (یوزف) کوشیننوم (مصغرنوم) دی، هم همداسې درواخله چې زیاتره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښوري او کوټه وال ویاندان یې «جوشکا» لیکي او وایي. روسي «څار» یا جرمني ځویرېښ... هم بویه د پارسي یا نورو ژبو په پېښو (تزار، زوریخ یا زوریک...) ونه ویل شي او ونه لیکل شي.

۸- پښتو او آریاني یا نا عربي وییونه، ځاینومونه، ټبرنومونه او وګړنومونه باید تر وسې وسې له وینګ سره سم په پښتو تورو او لیکدود و لیکل شي، لکه:
توره باز (طوره باز)، تورخم (طورخم)، تورو (طورو)، توتو (طوطو)، توتي، توتا، توتاخېل (طوطاخېل)، تهران (طهران)، اناتولیا (اناطولیه)، توپان (طوفان)، پرښته (فرشته)، خپه (خفه)، اپلاتون (افلاطون)، الینګار (علینګار)، الیشنګ (علیشنګ)، لال وسرځنګل (لعل و سر جنګل)، اسلام کلا (اسلام قلعه)، کلای نو یا نوې کلا (قلعهٔ نو)، کندهار (قندهار)، کندوز یا کوندوز (قندز یا قندوز)، ساکزی (اسحاق زی)، الیزی (علیزی)، دوتر (دفتر)، ساپی (صافی)، اپریدی (آفریدی) ، ګدون (جدون)...

۹- یوځای لیکل او جلا لیکل:
د ژبپوهنیز دوی (قاعدې) له مخې ټول ژبني توکي یا یوونونه (واحدونه) سره بېل بېل لیکل، په بله وینا ، د اړوند لیک سېستم له شونتیا سره سم، تر وسې وسې جولیز یووالی له مانیز یووالی سره غاړه غړې کول په کار دي. که هغه ازاد وییکي وي، لکه: سربلونه، وستربلونه او اړیوییکي (په، پر، تر، د ، له، سره، کې، پورې، ته... چې، که، او ، هم...)، که ساده وییونه وی، لکه: نومونه (کور، لوی، زه، ته، دی، دا ، هغه، یو، دوه...)، یاکړونه (تلل،خوړل، ځي، خوري...) او یا ترښتي (ترکیبي) او بېلښتي (اشتقاقي) وییونه وي، لکه: کټمل، پوهنمل، پوهنتون، مرستون، خپلمنځي، خپلچاری، خپلخوښی، ځانساتی، تلپاتې، پښتونولي، پښتونخوا ، ولسمشر یا هېوادمشر، بنسټپال، بېلتونپال، منځلاری، ترهګر، کتابتون، ټولپوښتنه، ټولوژنه، ځانوژنه، بلوژنه، لیکلړ، نوملیک، برخلیک، برخوال، پانګوال، پانګواکي، ځمکوال، ځمکواکي، ځمکسمون، ژبپوهنه، ټولنپوهنه، لرغونپوهنه، وییپوهنه، وییپانګه، وییزبرمه، سونتوکي، لرغونتوکي، مخنیوی ، مخکتنه، کتنپلاوی، لاسلیک، لاسلیکول، لوستلیکی (درسي کتاب)، مخامخول، مخامخېدل، مخبېلګه، وړاندیز، وړاندوینه، وړاندبینه، ترینکوټ، لوبغالی، لوبغاړی، لوبډله.

په دې لړ کې له دوو وروستیو توکیو (نومونو او کړونو) سره د ړومبیو هغو (ازادو توکیو) یوځای لیکل کره نه دي، لکه:
لخوا ، لما ، پکور (کې)، پخپل (هېواد کې)، غزنیته (ځم)... ، نخورم، نکوم، نلرم، مخوره، مکوه...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوا (قبل، قبلا)، پخپله (شخصا) ځکه سم راځي چې خپلواک وييونه (قيدونه) دي، ځانته - ځان ته او مخکې- (په) مخ کې سره هم په ورته دليل توپيربږي. «بلخوا» له «يوخوا» سره د اړيکوييکو په توگه همداسې يوځای دود مونډلی دی.

يو لړ وييکي سره په خپلو منځو کې يا له خپلواکو توکيو سره ځکه يوځای ليکل کېږي چې د يو يوازېنې چار يا مانا لپاره سره په غونډله (جمله) کې تل پرله پرله پېيلي راځي، لکه: پکې (درآن)، همدا، همدغه، همدی، همده، همدې، هماغه، همداسې، هماغسې يا همغسې، همدارنگه، منځته راوړل، منځته راتگ، رامخته کول، لاسته راوړل، لاسته راوړنه، پايته رسول، لپاره، نشته، يا په (سترې مشي، خدای مکړه يا خدای دې نکړي) غونډې گړنو او ځرگند نو کې وييکي (مه، نه) له کړونو سره يوځای ليکل هم همداسې درواخله!

که نه، د ټوليز دوی يا قاعدې له مخې د غه دوه توکه له کړ سره نښلول سم نه دي اوبايد جلا وليکل شي، لکه:

نه خورم، نه خورو، نه کوم، نه کوو، نه لرم، نه شم کولای، يا کولای نه شم، ونه شم کولای، را به نه شم، وابه نه وړم... . دلته کېدای شي، د ليک اسانتيا لپاره يوه نيمه بېدويي يا استثناء ومنو، لکه پاس په ياد شويو، او يا په (وانخلم، رانغلم، رانغی) غونډې دودو بېلگو کې.

له اوسنيو کمپيوټري اسانتياوو او بيا د «يوې- کره پښتوليکلارې» دننه د کره ټولمنلې پښتو ابېځې پر بنسټ رامنځته شويو کيبورډو سره په کارده، په يو يو وت (space) سره د هرې کربښې يا غونډلې دننه په يو يو وت (space) سره د بېلابېلو لويو او کوشنيو توکو تر منځ ليکنی بېلوالی او خپلواکي ښه ترا سمباله کړو.

۱۰- په پښتو کې د نورو ژبو پوروييونه له ژبپوهنيز او نړيوال دود و دوی پر بنسټ تر کېدونه له پښتو وينگ او لړوډېر مانيز اړونگ سره راخپلول په کار دي، لکه: گاډی (گاړی)، ماشوم (معصوم)، شمه (شمع)، تمه (طمع)، کيسه (قصه)، پوځ (فوج)، سبا (صباح)، ميرات (ميراث) د تباه او برباد په مانا، کرار (قرار)، سهار (سحر)... . پيل، توپان، اپت، تم، تپوس، پرښته، پراخ، خپه، خپگان، کميس يا کميز، مانا، دين، شېر (شعر) او يو لړ نور داسې وييونه د ډېرو آرپوهانو (اېټېمولوجېستانو) د څېړنو له مخې نا عربي يا عربي شوي (معرب) گڼل شوي او يا هم ټکرويي (تصادفي لغات) زباد شوي دي.

۱۱- «ځ» دپښتو په څلورگونو گړدودي ډلوکې د(ښ، څ، ږ، ژ) تر څنگه له شمال ختيزې هغې څخه تری تم شوې او له همدې کبله يې اړوند ليکوال په ليکدود کې زياتره ټکني کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغلته چې باید ځ ولیکل شي، ز لیکي او چېرې چې ز ته اړتیا وي، هلته ځ کاري، د ځ پر ځای ز، لکه په: غزېدل، خوزېدل، وزي، زلېدل، زیرک...کې؛ د ز پرځای ځ، لکه په: ځوی، ځوی ځات یا ځوځات، ځېرېدل، ځانګو، ځانګل یا ځنګل، ځنګول، ځنګېدل، یوائې، ځما ، ځمور، ځګېروی (زېېرګی هم ناکره دی)، سلېمانځی، قتیل ځوی... . که څه هم په یو لړمنځنیو ګړدودو، لکه د خروټو ،اندړو او وردګو په هغوکې یې څه ناڅه وینګ هم شته، خو د لږه کیوالي له کبله له آرومعیاره غورځي.

د اروابناد استاد الفت دا خبره ، که څه هم پر ژبپوهنه برابره نه ده چې:« ځ ځوک په خوله نه وايي، نو لیکل یې څه په کار دي!»، خو دومره بېځایه لیکل یې هم په کار نه دي ، لکه څومره چې د ساپي پښتو مرکز «خوږیانۍ ورونو او وریرونو» او قلمي همکارانو تازه رادود کړې ده ! د دې لپاره د «یوې- کره پښتو لیکلارې» پر بنسټ د «ځ» کارونځایونه په لاندې ډول لنډېزمومې:

- د تلل، وتل، راوتل، ننوتل، پرېوتل، پورېوتل، کښېوتل، پرتل، پرانېستل یا پرانېتل... «ت» په وسمهال کې پرځ اوړي، لکه په:
ځم، وځم، راوځم، ننوځم، پرېوځم، پورېوځم، کښېوځم، پرځم، پرانېځم ... کې.
هرګوره ټول (- ت -) والا کړونه دا مهالي بدلون نه مومي، لکه: نتل، کتل. . ختل پر خېژي، کوتل پر کوژي، نغوتل پر نغوژي... اوړي. دغه راز د «ځ» لرونکي ګړدود والا کندهاري لیکوال هم په پاسنیو کړونو کې یونیم په «ز» کاري، لکه: وزي، پرانیزي!
- له خپلوانو ژبو سره د همرېښه وییونو د «ج» پر وړاندې پښتو «ځ» راځي، لکه په:
- ځمکه (هندي جماکه، پارسي زمین)، ځنګل (هندي، پارسي او انګلیسي جنګل)، ګاځره (هندي ګاجر)، ځای (جا ، جای)، ځوان، ځلمی، ځک (جک)، ځښت (زشت)، ځنبل (جنباندن)، ځولۍ (جولی)، ځور (جور)، ځلېدل، ځل، ځلا (جلا)، ځلوبۍ (جلبي)، ځوږ (جوش)، ځیګر، ځنکدن، زنځیر یا ځنځیر...
. دا هم هېرول په کار نه دي چې هره پښتو ځ د پارسي له ج سره یومخیزه ایټېمولوجیکي مخامختیا نه لري، بلکې لږوډېر له نورو فونیمونو سره هم انډولتیا مومي، لکه په: نمونځ یا لمونځ - نماز، ځیرک- زیرک، ځمکه- زمین، روځ یا ورځ- روز... کې.د «د» پروړاندې، لکه په ګردیدن- ګرځېدل کې. ځواب له عربي جواب څخه کېدای شي، پښتو له پارسي لارې راخپل کړی اوسي.
- د تونروستاړي (مکاني لاحقې)، په بله وینا، د - ځای، - ځی او یا - ځ په توګه، لکه په:
رغځی، دمه ځی، مېله ځای، پخلنځی، دریځ، ختیځ، لویدیځ، اوریځ، مینځ یا منځ، اخځ، ترخځ، چورلیځ (محور)، ګهیځ (د مهالروستاړي په توګه)؛ رېبځ یا ربځ (جاروب، برس) هم د دغې لړۍ اړوند برېښي.
- په ګړدودي ځېلونو (وارینټونو) د «ز» او «ج» پر وړاندې «ځ» کره راځي، لکه په:

(c) ketabton.com: The Digital Library

جاله- ځاله، زلمی- ځلمی، گونجې- گونځې یا غونځې، نا نزړه - نانځړه، جار- ځار، جرنده - ځرنده یا ژرنده، جندره- ځندره یا ژندره، زمکه - ځمکه (نه مزکه او مځکه)...کې. ختیز او لویدیز له آره د ځتیځ او لویدیځ د ستاینومونو (ختیځیزاو لویدیځیز) لنډیزونه دي او په کار ده، لیکوال د دغه لیکدودي توپیر خیال وساتي!

۱۲- په ډېرو خپلو او پردیو وییونو کې تر چ ،څ د کره لیکلارې او لیکدود ښکارندویي کوي، لکه په: څښل (چښل) څښاک، څټک، څګ (ګوړه)، څوکۍ، څپلۍ، څله (د ژمي یا واده)، څمڅه، څمڅۍ، څمڅوکۍ (کاشوغه)، خرڅ (خرچ، خرچه)، څڅۍ (ناوه)، څرمه (چرمه)، څرم، څرمن، څرمي، څرمني، (پس) کوڅه، نڅوړ، نڅوړل، سمڅ یا څمڅ، څرمښکۍ، څمڅاره، څنۍ(نه سنۍ)، څوباړی (نه سوباړی)، څېره (نه چېره یا چهره اوڅهره)، څیرل، څیرې، څیرله (ریتاړه، پرزه)، اڅکزی

۱۳- «چې» د (چه، چي، څې) او «کې» د(کښ، کښې، کښي، کي) پرځای کره منل شوې دي.

۱۴- ځینې د (بعضې) او ځنې د (څخه، ورڅخه، ترې) په مانا توپیرول په کار دي.

۱۵- یو لړ وییونه او نومونې چې لرو پښتو لیکوالو زیاتره له انګرېزۍ او څه ناڅه (د اردو له لارې) له پارسي او عربي، او برو له ببلاببلو ژبو په ببلاببلو بڼو راخپل کړي او راخپلوي، یوازېنۍ هواری به یې دا وي چې پښتو نوې رغاونې (نیولوجېزمونه) یې ځای ونیسي، لکه:
بیالوجي، بیولوجی، بیولوژي، بیولوګي (ژوند پوهنه)، لنګویستیکز، فلالوجي، لسانیات (ژبپوهنه)، سوسیالوجي، سوسیولوجي، سوسیولوژي، سوسیولوګي، اجتماعیات (ټولنپوهنه)، سوسیاټي، سوسیټي، جامعه، معاشره (ټولنه)، ډیماکراسي، ډېموکراسی، د موکراسي، جمهوریت (ولسواکي)، کلچر، کلتور، کولتور (فرهنګ، هڅوب)، موومنټ، تحریک، حرکت، جنبش( غورځنګ)، نشلېزم، نېشلېزم، ناسیونالېزم (ولسواله).

۱۶- «ګ » چې له بده مرغه کوزه خوا دود لري او زموږ کمپیوټر پوه نورحمان لېوال هم د یوې بې سروبوله انګېرنې له مخې د خپل «ایشیا سافټ» پر پښتو ابېڅې را تپلی دی، نه یوازې له تخنیکي- اقتصادي، بلکې له ژبپوهنیز پلوه یو خورا ناسم کار دی. ځکه «کړی» یا د پېښوریو په نومونه «کونډه» د غبرګژبیزوالي ښکارندویه ده او زموږ پخوانیو، اګاهانه یا نا ګاهانه د څلورګونو پښتوغبرګژبیزو غږونو(ټ، ډ، ړ، ڼ) لپاره رامنځته کړې ده چې له وینګ سره یې رښتیاهم ژبه په خوله کې راکړۍ کېږي. دا ښه شوه چې تر څنګه یې د اجمل حمزه، ایمل پسرلي او نورو نوښتګرو د ښاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لېوال ټيکه والي نوره ننګولي او د پارسي او اردو په ګډون يې هماغه پخوانی«برنی» هغه (( ک )) پښتو پروګرام ته راننه اېستی دی او ورځ پر ورځ دودېدنه مومي. اېمل، هرګوره، بیاهم د کوزنیو په پېښو د زورکي (همزه) ټينګ ساتلی دی!

۱۷- د کابل پښتو ټولنې د ناسمو ليکدودي پرېکړو يوه بېلګه دا وه چې د پارسي (بود- بودند، بوديم) پښتو انډولونه (و- وو- وو) وکښل شي او په دې توګه يې ما هم د ډېريو برنيو ليکوالو په لاروی، د دودوالي او يووالي پر بنسټ په خپلو لوستليکيو او بيا کره پښتو ليکلار او ليکدود کې دا درې لسيزې همداسې خيال ساتلی وو. خو په دې وروستيو کې چې دغه کتابونه مې د بيا چاپ لپاره تر نوې کتنې ، کرونې او بشپړونې لاندې ونيول، د نوې پښتو غړېوهنې له آر و معيار سره سم مې د يوګړې دريم وګړي، يا په دوديزه - ملايي نومونه (مفرد غا ئب) « وو»، ډېرګړی يې «ول»، يا د(- ل) په غورځونه « وه » او ډېرګړی لومړی وګړی (جمع متکلم) پرهماغه زړه بڼه «وو»، يا د(ول) په آره ګرداني بڼه «ولو» کړ.

«ول» د پارسي«بودن» د انډول په توګه يو ژوندی کړ(فعل) دی او د نورو کړونو په څېر يې ګردانول په کار دي، لکه له تلل څخه:

تلو (لنډيز: ته)، تلل يا تله او تلو... . ړومبی اوږد - و( o) او دويم (لنډ- و u) وګړيزې پايلې ( personal endings) بلل کېږي چې په ملايي ژبپوهنه کې ورته هسې بېځايه «متصل ضميرونه» وايي. د (بود) انډول هم په دې(وو) کره راځي چې ړومبی(و) د کړبنسټ په توګه يو کنسوننټ يا معدوله و(w ) دی او دويم د يوګړي د پايلې په توګه يو واوېل (اوږد و o ) دی او بې له دې ړومبی کنسوننټي هغه هېڅ ويل کېدای نه شي. د(بوديم) انډول(وو) ورسره په وينګ او غږيزليک توپيرېدای شي، ړومبی (و) د کړ بنسټ په توګه کنسوننټ (w) دی او دويم د ډېرګړي لومړي وګړي پايله يو واوېل (لنډ وu) دی.

په هره توګه، زموږ په نيمګړې عربي آري ليک سېستم کې له دې نوي ليکدودي سمون سره سره بيا هم لوستونکی اړ وځي، د وړاندې وروسته توکيو له مخې يې سم ولوستلای شي.

۱۸- شو (شد) او شول (شدند) په لړ کې چې د ويونکيو د ډېري د آر پر بنسټ د (سو) او (سول) پر وړاندې کره ارزول شوی دی، شوو د (شديم) يا(شدند) د انډول په توګه له دوو (وو) سره کښل، بېځايه دي، ځکه ، لکه چې پاس وويل شول، هماغه ړومبنی لنډ- و وګړيزه پايله رغوي، دويم ته هېڅ اړتيا نشته. که په دې موخه پښتو ټولنې يا بل چا رادود کړی چې له يوګړي اوږد - و سره يې توپير وشي، هم کوم آر نه شي ګڼل کېدای، که نه، په کار ده چې هرچېرې د لنډ - و لپاره غبرګ (وو) وليکل شي،لکه په (يو، ځو، ربېو...) يا په نومونو (ټټو، لاټو، ډېپو، لاهو...) کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹- د لرې پښتونخوا ليکوال او وياندان بايد د(ږ- ګ)،(ښ- خ)،(څ- س)، (ژ- ج) او (ځ- ز) توپير سره وکړي: نه سترګې (سترږې) وليکي، نه کېږي (کېګي) او داسې نور، که څه هم په ګړدودو کې يې د څلور واړو (ږ، ښ، ځ، څ) وينګ له منځه تللی او له ليکوالو او وياندويانو يې هم د اداينې تمه نه شي کېدای، خو د ((يوې-کره پښتو)) په پار يې بايد تاريخي آروالی په ليک کې خوندي وساتي.

۲۰- که پردي او په تېره، عربي وييونه څوک له کره پښتو«شوي» وينګ او ليکدود سره سم ليکل غواړي، ورته اړينه ده چې يو مخيز يې را پښتو کړي، لکه: فوج د فوځ او فوز پرځای (پوځ)، فرشته د فرښته پرځای (پرښته)، قصه د قيصه پرځای (کيسه)، شمع د شمعه پرځای (شمه)... . همدارنګه که (صاحب) اله ماله کارول کېږي، نو د (صيب) منځغړوپ وينګ او ليکدود څه په کار! څه مهال له مخه يوه وياند (صحاب منصب) کښلی وو او ښا يي همداسې يې اورولی هم وي، نو ولې يې اسان او ساده انډول «افسر» و نه کارول شي چې د (تاج) په مانا هم آريا نې بنسټ لري او هم له انګرېزي (آفېسر) سره اړخ لګوي. بره خوا کلونه کلونه مخکې له سرتېري (عسکر) اوکارمن (مامور) سره يوځای رادود کړ شوی وو، خو اوس ورسره د بي بي سي پارسي ځپلو پښتو وياندانو په پېښو دا نور دوه وييونه هم بيرته عربي انډولو ته اړول شوي دي.

۲۱- تر ټولو وروسته پر کښښيو وياندانو بيا هم ټينګارپه کار دی چې د اردو مسخه او مېکسډ ژبې او ليکدود په پېښو پښتو ژبه او ليک په بېخرته (زورونو، زېرونو او همزه ګانو) انجړښنجړ نه کاندې، بلکې پر ليکه (افقي ) اوډون ډېر زور واچوي، په بله وينا، واوښلې توري همداسې ساده او بې خدوخاله (و،ا، ی، ې، ي، ۍ) وکاږي.د (زېر) پرځای (ې) او د (پېښ) پرځای (و) وکاروي، که څه هم ځای ډېر ونيسي او کرښې زياتې وغځېږي . بره خوا، ان د پښتوټولنې په دېرشمو لمريزو کلونو کې پر دغه آر ټينګار شوی وو، لکه په دې بېلګو کې:
ګومان، ګومارل، خوله، کوچنی (کوشنی)، غوټۍ، غونچه، موسکا، موسکی، پوخلا، پوخلاينه، خورما، توند، توکم، توخم، اوتمانخېل، کونړ، اورزګان يا ورزګان (ارزګان)، کوندوز يا کوندز، کولپ...، ګيله، څېرمه، ګيلاس، اورګان، رومان، کولتور، دوکتور، کلينيک، ټېکېټ، ژورنالېست، ژورنالېزم... . (پوره څرګنداوی<پښتو ليکلاربود).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویم څپرکی

## ټکي پر ټکي یې مه راژباړئ!

هره ژبه د یوې ټولنیزې ښکار ندې (پدیدې) په توګه له خپلې اړوندې ټولنې سره سمه راپیدا کېږي، ورسره پر مختیا مومي او ورسره له منځه ځي. کومې اغیزې چې له نورو ټولنو څخه یوې ټولنې ته لار پیدا کوي، هرومرو پکې ژبنۍ هغه هم راځي . ځکه ژبه یا ژبې د هر راز ټولنیزو اړیکو د ټینګولو تر هر څه غوره وسیله ده او د هغو په سر کې ځای نیسي . پښتو ژبې هم تل د خپلې اړوندې پښتنې ټولنې په ټول بشپړتیایي بهیر کې په زړه پورې برخه اخېستې او په دې ترڅ کې یې د نورو ګاو نډیو ټولنو د ژبو اغیزې پر ځان منلې او خپل اغیزې یې هم پرخپل وار پر هغو ښندلې دي . په دې کې خو څه اړنګ (شك نشته ، څنګه چې د ټولنو ترمنځ اړیکي او اغیزې د اړوندو ټولنو د پرمختیا او بشپړ تیا بهیر چټکوي ، هماغسې یې د اړوندو ژبو تر منځ اړیکي او اغېزې تر هغې پورې دغه راز ګټې لري چې د اړوندو ټولنو او ژبو اکرووکر (هویت او ماهیت) له خطر سره مخامخ نه شي. که نه ډیرې ستونزې او ربړې رامنځ ته کوي . تر اوسه لا په بشري نړۍ کې داسې ټولنه نشته چې په خپله خوښه په یو مخیز او بنسټیز ډول د بلې ټولنې بڼه ځانته غوره کړي او خپله هیره کړې، هسې خو نوې علمي نړۍ جوته کړې ده چې بشري نړۍ د یو کیدنې خواته ځي او یو وخت به د پرمختیا او بشپړ تیا یوه داسې پړاو ته ورسېږي چې هلته به هر راز ټولنو ټیز، سیاسي، فرهنګي او ژبنۍ بریدونه ړنګ وي، خو تر هغې پورې اړینه برېښي چې په دې لړ کې هره ټولنه خپله ژبه و پالي او تر وسې وسې یې د نورو د اغېزو پر وړاندې خپل آروالی او لږ تر لږه لیکنی یووالی خوندي وساتي .

پښتو ژبه په له منځنې پېر راهیسې زیاتره له هندي فرهنګ او ژبو څخه آغېز منه شوې چې غبرګژبیز والی (ټ ـ ډ ـ ړ ـ ڼ) یې غوره بیلګه ګڼل کېږي او تر هغه راوروسته یې له خپلو نژدې خپلوانو او ګاونډیو ژبو (لکه پارسي او ـ تورك و مغولي) او بیا له عربي او اروپایي ژبو څخه ډیر لغوي او ګرامري او اصطلاحي رنګونه اخېستي دي چې په ورځینو خبرو اترو، لیکنواو خبرونو کې یې ډیرې بیلګې جوتولای شو. په دې لړکې ځینو د پښتو ژبې له بڼې سره داسې اړخ لګولی دی چې رغاونې ته یې دومره زیان نه دی رسولی، مګر ځینې ورسره داسې نا انډوله او ناباندې برېښې چې ورسره هډو هېڅ د منښت او راخپلونې (اډا پتېښن) وړتیا نه لري. لکه: له ... څخه کتنه کول، له ځانه مېړانه ... ښوول ، تصمیم نیول، تماس نیول ، اخطار ورکول، پاتې کېدل یا کښېناستل (اوسېدل)، په عمل کې پلی کول، صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library

موندل ، کوم چې، چا چې ... ترڅو چې او داسې نور. له همدې کبله لیکوونکي تل زیار ایستلی چې د دغه راز زیانمنو پېښو د مخنیوي لپاره لار ښونې وکړي او داسې انډولو نه ورته پیدا کړي چې د پښتو له لوښې او رغاونې سره اړخ ولګولای شي، هغه هم د بیلابیلو ګړدودو (لهجو) او زړو متنو په مرسته. د ساري په ډول د(تصمیم نیول) پرځای (پتېیل)، د تماس نیول پرځای اړیکه ټینګول، د (اخطار یا خبرداري ورکول) پرځای (ګواښل، ګواښنه کول) او داسی نور.

په پښتو کې دغه راز ټکي پر ټکي ژباړنې تر بلې هرې ژبې له مخه له دوو نژدې ګاونډو ژبو اردو او پارسي، یا په درغلي نامه «دري» څخه راروانې دي. نه یوازې د ژباړونکو، بلکې د لیکوونکیو او ان غږېدونکو او ویاندانو له خوا. د اهم جوته ده چې زموږ پښتو ژباړونکي او پښتو لیکوونکي زیاتره، نه پر خپله کره ژبه دومره لاسبری لري او نه پر اړوندو همغاړو ژبواو زیاتره د ژبنیو تو کونو یوه مانا په پام کې نیسي، نه څو ماناوې، لکه زدن پروهل، شاندن پر کښېنول، بردن پر وړل او داسې نور راژباړي.

دلته په دغه لړ کې غواړم، ګران ژباړونکي او یا لیکوونکي هغو باریکیو ته ځیر کړم چې د لیکنې او ژباړنې پر وخت یې په پام کې ولري. د دې کار لپاره مې تر هر څه ړومبی دا غوره وګڼله، د پښتو - پارسۍ او په ترڅ ترڅ کې پښتو - اردو ترمنځ د ځینو ورځنیو ډېر پېښو وییونو (لغاتو) او ګړنو (محاورو) بیلګې وړاندې کړم او بیا په ځانګړي ډول د پښتو - پارسۍ هغه له یو لړ زیاتو بیلګو سره د درنو مینه والو مخې ته کښېږدم. او دا وروښیم چې کومې یې سره یو له بله انډول کېدای شي او کومې نه.

دا دی ، په وروسته ډول د راز راز پارسي وییونو او نومونو پر وړاندې لومړی ناسم او بیا سم وکره پښتوانډولونه وړاندې کېږي :

۱- (- دار) والا پارسي جوړښتونه چې په پښتو کې زیاتره پر «لرونکی» اړول کېږي، خو د تېرو آرونو له مخې دومره کره نه برېښي :

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| زمیندار | ځمکه لرونکی | ځمکوال |
| سرمایدار، پولدار | پانګه لرونکی | پانګوال |
| سردار | سردار | سروال، سردار |
| پاسدار | ساتونکی | پاسوال |
| شهردار(شهرداری) | د بلدیې رئیس | ښاروال (ښاروالي) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| چوکیدار (پهره دار) | پیره دار | څوکیوال |
| مشعل دار | مشال لرونکی | ډیوه وال، بلینډه وال |
| گرویدار | گروي لرونکی | گاڼه وال |
| باغدار | بڼ لرونکی | بڼوال |
| مرغدار | چرگان ساتونکی | چرگان روزی |
| وطندار | وطنوال | هیوادوال |
| دامدار(مالدار) | مالدار | څاروي ساتی، پوونده |
| علاقه دار | علاقه دار | سیمه وال |
| آبدار | اوبه لرونکی | اوبلن، اوبه والا ، خوندور |
| وظیفه دار | وظیفه لرونکی | پازوال |
| عکس دار (مصور) | تصویري | انځوریز |
| بالدار | وزر لرونکی | څانګور |
| برخوردار | برخه لرونکی | برخمن |
| فرماندار | د پولیسو قوماندان | پولیس بولندوی |
| پشت کار دار | کوششی | هڅاند ، زیارکښ |
| صلاحیت دار | صلاحیت لرونکی | واکمن، واکوال |
| رشته دار | رشته دار (پښتونخوا = خپلوان) | څانگوال |
| سرشته دار | لوژستیکي افسر | کارساز، پرپڼی |
| شاخدار | ښکر لرونکی | ښکرور |
| طرفدار (جانبدار) | طرفدار | پلوي |
| ساقدار | کری بلند | اوږد پوندي (بوټ) |
| ریشدار | ږیره لرونکی | ږیرور |
| نمره دار | نمرې والا | شمېره ییز |
| باردار | بارلرونکی | باري |
| زمامدار | واکدار | واکمن، چارواک |
| جهاندار | د جهان څښتن | نړیواک |
| بهره دار ـ برخوردار | گټه اخېستونکی | گټه من، برخمن |
| پنجه دار | پنجاوو | منگولور، ښنور |
| گوشتدار | غوښه لرونکی | غوښن، غوښور |
| استخواندار | هډوکی لرونکی | هډن، هډور |
| نشاندار | نښاندار | نښه (شوی) نښاني |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پهلودار | اړخ لرونکی | اړخن، اړخيز |
| بردار | عريض | پسورور |
| منصبدار/صاحب منصب | منصبدار | افسر، پوځي |
| مهماندار | مېلمه لرونکی | مېلمه پال |
| لعاب دار | لعاب لرونکی | زومنمن، لېړن |
| مردم دار | مردم دوست | وګړپال، ولسپال |
| لبه دار | حاشيه لرونکی | څنډن، څنډيز |
| خانه دار | کورلرونکی | کوروالا، کډوال،کډن |
| حامله دار | حامله داره | بلاربه، دوه ځاني |
| زن دار | متاهل | واده والا، کوروالا، ښځی والا |
| ميوه دار | ميوه لرونکی | مېوه يي، خولخوندی |
| موتردار | موټر لرونکی | موټروالا، ګاډي والا |
| تفنگدار | ټوپك لرونکی | ټوپك والا، ټوپکوال |
| عزادار (سوگوار) | ماتم کوونکی | ويرمن، ويرجن،وير ژلی |
| پيسه دار | پيسه لرونکی | پيسه والا، شتمن |
| نمدار | نم لرونکی | نمجن، وسجن |
| مالدار | مالدار | پوونده، څارويوال، څارويروزی |
| پشم دار | وړۍ لرونکی | وړين، وړن |
| مو دار | وېښته لرونکی | ببر (وېښتی) |
| روزه دار | روژه لرونکی | روژه تی |
| شب زنده دار | شوگير کوونکی | شپه ويښی (روڼی) |
| گلدار | گلدار | گلالی |
| کينه دار(کينه توز، کينه جو، کينه خواه) | کينه کښ | گرجن، رخن، کينه ناك |
| خالدار (نقطه دار) | خالدار | ټکيالی، ټکن، ټکی ټکی |
| مزه دار | مزې دار (پ) | خوندور |
| روغندار | روغن دار (پ) | غوړ (بوټي، خوراك) |
| پرچمدار(علمدار) | بيرغ والا | سرغندوی، مخکښ |
| ديندار | ديندار | دين دوست |
| امانت دار | امانت دار | امانت گر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پایدار | دوامدار | پاینده، پایښتي، ټینګ |
| نادار | نادار | نېستمن، نشتمن |
| ګره دار | غوټه لرونکی | غوټن، غوټیالی |
| زاویه دار | ګوټ لرونکی | ګوټن |
| جریحه دار | ټپي | زخمي زړی،ژوبل |
| شکمدار | خپټه لرونکی | بلاربه، دوه ځانې |
| حواله دار | اولدار | کوټوال |
| کیسه دار | کیسه والا | بټوه والا، تیور یا غولانځور (ژوی) |
| تحویلدار | تحویلدار | زېرمه وال |
| خزانه دار | خزانه دار | خزانه چي |
| قرضدار | قرضدار | پوروړی |
| وادار(کردن) | مجبورول | اړېستل |
| نامدار | نوم لرونکی | نومور، نومړ، نومیالی، نامتو |
| واګیردار (فراګیر) | ساري | پمند، پمګر (رنځ) |
| مریضدار | ناروغ لرونکی | ناروغ والا، ناروغوال |
| اجاره دار | اجاره لرونکی | اجاره والا |
| هوشدار | اخطار | ګواښ، ګواښنه |
| شاندار، شکوهمند، پرشکوه | شاندار | پرتمین، برمیال |
| لحاظدار | لحاظ لرونکی | مخ ماتی |
| کوهاندار | کوهان لرونکی | کوهانی، کوپانی، ډاګیز |
| نګهدار | ساتونکی | ساتونکی، ساتندوی |
| معلومدار | معلومدار | ثرګند، ښکاره، جوت، اوښار، ډاګیز |
| مخزن دار | ټانکر | زېرمه ګاډی |
| دارومدار | دارمدار | ناسته ولاړه، ناسته پاسته، چال چلند |
| زهردار | زهر لرونکی | زهرجن، زهر ژلی |
| کاردار | مامور | کارمن |
| رازدار | راز لرونکی | خوالو، خوالګر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| دلدار | زړه لرونکی ـ زړه ساتونکی | مین، مینه وړی، زړه ساتی |
| رویدار | رویدار | مخور |
| لکه دار | لکه لرونکی | رټن، رټه |
| دمدار | لکۍ لرونکی | لکیور |
| دمدار | سا لرونکی | ژوندی، ساکښ |
| دوامدار | دوامدار | پرله پسې، پایند |
| خود دار(خودداری) | ځانساتونکی | ځان پامی، ځانخاری (ځانخارنه) |
| خویشتن دار (خویشتن داری) | - | ځان پامی، ځانخاری (ځانخارنه) |
| خط دار | خط والا | کرښې کرښې، کرښن |
| دوستدار(هوادار) | طرفدار | مینه وال، لېوال، دوست |
| عهده دار | ذمه وار | ژمن، پازوال |
| بیدار | بیدار | ویښ، ویښیار |
| دامنه دار | دامنه دار | لمنیز، ارت وبیرت، پاینده |
| کتابدار | کتاب لرونکی | کتاب والا، لیکیوال |
| واره دار | واره لرونکی | واره یي، واره ییز |
| خاردار | اغزي لرونکی | اغزن، اغزین |
| معامله دار | معامله لرونکی | پالونکی، انډیوال |
| سرایدار | د سرای خاوند | سرایوان، سرای والا |
| دکاندار | دوکاندار | هټیوال |
| مغازه دار | د مغازې لرونکی یا څښتن | مغازه والا |
| برده دار | مریی لرونکی | مریي وال، بادار |
| پرده دار | پرده لرونکی | پرده پوښ |
| صلاحیت دار | صلاحیت لرونکی | واکمن، واکوال |
| سابقه دار | سابقه لرونکی | مخینه وال |
| هوادار(هواگیر، هواخواه) | هوادار، هواگیر | تاندهوا، مینه وال |

۲- په - گر - روستاړي پارسي جوړښتونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

-گر که څه هم د جولې له مخې د پارسۍ او پښتو تر منځ ګډون لري او یو فاعلي (چارنومیز) روستاړی دی، مګر دېته هم پاملرنه په کار ده چې پښتو لږ و ډیر د پارسي - ګر، په تېره د ایراني پارسۍ د نوو هغو پر وړاندې نور خپل ځانګړي روستاړي هم لري، لکه د کمایی ګر په وړاندی ګټیالی، د شیشه ګر پر وړاندی ښیښه ساز، د غمګر پر وړاندی غمجن او غمګین، د بازیګر پر وړاندې لوبغاړی، د تماشاګر پر وړاندې ننداړ چي، د نمایانګر - نمایشګر، بیانګر او نشانګر پر وړاندې ښکارندوی او څرګندوی، د یاری ګر پر وړاندې مرستیال، مرستندوی یا مرستی او یاد آهنګر پر وړاندې پښ او داسې نور. بزرګر د کشاور زاو دهقان په مانا په بزګر پښتو کول دومره سم نه راځي، ددې لپاره نږه پښتو انډولونه ډیر دي، لکه: کرګر، کروندګر، کښتګر، کرندوی، کروی، کښندی، کښی او داسې نور. دادی، د پوره خبرتیا لپاره دا وروسته لیکلړ و ګورئ:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| دروګر | ربونکی | لوګر، لوګری |
| کوزه ګر | کلال | کمباړ، کولال |
| کارګر | کاریګر | کارګر |
| سرکار ګر | د کارګرومشر | سرکارګر |
| بازیګر (ممثل) | نڅېدونکی | لوبغاړی، نڅاګر |
| نمایانګر | ښکاره کوونکی | ښکارندوی، څرګندوی |
| نمایشګر | ښکاره کوونکی | ښکارندوی، څرګندوی |
| بیانګر | ښکاره کوونکی | ښکارندوی، څرګندوی |
| نشانګر | ښکاره کوونکی | ښکارندوی، څرګندوی |
| تماشاګر | تماشاچي | ننداړچي |
| ایجادګر | ایجادوونکی | زیږندوی، پنځګر |
| عصیانګر | یاغي | سرغاړی، سرکښ، اورګډی |
| ګزارشګر | ریپوټ چي | خبریال |
| آرایشګر | سینګارونکی | ښکلونکی، ډمګۍ، نایښه |
| نظامیګر | نظامي ګر | پوځیوال |
| پرخاشګر | پرخاش کوونکی | جګړه مار، لانجه مار |
| آهنګر | اهنګر | پښ |
| زرګر | - | زرپښ، زرګر |
| مسګر | مسګر | ټتبار، سره ولېښکار |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| درمانگر | معالج | درمانگر، درملگر |
| نوحه گر (مریه گر) | فریاد کوونکی | ژړاند، ساندو |
| غارتگر/ تاراج گر | لوټوونکی | لوټمار، تالانگر |
| چپاولگر | چپاولگر | تاړاکگر |
| یورشگر | حمله کوونکی | یرغلگر |
| تجاوز گر | تېری کوونکی | تېرو، بلوسگر |
| پیکارگر | جګړه مار | جنګیالی، جنګیال |
| آشوبگر | - | اورپکی، اورګډی، سرکښ |
| طلسم گر | - | ټوټگر (درملگر) |
| استعمارگر | استعمارچي | کوډگر، ښکیلاکگر |
| استثمارگر | استثمارچي | زبېښاکگر |
| صورتگر | صورتگر | انځورگر، پژگر |
| نگارگر (رسام، نقاش) | رسام | انځورگر |
| توطیه گر | توطیه کوونکی | ورانکاری، پتنه گر |
| فتنه گر | فتنه اچوونکی | پتنه گر، پتنه |
| روشنگر | روشنگر | روښاندوی |
| ستیز گر (ستیزه جو) | جنګره | جګړه مار |
| معامله گر | معامله کوونکی | ورځچاری، چنه گر |
| افسونگر | افسونگر | دمگری، پاړوگر، جادوگر، کوډگر |
| رامشگر (نوازنده، سازنده) | سازغږوونکی | سازي |
| پرورشگر | پالونکی | پالنگر، پالندوی، پالوال |
| نیایشگر | عبادت کوونکی | نمانځونکی، پرښتونکی، پرښتگر |
| پژوهشگر | څېړونکی | څېړاند، څېړونکی، څېړندوی |
| کاوشگر | سروې کوونکی | پلټنگر، پلټند |
| ویرایشگر، ایډېټر | سموونکی | سمونگر |
| پالایش گر | تصفیه کوونکی | پاك کار، چاڼگر |
| اغواگر | اغواکوونکی | دوکمار، دروهجن، مارغیتل، درغلگر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| بخشایشگر | بخښونکی | بښونکی، بښاند |
| نوازشگر | نازوونکی | پالند |
| ستایشگر(مداح) | ستایونکی | ستایوال |
| رفوگر | رفوکوونکی | پېزونکی، پېزگر |
| جادوگر | جادوگر | کوډگر،جادوگر |
| تصویرگر | ممثل | انځورگر، انځوراند ، څرگندوی |
| اخلال گر | اخلال کوونکی | اورگډی، ورانکاری، منځډوبی |
| استیلاگر | تېری کوونکی | نیواکگر، بلوسگر |
| یورشگر (چپاولگر) | یرغل کوونکی | یرغلگر |
| یغماگر | چپاولگر | تالانگر، لوټمار |
| خیانت گر(خیانت کار) | _ | ناامانتگر |
| اشغالگر | اشغالوونکی | نیواکگر |
| اغازگر | پیل کوونکی | پیلگر، پیلامگر |
| اعتصابگر | اعتصاب کوونکی | کاربندی، کاربند گر |
| پالیز گر | پالېز ساتونکی | پالېزوان |
| پرداختگر | صیقل کوونکی | سوان کار، پالشکار |
| تمثالگر | رسام | څېره کښ، انځورگر |
| توانگر | شتمن | شتمن، موړ، بډای |
| تیز گر | تېره کوونکی | باټگر |
| جلوه گر | جلوه گر | څرگند ، جوله گر |
| چرمگر | څرمن جوړوونکی | څرمن ساز |
| چلینگر (قفل ساز) | کلپ جوړوونکی | جندره گر |
| حسابگر (راستگو) | حسابوونکی، محاسب | پاک زړی، گټگر |
| حیله گر | چلباز | ټگ، ټگمار، چلي |
| دادگر(دادگستر) | عدل پالونکی | نیاومن، نیاووال |
| دیباگر (ابریشم باف) | و رېښم اوبدونکی | ورېښمگر |
| رویگر (مسگر) | مسگر | ټټار |
| ریخته گر | تویوونکی | تویاند ، کالب ساز |
| زین گر (زین ساز) | زین جوړونکی | زین ساز |
| سفتگر | امېل جوړونکی | پېیونکی، پیاند |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| سوداگر | تجار | سوداګر |
| شستگر | غشي ویشتونکی | لیندی، ویشتونکی |
| شیوه گر (عشوه گر) | ناز کوونکی | ښیوه گر |
| فریبگر (فریبکار) | غولوونکی | مارغیتل، دوکمار، ټګمار، دروهجن |
| قلعه گر (سفیدگر) | سپینوونکی | ټټهار |
| کاسه گر (کوزه گر) | کاسه/کوزه جوړوونکی | خاورین ساز، کمباړ، کولال |
| کاغذگر | کاغذ جوړوونکی | کاغذ ساز |
| کالبدگر (پیکر ساز) | مجسمه ساز | پژگر |
| کفش گر (کفش دوز) | پڼې ګنډونکی | موچي،چمیار |
| گازرگر(گازر) | کالي مینځونکی | دوبي، ولاند |
| گداگر(درویزه گر) | ګدايي گر | درویزگر، سوالگر، بسپن غاړی |
| گوهرگر (جوهری) | جوهری | زرگر، گوهری |
| مداخله گر | مداخله گر | لاس منډی، لاسوهاند |
| منگیا گر (قمارباز) | قمار وهونکی | جوارگر |
| نیزه گر (نیزه ساز) | نېزه جوړوونکی | شلگر، سانگر |
| وجین گر(خیشاوه گر) | للون کوونکی | ګوډگر، للونگر |
| ورزش گر | ورزش کوونکی | لوبغاړی،ورزشکار |
| یاریگر | کومکي | مرستیال، مرستدوی، مرستی |
| کیمیاگر | _ | کیمیا گر |
| کمایی گر | ګټونکی | ګټیالی |
| پیداگر | پیداکوونکی | ګټیالی، پیداگر |
| ویرانگر | ورانونکی | ورانکار (ی)، اورگډی |
| ستمگر | ظالم | گرگر |
| بیدادگر | _ | _ |
| چاره گر (چاره ساز) | چاره کوونکی | چاره گر، کارساز |
| شناگر | لامبووهونکی | لامبوزن |
| تلاش گر | تلاش کوونکی | هڅند ، هڅاند |
| جستجو گر | _ | پلټند ، لټونکی |
| چاپ گر | چاپوونکی | چاپگر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| تهمت گر | تور لگوونکی | تورلگاو، توراند، تور گر |
| عشوه گر | ناز کوونکی | ښېوه گر |
| دژمگر(دلتنگ) | ډیپرېسډ(پ) | خولجن، گرومجن، زړه تنگی |
| لواطگر(بچه باز) | _ | (هلك) ډاگی |
| داشگر | خبنتې پخوونکی | بټوان، بټۍ وال |
| افشاگر | افشا کوونکی | اشواگر |
| امحاگر | امحا کوونکی | نشتاند |
| خنیاگر | _ | سندر غاړی، سرورگر |

۳- په -کار - روستاړی پارسي بیلنگونه (اشتقاقونه) له -گراو- گاروالا هغو سره دومره توپیر نه لري. له تاریخي پلوه دغه درې واړه روستاړي د پښتو او پارسۍ ترمنځ په یوې گډې آرې (منشا) پسې ځي او لا اوس هم دربواړه چارنو میزه (فاعلي) پاژه تر سره کوي، هم دومره چې تر پښتو یې په پارسۍ کې کارونه ډیره ده او د ځینو پر وړاندې یې پښتو نور ځانگړي انډولونه (لکه چار...) لري. پښتو زیاتره تر-کار-گر- ډیر کاروي او له دواړو سره لړو ډیر پایله (-ی) هم ملگرې کوي. دې ته هم پاملرنه پکار ده چې پارسي- کارد(کړن) پر ما ناسر بیره دکر او کښت هغه هم لري، لکه په پخته کار، پنبه کار او کشتکار کې. په ایرانی پارسۍ کې یې د - گر غوندې په لومړنۍ مانا کارونه بیخي زیاته ده او کله مانانو میز چار هم څرگندوي ، لکه په ریسمان کار (موازنه - رجه) یا شاهکار کې. پښتو ژباړونکي دواړه روستاړی پارسي انگیري او په ناسمه اوگرانه توگه یې پر- ونکی اړوي!

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| تجاوزکار | تجاوز کوونکی | بلوسگر، تېرو |
| جنایتکار | جنایت کوونکی | جنایت کار، بدکاری |
| خیانت کار(سگر) | خیانت کوونکی، خاین | ناامانتگر |
| ورزشکار | ورزش کوونکی | ورزش کار، لوبغاړی |
| جفاکار | ظالم | گرگر |
| محافظه کار | محافظه کار، زاړه پال | ځانساتی، کاغ |
| احتیاط کار | احتیاط کوونکی | ځانساتی، پامیالی |
| بیکار | بې روزگار (پ) | بېکار، وزگار |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| شب کار (شوکار) | _ | شپه کاری |
| سردمدار | _ | سرکښ، سروال |
| سنگ کار | _ | ډبرکار |
| سیمان کار | _ | سېمېنټ کار |
| بدکار | بدکار | بدکاری، بدوردی |
| نیکو کار (درستکار) | نېکي کوونکی | نېککاری، نېکچاری |
| شاهکار (شهکار) | کارنامه | شاهکار |
| گناهکار | ملزم | گناهگار |
| خامکار | _ | خامکاری |
| تازه کار | _ | تازه کار، نوکار(ـی) |
| نوبت کار | _ | وارگر(کارگر) |
| نوکار | _ | نوکاری، تازه کار |
| فراموشکار | هېروونکی | هېرزړی |
| کشتکار | دهقان | کښتگر، کرگر، کروندگر |
| هنرکار | تکنیشن | تخنیکر |
| پخته کار(پنبه کار) | پومبه کرونکی | پومبه کار |
| مزدورکار | زیار اېستونکی | مزدورکار، زیارکښ |
| غریبکار | غریبکار | مزدور،خواري کښ، مزدورکار |
| فداکار | فداکار | سرتېر، سرښندوی، نیکچاری |
| راست کار | نیك کار | رښتین، رښتینی، رښتیانی، نېکچاری |
| خلافکار | _ | ورانکار |
| افسونکار | _ | جادوگر، افسونگر، کوډگر |
| رضاکار | رضاکار | خوښچاری، خپلخوښکاری |
| سرکار | دولت، حکومت، رسمیات | سرکار |
| زناکار | زناکوونکی | زناکار |
| فریبکار | غوولونکی | ټگمار، دروهجن، مارغیتل |
| جعلکار(ساخته کار) | - | درغلگر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| دست اندر کار (دست در کار) | - | بوخت، بوختی |
| سیاه کار | بدفعله | تورکار، بدورد |
| استکار (دستکار) | - | وستاکار، ورهڼگر |
| پیشکار | ناظر | مخکاری |
| تباهکار (تبهکار) | تباه کوونکی | اورگډی |
| زیانکار مضر - ضرر رسوونکی | زیانکار | ورانکاری |
| خرابکار | خرابکاری | ورانکار، ورانکاری |
| خطاکار | خطاکوونکی | بدکاری |
| تمیزکار | ـ | پاك کاری، سپیناوو، ځیرمن |
| پشت کار | زحمت - کوشش | کاروزیار، هاندوهڅه |
| جعلکار (تقلب کار) | جعل کار | دروهجن، درغلند، درغلگر |
| کسبه کار | کسب کار | کسبگر، ورهڼگر |
| خرده کار | رر | رر |
| کهنه کار | زاړه پال | زوړکاری، زوړچاری، زوړپال |
| طلاکار | طلا کاری | زرگر |
| فضول کار | خرابکار | بدکار، سپك ورك، بدورد |
| کلانکار | کلانکار | سترچاری ،لوی چاری |
| وجین کار | للون کوونکی | گوډگر، للونکار، للونگر |
| پرکار | ـ | ډیرکاری، کارند |
| پرکار | پرکار | پرکال |
| خرکار | خرچلوونکی | خرکار، خروالا |
| چاریکار | دهقان | کروی |
| پایکار(پاکار) | ـ | مرستی، مرستندوی، مرستیال |
| آتشکار | اوربلوونکی | اورگډی، تودوونکی |
| بیکار | ـ | وزگار، بیکار |
| گلکار | گلکار | ختڼگر، اخېړگر |
| خودکار | خودکار | خپل چاری، خپل کاری |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | | (اتوماتیک) |
| کاستکار | – | دروغجن |
| کهنه کار | – | ازمېښتکار، پوخ ازمېښتی |
| فلزکار(فلزگر) | – | فېلزکار |
| ماشینکار | ماشین چلوونکی | ماشین کار |
| بسته کار | – | بسته کار (تاجیکی: اهنگساز) |
| ولدنگ کار(جوشکار) | وېلډېنگکار | ویلگر |
| سفیدکار(ـگر) | سپینوونکی | ټټار |
| برمه کار | – | برمه کار، تېځاند |
| پیکار | پیکار | جگړه |
| کاروپیکار | کاروپیکار | هلی ځلی، هاندوهڅه |
| نابکار (خطاکار) | ناهله | بدکاری، بدچاری، ناکاره، بدورد |
| ناکار | – | ناکار(ه) |
| غفلت کار (مسامحه کار، سهل انگار) | | ناغېړی |
| تیزکار | تېره کوونکی | تېز کاری، څرخ گر، باټگر |
| ریاکار | ریاکوونکی | ریاکار |
| ویرانکار (بیران کار) | – | ورانکاری |
| شبکار | شوکار | شپه کاری |
| روزکار | – | ورځکاری |
| فتنه کار | فتنه کار | اورگډی، پتنه گر |
| صنعتکار | – | رغاوگر |
| سوارکار | سوار کار | سپور، سپرلو |
| همکار | مرستیال | همکار |
| سوهان کار | – | سوانکار |
| دسیسه کار | دسیسه کوونکی | دسیسه کار، ټگ و برگ |
| میناکار(ـگر) | – | مینا کاری |
| کندکار | تنبل | سست کاری |
| کنده کار(کندن کار) | – | توږاند |
| ریزه کار | دقیق | ځیر |
| سرشته کار | سرشته کوونکی | کارساز |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| رویکار | - | ترکارلاندې، دود |
| هوسکار | هوسباز | هوسناک، هوسی |
| اجاره کار | اجاره کار | اجاره گر، اجاره والا، ټیکه وال |
| اجوره کار | - | مزدکار، مزدورکار |
| دستمزدکار | - | لاسباړی، مزدکار |
| نیلکار | رنگریز | (شین) چمبی |
| تجربه کار | تجربه لرونکی | ازمېښتي، ازمېښتکار |
| آزمایش کار | رر | رر |
| نهان کار | _ | پټ کاري، پټ چاري |
| اندود کار(اندودگر) | _ | پاک کار(ی) |
| اهمال کار | _ | لټ، ناغېړي، سستکاری |
| خیانتکار | خیانتکوونکی | خیانتکار |
| امانت کار | امانت ساتونکی | امانت کار، امانت گر |
| توبه کار | توبه کوونکی | توبه گار |
| تلف کار | تلفکوونکی | اورگډی، ورانکاری |
| تخریبکار | تخریبکار | ورانکاری |
| مرصع کار | _ | جړاوو |
| صلاح کار | _ | سلا کار |
| ستمکار | ستمگر | گرگر |
| سازش کار | سازش کوونکی | سازښتي، سازښتکاری |
| ساخته کار | ساخته کاری | درغلگر |
| مسالمت کار | مسالمت کوونکی | روغه وال، سوله ییز |
| مسامحه | _ | ناغېړي، لټي، سستکاري |
| مشتبه کار | اشتباه کوونکی | ختاکار، ورانکاری |
| هیچکاره | هیچکاره | هېځکاره، بېکاره |

۴ - په -گار روستاړی پارسي بېلنگونه ، لکه چې د (۳-کار) په برخه کې وویل شول ، هماغه ډول جوړښتونه رااخلي چې په -گراو- کار روستاړي کېږي. پښتو ښایي له (وزگار) او (ناگار) نه پرته بل داسې بېلنگ ونه پیژني، نو له دې کبله یې پر- گراو نورو ورته (چارنومیز) روستاړواړوي. دا دی ، نوموړي بېلنگونه په دې وروسته لیکلړکې وړاندې کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| خداوندګار | _ | خداوند |
| ماندګار | باقي | تلپاتی، پایند |
| ستمګار | ظالم | ګرګر |
| افګار | زخمی | خوږ، ټپی، ژوبل، غوځ |
| دل افګار(دل فګار) | زخمی | زخمي زړی، ځانګغوځ |
| تنفګار | زخمي | خوږ، ژوبل |
| روزګار | روزګار | ژوند، مهال، ورځې شپې |
| سازګار | موافق | سازکار، (سره) جوړ |
| ناسازګار | ناموافق | ناباندې |
| مددګار | _ | مرستیال، مرستندوی، مرستی |
| کامګار(کامیار_کامیاب) | کامیاب | بریالی، بختور، نېکمرغه |
| یادګار | یادونه | یادګار |
| آموزګار | ښوونکی | ښوونکی،استاد، ښوواند |
| آمرزګار | ببښونکی | ببښاند |
| آفریده ګار | خالق | پنځګر، پنځاند، پنځوال |
| کردګار | کردګار | کړاند ،کارندوی، کارواك |
| پروردګار | پروردګار | پالیال |
| توبه ګار (توبه کار) | _ | توبه ګار |
| خواستګار | _ | مرکچي، بلوني، غږښتونکی |
| بیګار | _ | بېګار |
| رستګار | خلاص | ژغورلی،ازاد، پخشو، زغړ |
| سپوزګار | تنبل | لټ، ناغیړی، سستکاری |
| خدمتګار | خدمتګار | خدمتګار |
| پرهیزګار | پرهېزګار | نمنځچار، پالوال |

۵ - په - ساز روستاړی پارسي بېلنګونه (اشتقاقونه) کېدای شي، لړو ډېر په پښتو کې هم پر - ساز روستاړي بېلنګو نووا وړي. ځینې پښتو لیکوال او ژباړن هغه د پارسي او پښتو ګډ مال نه بولي او هڅه کوي، پر (جوړوونکی) یې واړوي او په دې توګه پښتو انډول تر پارسي هغه اوږد او ګران کړي، لکه دوران جوړوونکی، ساعت جوړوونکی،جهان جوړوونکی، سرنوشت یا برخلیك جوړوونکی... چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید دورانساز یا دورانسازی، ساعت ساز یا ساعت سازی او داسې نور یې وژباړي. ځکه سازېدل او سازول له پښتو کړو(فعلونو) څخه شمېرل کېږي. دادی دلته یې څو بیلګې په لیکلړ کې وړاندې کېږي:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| خودساز | ـ | ځانجوړی، ځانسازی، غاور |
| اسلحه ساز | ـ | وسله ساز، درسته ساز |
| دورانساز | دوران جوړونکی | دوران ساز(ی) |
| تاریخ ساز | تاریخ جوړوونکی | تاریخ ساز(ی) |
| قفل ساز | کولپ ساز | ژندره ګر |
| کلیدساز | کیلي جوړوونکی | کیلي ساز |
| دواساز | ـ | داروساز، درملساز |
| زمینه ساز | زمینه جوړوونکی | لارهواری |
| جهانساز | جهان جوړوونکی | جهانساز(ی) |
| ساعت ساز | ساعت جوړوونکی | ګړیوال، ګړۍ ساز |
| صحنه ساز | صحنه جوړوونکی | نندار ښود |
| سرنوشت ساز | سرنوشت جوړوونکی | برخلیك ساز(ی) |
| بهانه ساز | پلمه جوړوونکی | پلمه ساز، پلمه ګر |
| زندگی ساز | ژوندجوړوونکی | ژوندساز(ی) |
| دندانساز | غاښ جوړوونکی | غاښ ساز(ی)، غاښ رغاند |
| شانه ساز | ـ | ږمنځ سازی |
| شمع ساز(شمعریز) | ـ | شمرغاند |
| حماسه ساز | حماسه جوړوونکی | میړنی،توریالی،بولنبول |
| باز ساز | سوخت وساز، مېتابولېزم | بیارغاند |
| چاره ساز | ـ | چاره ساز، کارساز، چاره ګر |
| شمشیر ساز | ـ | تورپښ |
| چاقو ساز | ـ | چاکوګر، چاړه ساز |
| مبل (موبل) ساز | ـ | وتري ساز، ترکاڼ |
| آهنګ ساز | کمپونېست | سندر ساز |
| لانه ساز | ـ | ځاله، رغی |
| بسیار خوار (پرخور) | ـ | نسو، نسور، خېټو، خېټور، ډېرخور |
| مرده خوار(لاشخور) | ـ | ګورګټې، درنګه خور |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| مردم خوار | ـ | سړیخور |

۶ - په خوار - او - خور روستاړو پارسي بېلنګونه بې استثنا په (- خور) پښتو کېدای شي، څکه د سړیخور - سودخور، بډیخور، ځیره خور غوندې بېلګې مخکې له مخکې تیارې په ګړنۍ پښتو کې لرو، پراختیا موندلی بڼه یې، لکه په رشوت خوری او خویش خوری کې پر (بډې خوري) او (خپل پالنه) ژباړل کېدای شي:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| ګیاه خوار | ګیاه خوړونکی | ګیاخور |
| ګوشتخوار | غوښه خوړونکی | غوښخور |
| جهانخوار | نړی خوړونکی | نړیخور |
| مفتخوار | مفتخور | تیار خور |
| انسان یا آدم خوار | سړی خوړونکی | سړیخور |
| نشخوار | ـ | شخوند |
| میخوار | شرابخور | شرابي |
| قسم خور | قسم خوړونکی | قسم خور، سوګند خور، لووړی |
| سرخور | سرخوړوونکی، سرخوړلی | پس مرګي (زېږېدلی) |
| رشوه خوار(رشوه ستان) | بډیخوړونکی | بډیخور |
| جیره خوار | جیره خور | ځیره خور |
| سود خوار(سودخور) | سودخوړونکی | سودخور |
| غصه خور | غمېدونکی، زړه خوړینی، غمزغمی | |
| معاش خوار(ـخور) | معاش خور | تنخا خور |
| شیرخوار | شودې خوړونکی | تیروی، شودېخور |
| ماهیخور(ـخوار) | ـ | ماهی خورك |

۷ - په – سوز روستاړی پارسي بېلنګو نه هم په همدې روستاړي پښتو کېدای شي، څکه- سوز - سوځ پښتو کړولۍ هم بلل کېږي، په بله وینا، د دواړو نژدې خپلوانو ژبو تر منځ تاریخي تړاو لري.

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| خانمانسوز | کورنۍ سوزوونکی | اورګډی،کور ګډی |
| آتشسوز | اوربلوونکی | اورګډی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| جگر سوز | ځيگر سوزوونکی | ځيگر سوز |
| دلسوز | زړه سوزوونکی | زړه سواند ، خواخوږی |
| خود سوز(جانسوز) | ځان سوزوونکی | ځانسواند ، ځانويجاړی، ځانسوز |
| هستی سوز | ژوند سوزوونکی | هستی سوز، ژوندسوز |
| زندگی سوز | - | - |
| جهانسوز | نړۍ سوزوونکی | نړی سوز، جهانسوز |
| دلسوز | زړه سوزوونکی | زړه سواند ، خوا خوږی |
| ناسوز(نسوز) | نه سوزېدونکی | ناسوند |
| خرمن سوز | درمند سوزوونکی | درمن سوز |
| جانسوز (خودسوز) | ځان سوزوونکی | ځانسوز |
| خام سوز | خام سوځلی | اوم سوی |

۸ - **په - کن او - کننده** روستاړي (پارسي) بېلنگونه له هماغې ډلې څخه دي چې هم ډېر دي او هم يې پښتو انډولونه ډير لږ پر نورو روستاړو بدلېدای شي. که څه هم له تاريخي پلوه ټولې اريايي ژبې د عربی (**فعل**) پر وړاندې دوې کړولۍ يا بنسټونه لري. کن (کول) او کر(کړل)، مگر، لکه څنگه چې له مخه وويل شول، يوازې پارسي ژبه ده چې هغه د روستاړي په بڼه هم کاروي او د نورو ژبو غوندې پښتو هم اړ وځي چې هغه پر کوونکی يا ـ ونکی يا نورو کړنو ميزو روستاړو (فعلي پسوندو) واړوي، په ليکلړ کې يې وگورئ:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| کارکن (فعال) | فعال، کارکن (پ) | کارنده،تکړه، کارمن |
| بازی کن | لوبی کوونکی | لوبغاړی |
| اشتراك کننده | گډون کوونکی ـ | برخه اخېستونکی، برخوال، گډونوال |
| وانمود کننده (نموددار) | | ښکارندوی |
| رهبری کننده | رهبری کوونکی | لارښود |
| خفه کن | خپه کوونکی | زندۍکوونکی، سابندی |
| گمراه کن ـ کننده | گمراه کوونکی | بيلارې کوونکی |
| تهيه کننده | تهيه کوونکی | تياروونکی، برابروونکی |
| خورد کننده | وړوکی کوونکی | ماتوونکی، دړې وړې کوونکی |
| کارکن | کارکن (پښتونخوا) | کارندوی(اکټيوېسټ) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۹ - په - ده او - دهنده** روستاړو پارسي بيلنگو نه له پخوا نه هم ډير وه او نن پسې نور هم مخ پر زياتېدو دي، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
| --- | --- | --- |
| فرمانده | قوماندان | بولندوی |
| مدادپاکن | پنسل پاك | وچکنپاك |
| بهره ده | استثمار شوی | زبېښلی |
| سازمان ده(دهنده) | سازمان ورکوونکی | سازمانوونکی |
| سمتده (دهنده) | لوری ورکوونکی | لورسيخی، لورښود |
| وام ده(دهنده) | پور ورکوونکی | پوروړی |
| خاتمه ـ پايان دهنده | خاتمه ورکوونکی | پای ورکوونکی |
| ضربه دهنده | ضربه ورکوونکی | گوزارورکوونکی، ځبند |
| عبرت دهنده | عبر ورکوونکی | لوستندوی |
| اخطار دهنده | خبرداری ورکوونکی | گواښنده، گواښگر، گواښگرندی |
| بيانيه دهنده | ويناکوونکی | ويناوال |
| ازار دهنده | ازارورکوونکی | ازاروونکی، ځوراند |
| زجر دهنده | زجرورکوونکی | ازاروونکی،ځوراند |
| شکنجه دهنده | شکنجه ورکوونکی | شکنجه مار، سپېتاند |

**۱۰- په - جو يا - طلب** روستاړي جوړشوي پارسي بېلنگونه هم نن سبا لړو ډير مخ پر زياتېدو دي، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
| --- | --- | --- |
| ستيزه جو(ستيزگر، جنگره) | ـ | جگړه مار |
| صرف جو | ـ | سپماگر |
| آبجو | ماهي | کب |
| صلحجو | سوله غوښتونکی | روغه وال، سوله من |
| کينه جو(کينه توز) | کينه کښ | رخن، گرجن |
| هنر جو | ـ | هنرمند |
| پيکار جو | جنگ غوښتونکی | جنگيالی، مېړنی |
| رزمجو | ـ | ـ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| مرکز جو | ـ | منځۍ هڅی |
| دلجو | ـ | خواخوږی، زړه سواند |
| فرصت جو | لټوونکی | څوګیر |
| توسعه جو | پراختیاغوښتونکی | پراختیاپال، پراختیاهڅی |
| برتری جو (تفوق طلب) | لوړتیا غوښتونکی | لوړهڅی |
| حقیقت جو (حقیقت یاب) | حقیقت لټوونکی | رښتیا پال |
| ماجرا جو (مخاطره جو) | ماجرا غوښتونکی | غرغره يي، بلا غواړی، بلاپېری، ډانګه يي |
| نوجو | نوی غوښتونکی | نوهڅی، نوپال |
| استفاده جو (سودجو) | استفاده کوونکی | شوکمار، سودپال |
| بهره جو | استثمارگر | زبېښاکګر |
| فتنه جو | فتنه غوښتونکی | پتنه گر |
| دانشجو | محصل | زده کړیال، شاګرد |
| نامجو | شهرت غوښتونکی | نومپال |
| پناه جو | پنا غوښتونکی | پناغاړی، شوغاړی |
| عیب جو | ـ | ویارسپړی، ویارغاړی |
| بهانه جو (بهانه گیر) | پلمه ساز(ی) | |

۱۱- پ - انداز - یا - افگن روستاړی پارسي بیلګونه هم باید تروسې وسې د لنډوالي او آسانۍ آر (اصل) ته په پام سره پر نږه انډولونو واړول شي، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| راه انداز(ـی) | پرلاره اچوونکی | رامنځته کوونکی (رامنځته کړن) |
| خانه بر انداز | کوررنګی | کور ګډی،کور ورانی |
| پس انداز | پس انداز | پاسره، سپما، زېرمه |
| سر انداز | سرانداز | مخپوښ (غالۍ) |
| خاك انداز | خاك انداز | ټټۍ |
| راکت انداز | راکت انداز | توغند ارتی |
| جغله انداز | کریړاچوونکی | کاړارتی |
| سکه انداز (اتومات) | سکه اچوونکی | سکه يي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| شرانداز | شراچوونکی | پتنه گر۔ اورگډی |
| نظر انداز(چشم انداز) | نظرانداز (کول، له پامه غورځول- پ) | کتنه، پاملرنه (ستر گارت) |
| چاپ انداز | لوبغاړی | وزلوبغاړی |
| دهشت افگن (تروړست) | دهشت گرد (پ) | ترهگر |
| دژافگن | ـ | کوټ ماتی |
| شیر افگن | زمری غورځوونکی | زمرماتی |
| سایه افگن | ـ | سیوراړتی |

۱۲- پـه - آمیز روستاړي پارسي ستانومیز بېلنگونه (صفتي مشتقات) هم له پښتو ژباړنو لوری لودن ورکوي او پرډېرو گرانوانډ ولونوېي راړوي، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| فاجعه آمیز | د فاجعې ډك | بخولیز، ناتاریز |
| قهر آمیز | له قهره ډك | قهرژلی |
| افتضاح آمیز (فضیحت آمیز) | له شرمه ډك | شرمېدلی، رسوا |
| نصیحت آمیز | ـ | ورموزمه |
| صلح آمیز | له سولی نه ډك | سوله ییز، روغه ییز |
| غرض آمیز | غرضي | موخیز، دښمنانه |
| مسالمت آمیز | له مسالمته ډك | سوله ییز، روغه ییز |
| هیجان آمیز | هیجانی | پاروونکی، پارند |
| محبت آمیز | له مینې ډك | مینه وړی |
| خصومت آمیز | ـ | دښمنانه |
| سحر آمیز | له سحر نه ډك | جادوگرانه |
| گله آمیز | له گېلی نه ډك | گیله من، ماڼیجن |
| شرارت آمیز | ـ | اورپکوزمه |
| طنز آمیز | له طنزه ډك | لغازي |
| طعنه آمیز | له پېغوره ډك | پېغور ډوله |
| شفاعت آمیز | خیر خواهانه | نرمښتي |
| شکایت آمیز | له گیلې ډك | پلپوتډوله |
| شهوت آمیز(انگیز) | ـ | خاربښتي |
| توهین آمیز(تحقیر آمیز) | له سپکاوي ډك | سپکاوي وزمه، خندنی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| انتقاد آمیز | انتقادي | نیوکډوله |
| افتحار آمیز | له ویاړه ډك | ویاړلی، ویاړمن |
| مبالغه آمیز | _ | ښندیز |
| شگفت آمیز (-انگیز) | اریانوونکی | هېښنده |
| شتاب آمیز (عجولانه) | _ | بېړنوزمه، بېړنی |
| جنایت آمیز | _ | جنایتکارانه |
| مسخره آمیز | _ | خندیوزمه، خندنی |
| کفر آمیز | - | کفروزمه |

۱۳ - په - آور روستاړی پارسي بېلنگونه د نورو چار نومیز بېلنگونو غونډې زیاتره پښتو ژباړن او لیکوال د (راوړونکي) په زیاتولو پښتو ته رااړوي او هیڅ په دې پسې سرنه گرځوي چې روان، لنډ او اسان انډول ورته پیدا کړي، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| درد آور | دردوونکی | دردناك |
| رنج آور | رنځوونکی | ځورند، خواشینی کوونکی |
| خوی آور (عرق آور) | _ | خولن، خوله ماتی |
| هیجان آور | پاروونکی | پارند |
| یاد آور | یادوونکی | یادوړی |
| زبان آور | زباندار | ژبور |
| دلاور (دلیر) | دلاور | زړور |
| فراهم آور | _ | تیارگر |
| اشتها آور | اشتها راوړونکی | لوهن، خورمنځی |
| شرم آور | شرم راوړونکی | شرمور، خنگن |
| سرسامه آور | _ | سرساموونکی، سرساموزمه |
| خجالت آور | شرم راوړونکی | شرمور، خنگن |
| سقط آور | _ | سپیازور |
| سکر آور | مخدر | نشه ییز، نشه یي |
| حمله آور | حمله کوونکی | یرغلگر |
| بار آور (بارور) | مثمر | یېبرور |
| نشاط آور | _ | خوښند |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| نام آور(نامور) | نامدار | نوماند ، نومور |
| آشك آور | اوښکی بهوونکی | اوښکن، اوښلن |
| رزم آور | جګړه مار | جنګیالی |
| خنده آور | _ | خنداوړ، خندی وړ |
| زور آور | قوی | زورور |
| جنګ آور | جګړه مار | جنګیالی، جنګیالی |
| ننګآور | ننګین | شرمور |
| پیام آور | پیغام راوړونکی | استوزګر، استازی |
| شګفتی آور، شګرف آور | اریانوونکی | هېښنده |
| مژده آور | زېری کوونکی | زیریګر، زیریګرندی |
| عطش آور(عطشه آور) | تنده راوړنکی | تندوړی، تندغری |
| اختناق آور | خپګان ډکی | زندی ګرانه |

۱۴- په - شکن روستاړی پارسي بېلنګونه په اسانه کېدای شي، په مات یا ماتی والا پښتو بېلنګونو ، په بله وینا ، تړنګونو (ترکیبونو) وژباړل شي، نه په - ما توو نکي چې د لنډون او اسانی آر له منځه وړي او ویونکی ترې هماغه پارسي انډول زیات خوښوی . حال دا چې په ګړنی پښتو کې نظرماتی، اودس ماتي، سر ماتی او غاښ ماتی، روژه ماتی غوندې انډولونه یې له پخوا دود لری، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| زنجیر شکن | زنجیر ماتوونکی | زنځیر ماتی |
| سنګ شکن | تیږه ماتوونکی | کاڼي ټك |
| دندان شکن | غاښ ماتوونکی | غاښ ماتی |
| کمر شکن | ملا ماتوونکی | ملا ماتی |
| سرشکن | سرماتوونکی | سرماتی |
| لشکرشکن | لښکر ماتوونکی | لښکر ماتی |
| توبه شکن | توبه ماتوونکی | توبه ماتی |
| وضوشکن | اودس ماتوونکی | اودس ماتی |
| دشمن شکن | دښمن ماتوونکی | دښمن ماتی |
| ناوشکن | کشتی ماتوونکی | بېړی ماتی |
| بت شکن | بت ماتوونکی | بوت ماتی |
| باد شکن | بادماتوونکی | باد ماتی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| موج شکن | موج ماتی | څپه ماتی |
| عهد شکن (پیمان شکن) | وعده خلاف | ژمنماتی |
| سوگند شکن | _ | سوگندماتی |
| چوب شکن | دلرگوماتوونکی | لرگبه |
| ناشکن | ناماتېدونی | ناماتی |
| زود شکن | ژرماتېدونی | ژرماتی |
| استخوان شکن | هډماتوونکی | هډماتی |

۱۵- په - مند روستاړی پارسي بېلنگونه هم ډېر پښتو ژباړونکي او لیکونکي د - لرونکی په ملتیا پښتو کوي. حال دا چې په - وال او - من یا مند غوندې لنډو اسانو بېلنگونو ډېر ښه ژباړل کېدای شي. ځکه - من او - مندد دواړو ژبو ترمنځ گډون لري، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| کارمند | مامور | کارمن، کارمند |
| علاقه مند | علاقه لرونکی | مینه وال، لیوال |
| غنامند | غني | بډای |
| دردمند | دردمند | دردمن |
| هنر مند | _ | هنرمند |
| نیرومند | قوي | ځواکمن، پیاوړی، غښتلی |
| زورمند | قوي | زورور، ځواکمن |
| فرهمند | _ | ځیرك، ویښیار |
| هدفمند | هدف لرونکی | موخن |
| سعادتمند | سعادتمند | نېکمرغه، نېکبخت |
| آرزو مند | ارزو لرونکی | هیله من |
| نیاز مند | اړتیا لرونکی | لاس اړی، اړ، اړجن، اړمن |
| آزمند | حرص لرونکی | سرابن، کاز من، اسوېلاند |
| بهره مند | برخه لرونکی | سودمن، برخمن |
| سودمند | _ | سودمن، سودمند |
| برومند | مثمر | یېبرور، یېبره من |
| آبرومند | ابرومند | پتیال، پتوال، پتمن |

۱۶ - په - آلود پارسي جوړښتونه هم ټکي پر ټکي پښتو ته راړول اړین نه دي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| غرض آلود | له غرض نه ډك | موخيز، غرضانه |
| گل آلود | په خټو ککړ | په خټو، چکړ، خړ، لېت پېت |
| خاك آلود | له خاورو نه ډك | لوغړن، سپېره، گردجن |
| دود آلود | له لوگی نه ډك | دودجن، لوغړن، لوگن |
| درد آلود | له درده ډك | دردناك، خوږند |
| غم آلود | له غمه ډك | غمجن، غم لړلی، ویرلړلی |
| قهر آلود | له قهره ډك | قهرژلی ـ قهروړی، ځاځېدلی |
| چرك آلود | مردار | خیرن، نون |
| غضب آلود | غضبناك | پرغزي |
| آشك آلود | له اوښکو ډك | اوښکن،اوښلن |
| آبر آلود | له ورېځو ډك | وريځ،اوريځ |
| خواب آلود | له خوبه ډك | خوبولی، خوبوړی، خوبجن |
| خون آلود | په وینو ککړ | وینی ککړ،وینړی |
| کف آلود | ځگن | ځگلن |
| زهر آلود (زهر آگین) | له زهرو نه ډك | زهرجن، زهرژلی |
| خاکستر آلود | ايرن | په ايرو ککړ، لوغړن |
| گرد آلود | له گردو ډك | گردجن، گرزن،دوړن |
| غبار آلود | ـ | ـ |

۱۷ - په - خواه روستاړی پارسي بيلنگونه د - طلب او - جو هغوته ورته دی او په همدې توگه ورته وړ پښتو انډولونه موندلای شو، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| خودخواه | مغرور | ځانغاړی، غاور |
| دادخواه | عدل غوښتونکی | غاوچي، پريادي |
| تجزيه خواه | تجزيه - بيلتون غوښتونکی | بيلتونپال |
| بشرخواه | بشر غوښتونکی | وگړمين، وگړپال، بشردوست |
| وطنخواه | هیواد غوښتونکی | هیوادمين، هېوادپال |
| ترقيخواه | ترقی پسند (پ) | پرمختگ مينی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| هوا خواه | هواخواه | مینه وال، لېوال، پلوي |
| جاه طلب | _ | پوړۍ پال |
| خیرخواه | خیر غوښتونکی | نېکپال |
| نیکخواه | رر رر | نېکپال |
| کینخواه | کینه کوونکی | کینه کښ، گرجن، رخن، کینه ناک،کیخن |
| بدخواه | بدخواه | بدورد |
| ملت خواه | ملت غوښتونکی | ولسپال |
| آزاد یخواه | حریت پسند (پ) | آزادیپال، آزادلوښی، خپلواکي مین |
| عذرخواه | _ | ننواتی |

۱۸- په - نورد - پیما او - گرد - روستاړی جوړ شوي پارسي بېلنگونه هم پښتو ژباړونکو ته لږو ډېر ستونزمن برېښي او په ناسم ډول یې کله په - وهونکی او کله په - گر ځېدونکی والا بېلنگونو پښتو ته رااړوي. یوازې پرمخ تللې بڼه یې (- نوردي) پر- چلند اړولې، لکه: هوا نوردي (هوایی چلند) چې د اروابناد ارسلان سلیمی جوړونه ده:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| رهنورد | لاروهونکی | لاروی |
| کوهنورد (کوهگرد) | د غره گرځېدونکی | غرگرځی |
| بیابان نورد (ـگرد) | بیدیا گرځېدونکی | بیدیا گرځی |
| صحرانورد | _ | _ |
| هوانورد (خلبان) | هوا گرځیدونکی | هوا گرځی، پیلوټ، الوتاند |
| جهان نورد (جهانگرد) | نړۍ گرځېدونکی | نړیگرځی، نړۍ گرځند |
| فضانور د | ستورمزلی | هسك یونی، تشیالیونی |
| کیهان نورد | _ | _ |
| دریانور | د سمندر گرځېدونکی | سمندر گرځی، ماڼو |

۱۹- په - فروش روستاړی پارسي بیلنگونه هم زیاتره ژباړونکي پر (خر څوونکي) هغو رااړوي او په لوی لاس یې اوږدوي او گرانوي، حال دا چې پر - پلور یا - پلوري - والا او داسې نورو ډېر روان ژباړل کېدای شي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| گهر فروش | جوهري | گوهري |
| گلفروش | گل خرڅوونکی | گل والا، گلپلوری |
| ذغال فروش | سکاره خرڅوونکی | سکاره والا |
| چوب فروش | لرگي خرڅوونکی | لرگبه، لرگي والا |
| دستفروش | لاس پر لاس پلورونکی | لاسپلوری |
| آردفروش | اوړه څرخوونکی | اوړبه، اوړه والا |
| سبزی فروش | سبزي خرڅوونکی | ساگ پلوری |
| برنج فروش | وربجې پلورونکی | وریجې والا |
| نمك فروش | مالگه پلورونکی | مالگه والا |
| وطنفروش (میهن فروش) | هېواد پلورونکی | هېواد پلوری |
| وجدان فروش | وجدان خرڅوونکی | وجدان پلوری |
| خود فروش | ځان خرڅوونکی | ځانښکاری، ځانپلوری |
| عمده فروش | عمده خرڅوونکی | ټولپلوری |
| پرچون فروش | پرچون خرڅوونکی | ټوکپلوری |
| میوه فروش | مېوه خرڅوونکی | مېوه پلوری |

۲۰- په، بان او ـ وان روستاړي پارسي ببلنگونه پر ـ به او ـ وان او داسې نورو ډېر ښه اړول کېدای شي. ښاغلي ژباړونکي دې دا وروسته ببلگې په پام کې ونیسي:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| پاسبان | ـ | څوکیوال، ساتندوی |
| سرپاسبان(پولیس) | ـ | یو پولیسی افسر، سرڅارندوی |
| ساربان | د کاروان مشر | څاروان، جوپه مشر |
| زندانبان | د زندان مشر | بندیوان، زندانوان |
| پادوان | پاده وان | غوبه، گوروان |
| قلعه بان | ـ | کلا څاری |
| شتربان | اوښ والا | اوښبه |
| پیلبان | پیل ساتونکی | پیلوان |
| گله بان | رر | رر |
| بادبان | بادبان | بادوان |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| میزبان | _ | کوربه |
| ناوسروان | _ | سمندري تورن |
| آسیابان (آسیاوان) | _ | ژرنده گړی |
| دیده بان | ناظر | څارو، څارونکی، کتونکی |
| شبان (چوپان) | _ | شپون |
| رسد بان | لوراند | څارند (تورن پولیس) |
| باغبان | باغوان | بڼوال |
| دربان/دروازه بان | دروازه وان | څوکیوال، ورساتی، وربه |
| سايبان | _ | کېږدی، چتر |
| سایه بان | _ | چتر، تجیر |
| مهربان | _ | مهربان، مهروان (مروت) |
| موټروان | موټرچلوونکی | چلوونکی ـ گاډي والا |
| جهانبان | _ | نړیواك، واکمن، خدای |
| پشتیبان | ملاتړکوونکی | ملا تړی |
| مرزبان | _ | بریدساتی، څوکیوال، څارندوی |
| نرد بان | زینه | ښل |
| نگهبان | ساتونکی | ساتندوی، څوکیوال |
| جنگلبان (جنگلدار) | - | ځنگلوان |

۲۱- په - گرا او - گرایی، - پرست او - پرستی، - دار او - داری، دغه راز - سالار - سالاری او یا پسند - پسندی چې لاتینې او المانی انډولونه یې ایزموس او انگریزي هغه یې - ایزم او - ښست دي، نن سبا په ځانگړې توگه د نوي پرمختللي نړۍ لید او نوي پوهنې د نومونپوهنې (ترمینالوجۍ) یوه غوره برخه جوړوي. په پښتو کې زیاتره د (پښتونواله) په بېلگه پر - واله او - وال اړول کېږي. لکه پانگواله او پانگه وال چې ناسم ډول یې پانگوالي هم دود شوی دی. ناسم په دې چې په نورو ورته- ایزمونو کې روان نه راځي او دیو رنگوالي له کبله باید تروسې وسې هر ځای- ایزم- پر-واله واړول شي، لکه:

| پارسي | انگرېزي | پښتو |
|---|---|---|
| اصلاح گرا | رېفورمېست | سمونپال(ناسم:اصلاپال |
| همگرایی | _ | هملاري، همهځي |
| همگرا | _ | هملاری |
| سرمایه داری | کپیتالېزم | پانگواله |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| سرمایه دار | کپیتالېست | پانگوال |
| وطن پرستی | پاتریوتېزم | هېوادواله - هېواد پالنه |
| وطن پرست | پاتریوت | هېوادپال |
| ملت پرستی ـ گرایی | نیشنلېزم | ولسواله، ولسپالنه |
| ملت پرست ـ گرا | نیشنلېست | ولسپال |
| جامعه گرایی | سوسیالیزم | ټولنواله |
| جامعه گرایی | سوسیالېزم | ټولنواله |
| جامعه گرا | سوسیالېست | ټولنوال |
| جامعه گرای تخیلی | - | انگیریزه ټولنواله |
| - ی تخیلی | اوتوپین | انگیریز ټولنوال |
| واقع گرایی | ریالېزم | رښتینواله |
| واقع گرایی نو | نیوریالېزم | نوې رښتینواله |
| واقع گرا | ریالېست | رښتینوال |
| واقع گراـی نو | نیوـ ریالېست | نوی رښتینوال |
| گروهه گرایی/ مرد مداری | کمونېزم | پرگنواله |
| گروهه گرا | کمونیست | پرگنوال |
| مدرس گرایی | سکولاستېزم | ښوونځیواله |
| کثرت گرایی | پلورالېزم | ډېرواله |
| کثرت گرا | پلورالېست | ډېروال |
| کهن گرایی | ارکایېزم(ارخاییزم) | زړواله، زوړپالنه |
| کهن گرا | ارکاییست | زړ وال، زوړپال |
| طبیعت گرایی | نیچرالیزم (ناتورالیزم) | پنځواله |
| طبیعت گرا | نیچرالېست | پنځوال |
| ذهن گرایی | سبجکتیوېزم (سوبیکتیوېزم) | خپل اندواله |
| ذهن گرا | سبجکتیوېست | ـ وال |
| رفتار گرایی | بهیورېزم | چلندواله |
| رفتار گرا | بهیورېست | چلندوال |
| خرد گرایی | رېشنالېزم (راسیونالېزم) | سولواله |
| خردگرا | راسیونالېست | سولوال |
| تقدیر گرایی | فتالېزم | برخلیکواله |
| تقدیر گرا | فتالېست | برخلیکوال |
| بهره گرایی | اتیلیتاریانېزم | ښیگڼواله |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| بهره گرا | اتیلیتاریانېست | ښیګڼوال |
| آینده گرایی | فیتو رېزم | راتلونواله |
| آینده گرا | فیتو رېست | راتلونوال |
| جهان گرایی | انترناسیونالېزم | نړیواله |
| - گرا | انتر ناسیونالېست | نړیوال |
| خود گرایی | اېګویېزم | ځانواله، ځانځاني |
| خودگرا | اېګوېست | ځانوال |
| جمع گرایی | کولکتیوېزم | غونډواله |
| جمع گرا | کولکتیوېست | غونډوال |
| اراده گرایی | والنترېزم | وېلاړواله |
| اراده گرا | والنترېست | وېلاړوال |
| الحاد گرایی | اتایېزم | بیدیني - بیدینواله |
| الحاد گرا | اتایېست | بیدینه |
| قوم گرایی | - | ټبرواله، کامولي |
| قوم گرا | - | ټبروال - پال |
| سمت گرایی | - | سیمه واله |
| اسلامگرایی | اسلامېزم | اسلامپالنه، اسلام پالي |
| اسلام گرا | اسلامېست | اسلامپال |
| چپ گرا | - | کیڼوال، چپی |
| راست گرایی | - | ښي اړخي، ښیواله، ښیلاسي |
| راست گرا | - | ښیوال، ښي لاسی |
| بنیاد گرایی | فنداميتالېزم | بنسټواله، بنسټپالي |
| بنیادگرا | - | بنسټپال |
| شخصیت پرستی | (کیش شخصیت) | وګړه پالي |
| بیگانه پرستی | - | پردی پالي |
| خود پرستی | - | ځانپالي |
| عقب گرایی | رېکشنري | شاتګواله - شاتګ |
| عقب گرا | ریکشنیر | شاتګپال، شاتګی |
| موقع شناسی | اپورچونیزم (اپورتونیزم) | ورځچاري |
| موقع شناس (اپورتونیست) | اپور چونېست | ورځچاری |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| نماد گرایی | سېمبولېزم | انځورواله، ښارمه واله |
| نمادگرا | سېمبولېست | پیلامپال، ښارمه وال |
| شکل گرایی | فورمالیزم | جولیزواله |
| شکل گرا | فورمالېست | جولیزوال |
| انسانگرایی | هومانېزم | بشر واله، وګړواله |
| انسانگرا | هومانېست | بشروال، وګړوال |
| فردگرایی | انډیویډوالېزم | ځانګړواله |
| فردگرا | انډیویډ والېست | ځانګړوال |
| پندار_انگار_گرایی | ایدیالېزم | انګېرواله |
| پندار_انگار_گرا | ایدیالېست | انګېروال |
| ماده گرایی | ماټریالېزم | توکیزواله |
| ماده گرا | ماتر یالېست | توکیز وال |
| پدیده گرایی | فېنومېنالېزم | پدیده پالي |
| پدیده گرا | فېنومېنالېست | پدیده پال |
| شتاب گرایی | تاچېزم | تلواروواله، بېړنواله |
| شتاب گرا | تاچېست | تلواروال، بېړنوال |
| سبک گرایی | سټایلېزم | سبکواله، لېلپالي |
| سبک گرا | سټایلېسټ | لېلپال |
| نفس گرایی | سولیپسېزم | ځانواله |
| نفس گرا | سولېپېست | ځانوال |
| تعالی گرایی | سوپریماتېزم | پورتواله |
| تعالی گرا | سوپریماتېست | پورتوال |
| جامعه شناسی گرایی | سوسیولوجېزم | ټولنپوهواله |
| جامعه شناسی گرا | سوسیولوجېست | ټولنپوهوال |
| روانشناسی گرایی | پسیولوجېزم | ساپوهنواله |
| روانشناسی گرا | پسیولوجېست | ساپوهنوال |
| نسبی گرایی | ریالتیوېزم | پرتلواله |
| نسبی گرا | ریالتیوېست | پرتلوال |
| نیستی گرایی | نېهیلېزم | نشتواله |
| نیستی گرا | نېهیلېست | نشتوال، نشتاند |
| عینی گرایی | ابجکتیوېزم | رښتیاواله |
| عینی گرا | ابجکتیوېست | رښتیاوال |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| مصلحت گرایی | پرگماتېزم | سازښتواله |
| مصلحت گرا | پرگماتېست | سازښتوال |
| بدوی گرایی | پرېمیتیوېزم | بیدیايي واله |
| بدوی گرا | پریمېتیوېست | بېدیاییوال |
| عنعنه گرایی (سنت گرایی) | ترادیسیو نالېزم | دودیزواله |
| عنعنه گرا (سنت گرا) | ترادیسیونالېست | دودپال، دودیزوال |
| تاریخ گرایی | هېستورېزم | تاریخواله، پېښلیکواله |
| تاریخ گرا | هېستورېست | تاریخپال، پېښلیکپال |
| وجود گرایی | اکزیستنسیالېزم | هستیواله، هستیپال |
| وجود گرا | اکز یستنسیالېست | هستیوال |
| برتری گرایی (جویی) | هژ مونېزم | لوړتیاواله |
| برتري گرا | هژ مونېست | لوړتیاوال، لوړتیاپال |
| انتقام گرایی (جویی) | رېوانشېزم | غچواله |
| انتقام گرا | رېوانشېست | غچوال |
| تصفیه گرایی | پیورېزم | سپېڅا نه، سپېڅلواله |
| تصفیه گرا | پیورېست | سپېڅلوال، سپېڅاند |
| همنوا گرایی | کونفورمېزم | یورنگواله |
| همنوا گرا | کونفورمېست | یورنگوال |
| جهان وطن گرایی | کوسموپولیتېزم | نړي هیواد واله |
| جهان وطن گرا | کوسمو پولیتېست | نړۍ هیواد وال |
| نقد گرایی (انتقاد) | کرېتېسېزم | کره کتنپالي |
| نقد گرا | کرېتېسېست | کره کتنپال |
| واپس گرایی | دېکاد ېنس | وسترواله |
| واپس گرا | دېکادېنست | وستروال |
| جزمی گرایی | دوگما تېزم | ټینگواله |
| جزمی گرا | دوگماتېست | ټینگوال |
| آموز شگرایی | ایجو کشنالېزم | ښوونواله |
| آموز شگرا | ایجوکشنالېست | ښوونوال |
| گریز گرایی | ابسکاپېزم | تیښته واله |
| گریز گرا | ابسکاپېست | تیښته وال |
| اروپا گرایی | یوروپانېزم | اروپايي واله |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| اروپا گرا (اروپا مشرب) | یوروپانېست | اروپایي وال (-گروهی) |
| تعصب گرایی | فناتېزم | تنگلیدي |
| تعصب گرا | فناتېست | تنگلیدی |
| اوج گرایی | اسمایېزم | هسکواله |
| اوج گرا | اسمایېست | هسکوال |
| هرج و مرج گرایی | انارشېزم | اړدوړواله |
| هرج و مرج گرا | انارشېست | اړدوړوال |
| مطلق گرایی | ابسولوتېزم | جوتواله (بشپړواله) |
| مطلق گرا | ابسولوتېست | جوتوال (بشپړوال) |
| تجرید گرایی | ابسترکشنېزم | گوښیواله |
| تجرید گرا | ابستر کشنېست | گوښیوال |
| زیبایی گرایی | استتېزم | ښکلاییزواله |
| زیبایی گرا | استیتېست | ښکلا ییزوال |
| ذره گرایی | اتومېزم | ککواله |
| ذره گرا | اتومېست | ککوال |
| قهرمان گرایی | هیرویېزم | اتلیواله،اتلپالنه |
| قهرمان گرا | هیروېست | اتلیوال،اتلپال |
| توهم گرایی | الوشېزم | ترهواله |
| توهم گرا | الوشېست | ترهوال |
| تصویر گرایی | اېماجېزم،ایماژیم | انځوریزواله |
| تصویر گرا | اېماجېست | انځوریزوال |
| دور نما گرایی | لندسکایېزم | لرلیدو واله |
| دور نما گرا | لندسکایېست | لرلیدوال |
| شیوه گرایی | منر لېزم | ځاندودواله، لېله واله |
| (سبك) شیوا گرا | منرلېست | ځاندودوال، لېله وال |
| مثبت گرایی | پوزیتیوېزم | شتواله |
| مثبت گرا | پوزیتوېست | شتوال |
| مثبت گرایی نو | نیو ، پوزیتیوېزم | نو شتواله |
| مثبت گرای نو | نیو ، پوزیتیوېست | نو شتوال |
| شهری گرایی | اوربانېزم | ښاریواله |
| شهرگرا | اوربانېست | ښاریوال |
| خیالی - انگارگرایی | اوتوپانېزم | انگېریاله |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| خیالی - انگارگرا | اوتوپانېست | انګېریال |
| جدایی گرایی | اپارتاید | بېلواله |
| جدایی گرا | _ | بېلوال |
| نژاد پرستی | راسېزم | نژاد پالنه نژاد پاله، توکمپالي |
| نژاد پرست | راسېست | نژاد پال، توکمپال |

۲۲- په - سالار - سالاری روستاړي پارسي بېلګونه هم د - ګرا او - ګرایي یا- دار او داري ترڅنګه په ورته مانا ورځ پر ورځ مخ پر ډېرېدو دي چې پښتو يې پر وړاندې-واله -او-واکي هغه دود کړي دی، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| پدرسالاری (مرد سالاری)، پدرسالار | پاتریرکال | پلارواکي، پلرواکي (نرواکي)، پلارواك (پلارواکې ټولنه) |
| مادرسالاری (زن سالاری) | ماتریرکات | موروواکي (ښځواکي) |
| مادرسالار | ماتریرکال | موروواك (موروواکې ټولنه) |
| ارباب_ خانسالاری | فیودالیزم | خانخاني، ځمکواکي |
| دیو انسالاری | بیروکراسي | میرزایواله |
| قبیله سالاری | ترایبالېزم | ټبرواکي، ټبرواله |
| جنگ سالاری | جنګ سالاري | جګړه ماري |
| زمین سالاری، جاگیرداري (پ) | فیودالیزم | ځمکواکي |
| پاتك سالاری | | پاټکواکي |
| تفنگ سالاری | ټوپك سالاري | ټوپکواکي، ټوپکماري |
| تنظیم سالاری | تنظیم سالاری | تنظیمواکي،ګوندواکي |
| شایسته سالاری | - | وړتیا واکي |
| سرمایه سالاری (سرمایه سالار) | امپریالیزم | پانګواکی (پانګواک) |
| ارتش سالاری(نظامیگری) | ملیتاریزم | لښکرواله، پوځیواله |
| نظام سالاری | _ | _ |
| ارباب سالاری | اربستو کراسی | برواله_ برواکي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| مردم سالاری | دېموکراسي | وګړواکي، ولسواکي |
| جهان سالاری (جهانبانی) | ـ | نړيواکي |
| خوان سالار | ـ | کورمشر، کالخوای |
| کاروان سالاری | ـ | څارواني، جوپه مشري |
| کاروانسالار | | څاروان، جوپه مشر |
| سپه سالار (سپهبد) | فول جنرال | سترجنرال |
| سپه سالاري | ـ | ستر جنرالي |

۲۳- په - ګاه - ګه - ګاهان او -کده روستاړو رغېدلي پارسي بېلنګونه (اشتقاقونه) ډېرې زړې او نوې بېلګې لري چې پښتو اېټېمولوجيك او لرغوني انډولونه يې ګت -دك-غالی-غاله-غل-غه-اوخل دي. مګر هرومرو يې يوازې همدغه توني (مکاني) او مهالي روستاړي ځای نيولای نه شي، بلکې-تون، -ستون،-ځ،ځای، -ځی،-جل، -چل او داسې نوريې هم انډول کېدای شې او يو نيم هم ښېخي په يوه ساده ويي پښتو کېدای شي، لکه پرتګاه (ګړنګ). کله کله هم په هماغه پارسي بڼه منل کېږي.
بشپړ ليکلړ په دې وروسته ډول وړاندې کېږي:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| صبحګاه، صبحګاهان | سهار | سباوون |
| سحرګاه(ګه) | سحر ګه | شين ګهيځ، سباوون |
| بيګاه | بيګاه | بېګا |
| بنګاه | موسسه | سازمان |
| شامګاه | د ماښام وخت | ماښام مهال، لرمل |
| شامګاهی | ـ | ماښامي |
| بارګاه | بارګاه | دربار، درشل |
| ارګاه و بار ګاه | جاه و جلال | برم و پرتم |
| پيشګاه | حضور | پر وړاندې، په مخ کې |
| شهادتګاه | ـ | شهادتځای، بلهارځی |
| جولانګاه | ميدان | (ځغل) ډګر |
| پايګاه | هډه | اډه |
| خوابګاه | ليليه | شپېځای/ شپېځی |
| شبانګاه(شبانګاهی) | ـ | شومه دم (د شپې) |
| شب هنګام | ـ | شومه دم، په شپه کې، د شپې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| گاه و بیگاه | | وخت ناوخت، گهیځ ومابنام |
| عبادتگاه(مزگت) | عبادتځای | مزدك |
| پرستشگاه | عبادتځای | مزدك |
| آزمونگاه | د ازمويني ځای | ازموينځی |
| آزمایشگاه | لابراتوار | ازمېښتځی |
| خلوتگاه | خلوتگاه | گوښه (ځی) |
| بازار گاه | د بازار ځای | بازار |
| بزمگاه | د خوښۍ ځای | بنډارځی |
| درگاه | درگاه | ور، درشل |
| رزمگاه (نبردگاه) | د جنگ میدان | جگړه ځای، جنگغالی |
| مخفیگاه | د پټیدو ځای | پټونی، پیڅونی |
| کمینگاه | رر رر | رر رر |
| آرامگاه | مقبره | مړیستون، ارامځای |
| کشتار گاه (قتل گاه) | د وژلو ځای | وژنځای، وژنځی |
| شکنجه گاه | د شکنجې ځای | شکنجه ځای، ځورځای |
| ایستگاه (ایستادگاه) | درېدځای | تمځی، تمځای |
| خرمنگاه | د درمند ځای | درمنځی، درمنځای، تلی |
| اقامتگاه (مقر) | د هستوگنې ځای | هوساينځی، مېشتځی، استوگنځی |
| اردوگاه(کمپ) | کمپ | پنډغالی |
| تعمیرگاه | د ترمیم ځای | سمونځی |
| تفرجگاه | استراحت ځای | هوساينځی، مېله ځای |
| تفریحگاه | رر | رر رر |
| رهایشگاه (استراحتگاه) | رر | رر رر |
| آسایشگاه | رر | رر رر |
| استراحت گاه | رر | رر رر |
| رهبانگاه | صومعه | سمڅ، مزدك، دیر |
| باز داشتگاه | توقیف ځی | اړیځی ـ اړتون، ستنځی |
| نظرگاه | ـ | لیدټکی، لید توگه |
| خرگاه | خرگاه | کېږدۍ، څمغېلی |
| باشگاه | نایټ کلب | شپه غالی، بنډارغالی |
| شیر خوارگاه | شیدېخور | روتون |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| فرودگاه | دکښته کېدو میدان | هوایي ډګر |
| فروشگاه | فروشگاه | پلورنځی، پلورځای، پلورځی |
| شکارگاه | ښکارگاه | ښکارځی، ښکار غلی |
| دانشگاه | - | پوهنتون |
| درمانگاه | درملځی | درملځی |
| دادگاه | محکمه | نیاوځی، نیاوتون، نیاووالي |
| پرورشگاه | روزنځی | پالنځی |
| آموزشگاه | د زده کړې ځای، کورس | زده کړوځی |
| دستگاه | - | دستگاه، کارلوښی |
| لشکرگاه | لښکر گاه | لښکرکوټ |
| گره گاه | مقطع | منځی، ځلاري |
| شبانگاه | شپه | شومه دم، شپې مهال |
| بازیگاه | ستودیم | لوبغالی |
| پالشگاه | تصفیه خانه | چاڼځی |
| قرار گاه(گارنیزون ) | قرارگاه | بولنتون |
| فراهمگاه | د تولیدو ځاي | پنډ غالی، ټولنځی |
| کارگاه | کارځی | کارگاه |
| گذرگاه | گذرگاه | روده، لار، گودر |
| نمایشگاه | - | نندارتون |
| آرایشگاه | - | سینگارځی |
| گردشگاه | پارك | هوساځای، چکر ځای |
| گیچگاه | شقیقه | ټبك، ولبړنده |
| پرشگاه | - | ټوپ ځای، الوتځی |
| بتکده | بتخانه | بودتون |
| آتشکده | اتشکده | اورتون |
| خلوتکده | خلوتگاه | گوښه ځی |
| عشرتکده | د عشرت ځای | چړچه ځی، بنډارځی |
| ماتمکده | د غم ځای | ویرتون |
| جنون کده | دارالمجانین | لیونتون |
| دانشکده | - | پوهنځی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پژوهشکده | د څېړنې ځای | څېړنتون |
| مزګت | جومات | مزدك |
| محنتکده | ـ | زیار تون |
| امیدګاه | د امید ځای | هیله ځای |
| پیشه ګاه(کارګاه) | ورکشاپ | کارځای |
| هیچګاه | هېڅ وخت | هېڅکله |
| زیارتګاه | زیارتګاه | زیارت ـ زیارت ځی |

۲۴- «-زار» یو بل پارسي توني روستاړی دی چې زیاتره یولړ پخواني بېلنګونه ور پوری اړه لري، خو نوې بېلګی یې نه لیدل کېږي. پښتو انډولونه یې هر ګوره راز راز راځي. کله ساده، مشتق، کله مرکب او کله په پور بڼه، لکه: بازار، پیزار؛ پایزار، خو په هر ډول له آره پا افزار دی او پڼه، یا ګاولې او موچڼې مانا لري:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| کار زار | کارځی | جنګ ډګر، جنګغالی، مبارزه |
| لجنزار (دلدلزار) | لجنزار | پلنډی، بوښته، تمبنی |
| ګلزار | ګلزار | ګلبڼ |
| کشتزار | پټی، فارم | کرونده |
| علفزار | دوښو پټی | وښیاڼه |
| شنزار | ـ | شګلنیزه، شګلوړه |
| سنګزار | ـ | کاڼیزه |
| شلنګزار | ـ | بوټیاڼه، ژاخ |
| بته زار | د بوټو پټی | بوټیاڼه، ژاخ |
| خار زار | د اغزو پټی | اغزیاڼه، ځوزیاڼه |
| مرغزار | مرغزار | مرغه، ورشو |
| چمنزار | چمنزار | چمن |
| ګندمزار | د غنمو پټی | غنمګره |
| شالیزار(برنج زار) | د شولو پټی | شولګره |
| نیزار | نیزار | درګه |
| ریګزار (شنزار) | ریګزار | شګلنه ځمکه، شګلوړه |
| جنګلزار | ځنګلزار | ځنګل (سیمه)، خاوری |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| شوره زار | شوره زار | ښوره ماغه، ځلوبی |
| بازار | ـ | بازار |
| بېزار | ـ | بېزار |
| گندنا زار(گندنه زار) | د گندنې پټی | گندنگره، پیازکگره |
| سبزه زار | کبل زار | مرغه، چمن،ورشو |
| لاله زار | لاله زار | غاټویانه |

۲۵- د «-پر» په مختاړی پارسي بېلنگونه د نورو ډېرو وییونو غوندې ټکي پر ټکي او روان پښتو کېدای نه شي، بلکې پښتو یې پر وړاندې زیاتره روستاړي والا بېلنگونه لري، د ساري په توگه له ((درکوه های پر برف زندگی مشکل است)) ((له واورو نه په ډکو غرونو کې ژوند گران دی)) وژباړو، له پښتو سره اړخ نه لگوي او که یی (په واورینو غرونو کې ژوند گران دی) وژباړو، نو سمه روانه پښتو ترې جوړېږي. یا (له برکت څخه په ډك كال كې) او (په برکتي كال كې):

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| پربرف | له واورو نه ډك | واورین |
| پرشکوه | له پر تمه ډك | پرتمین |
| پرکیف | له کیفه ډك | خوندور، په زړه پورې |
| پرتلاش | کوششي | هڅاند، زیارکښ |
| پرصدا | ـ | ځوږن، اوځار |
| پرسروصدا | له غږوغوږه ډك | ځوږور |
| پر آوازه (بلند اوازه) | ـ | نومور، نوماند، نومیال |
| پرمزه | له خوندډك | خوندور |
| پرنیرو (پرقوت) | له قوته ډك | ځواکمن، پیاوړی، غښتلی |
| پردل | شجاع | زړور |
| پرشور | له شوره ډك | ځوږور، ځوږند |
| پرکار(پرزحمت) | فعال | ډېرکاری، زیارکښ، هڅاند |
| پر مسؤلیت | له مسؤلیته ډك | ډېر پازیز، ډېر پازوال |
| پرگل | له ختو څخه ډك | ککړ، چکړ، ختین |
| پرگل | له گلو څخه ډك | گلالی،گلبڼ، گلورین |
| پراشك | له اوښکو ډك | اوښلن |
| پرغرور | له غروره ډك | ویاړن، ښاځن |
| پرجوش | له جوشه ډك | مست،اپشند |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پرخروش | له خروشه ډك | ځوږور، ځوږند |
| پرجوش وخروش | له جوش و خروش نه ډك | ځوږنده او خروښنده |
| پرزرق وبرق | له جل وبله ډك | ځلبلي، جلبلي |
| پرفیض (پرمنفعت) | له گټې نه ډك | گټور ـ سودمن |
| پرنفوس (شهر) | له نفوسو نه ډك | گڼ یا ډېر مېشتی(ښار) |
| پرخور(پرخوار) | ډېر خوړونکی | ډېرخور، نسور، نسواند ، خوراند |
| پرخوری | ډېر خوړل | ډېرخوري، نسواندي |
| پرگو(ی) | ډېر غږېدونکی | خبرلوځ، ویند ، گپاوو |
| پرگویی | ډېره غږېدا | خبرلوځي |
| پرحرف | ډېرغږېدونکی | خبرلوځ، اپلتند |
| پرحرفی | ډېرې خبرې | خبرلوځي |
| پرچین | له گونځوډك | گونځن، کوت،گونځې گونځې |
| پرجفا | له جفا ډك | گرگر،زورگر، سرزور(ـی) |
| پردل | ـ | زړور، زړن |
| پرگر | پاراگراف | ټوکر (لیك) |
| پرچانه | ډېر غږېدونکی | اپلتند ،گپاوو |
| پردماغ | کبرجن | پېسمن، دماغي، غاور |
| پردور | لرې (ډېر) | لرې، لرواټی |
| پر درد سر | له سر خوږه ډك | ستونزمن، سرخوږن |
| پردوام | دوام دار | پاینده، پایښتي، ډېر پایه |
| پر آب | له اوبو ځخه ډك | لوندخیشت، اوبلن |
| پرافتخار (افتخارآمیز) | له ویاړه ډك | ویاړن، ویاړلی |
| پرباد | له بادو ډك | بادگین |
| پربار | له باره ډك | باري، یېبرور، ښېراز |
| پرمیوه | له مېوو نه ډك | مېوه ور،خولخوندور،خولخوندی |
| پربرکت | له برکته نه ډك | برکتي |
| پرجنجال | له جنجاله ډك | جنجالي، شخړیز |
| پربهره | له گټې نه ډك | گټور، سودمن |
| پرتپش | له تپشه ډك | هځند ، هځاند |
| پرتجربه | له تجربې نه ډك | ازمایلی،ازمېښتکار،ازمېښتوالا |
| پرخواب | له خوابه نه ډك | خوبي، خوبن، خوبجن |
| پر درد | له درده ډك | دردوونکی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پررنگ | له رنگه ډك | ډېر رنگی |
| پررو | له مخه ډك | سپين سترگی |
| پر زور | له زور نه ډك | زورور، سرزوری |
| رشير | له شودو نه ډك | پيوره (غوا) |
| پرشيب | - | ناهوار |
| پرغوغا | له غوغا نه ډك | نارام، غوغايی، ځوږن |
| پرمدعا | - | باتور، لوړ ربېی |
| پرمعنی | معنادار | ماناوال |
| پرفسون | له افسونه ډك | اوسونگر، کوډگر |
| پرفشار | له فشار نه ډك | ترينگلی، ترينگ |
| پرکين | له کينې نه ډك | رخن، اوښکينی |
| پرمايه | له ارزښته ډك | ارزښتناك، ارزښتمن، بډای |
| پرمغز | له مغزو نه ډك | ډېر مغزی |
| پرنگار | له نقشه ډك | انځورن، انځوريز |
| پرنقش | رر | رر رر |
| پرواضح | له څرگندتيا نه ډك | څرگند، جوت، اوڅار، ډاگيز |
| پروسعت | له پراختيا ډك | پراخ، وېږ، ارت وبيرت |
| پرتحرك | له تحرکه ډك | خوځند |
| پرنور | له نوره ډك | روښان، رڼا، روڼ |
| پرطنين | له طنينه ډك | ځوږور، ځوږند، انگازور |
| پرآوازه | له اوازی نه ډك | رر رر رر |
| پرماجرآ | له ماجرا نه ډك | ماجرايی، غرغره يي، لنډغر |
| پرتلاش | له تلاش څخه ډك | هڅند، هڅاند |
| پرازقهرمانی | له قهرمانی نه ډك | ستر اتل |

۲۶- په - پيش مختاړی پارسي بېلنگونه (مشتقات) هم کله کله پښتو ژباړونکی له ستونزو سره مخامخوي او سم انډولونه ورته پيدا کولای نه شي. ځکه په ښکاره ډول د - پيش پښتو انډول (وړاندی) دی، مگر کېدای شي (ـمخ) يې هم تشه ډکه کړي او يا يې بل راز يا ساده انډولونه ځای ونيسي، که نه بيا يې په پور ښه را اخېستل هم کومه گناه نه بلل کېږي:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پیشنهاد | تجویز (پ) | وړاندیز |
| پیشکی | - | پیشکي |
| پیش پا افتاده | خوشې، بېکاره | ناپاموړ، پاموتی |
| پیشدامن | | خوابنې |
| پیشوند (پیشاوند) | شاوندی | مختاړی |
| پیشرو | مخکې تلونکی | مخکښ، سرغندوی، سرلاری |
| پیش آهنگ (پیش قراول) | پېش آهنگ | رر رر |
| پیشوا | پېشوا | بومیا، سرغندوی |
| (در) پیشواز | - | (د-په) هرکلي، درشل (کې) |
| پیشتاز | - | مخکښ، سرکښ، پرمخیونی، سرلاری |
| پیش آمد | رفتار | چلند |
| پیش قدم | پېش قدم | مخکښ |
| پیش قدمی | - | مخکښوالی |
| پیش خور | پېشخور | مخخوری، مهینه خوری |
| پیش خوری | - | مخخوري |
| پیش قبض | پېش قبضه | ستوه (لکه کټوه) |
| پیش کش | پېشکش | وړاندیز |
| پیشدستی | پېشدستي | مخکښوالی، وړاندېوالی |
| پیشانی | وچولی | تندی، ټنډه، وچولی |
| پیشاب | - | متیازې، مېتیازې |
| پیشتاز | - | رر رر |
| پیشاپیش | - | مخکې مخکې، تر ټولو مخکې |
| پیش اطاقی (پیپش خانه) | - | مخ کوټه، مخنۍ کوټه |
| پیش آمد | برخورد | (چال) چلند |
| پیشآمده گی | - | مخکښوالی - وړاندېوالی، مخ ډډون |
| پیش انداز (دسترخوان) | - | کوندری، کوبی، ثمړ، ثمړی |
| پیش بند (-گیر) | پېش بند | مخبند |
| پیشقاب | پېشکاب | غاب، کاب |
| پیشباز | - | هرکلی |
| پیشبرد | پېشبرد | پرمخ وړنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پیش برگ (نو) | ـ | غوټۍ |
| پیش بها | بیعانه | بیانه |
| پیش بین | پېشبین | مخوینی |
| پیشبینی | پېشبیني | مخویني |
| پیش پاس (نو) | ـ | مخنیو |
| پیش پرداخت | ـ | پیشکي |
| پیشتاب | تفنگچه | ټوپکی، تمانچه |
| پیش تخته | ـ | څنباك مېز، څنباك ونج |
| پیشتر | ـ | مخکې، له مخه |
| پیش جنگ | ـ | مخجنگی، سرجنگیالی |
| پیش خدمت | پېش خدمت | نوکر، مزدور، چوپړی، چپړاسي |
| پیش خوان | ـ | څنباك مېز، څنباکونج |
| پیشداد | ـ | قانون ساز |
| پیشداد یان | ـ | مخینان (لومړنۍ آریاني شاهی کورنۍ او شاهان) |
| پیشدآوري | پیش قضاوت | مخورمند |
| پیش دار | مقدمة الجیش | سرلښکر |
| پیش درآمد | ساختي (پ) | مخکنی ساز، اوورتیورې |
| پیش رس | مخکې رسېدونکی | مهینه (مینه...) |
| پیشرفت | ـ | پرمختگ |
| پیشرو | مخکې تلونکی | مخکښ، مخیونی |
| پیش رونده | وړاندې تلونکی | پرمختلونی |
| پیش روی | پېش روی | وړاندې تگ، پرمختگ |
| پیش سینه | ـ | ټټر (د کمیس د ټټربرخه) |
| پیش فروش | ـ | سلم، مخپلور |
| پیش فنگ | ـ | ټوپك تیار! |
| پیش قراول | ـ | سرلښکر، نظام قراول |
| پیش قطار | مخکې قطار | سرلښکر |
| پیش کار | ـ | لاربښود، مشر |
| پیش کرایه | ـ | پېشکي کرایه |
| پیشگام | پېشقدم | مخکښ، سرکښ، مخیونی |
| پیش گفتار | مقدمه | مخنۍ خبرې، سریزه، پیلیزه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پیش گفته | مخکې ویل شوی | نوموړی، یادشوی |
| پیشگو | اټکل کوونکی | مخوېند ، وړاندویاند |
| پیش گویی پیش گویی (پ) | | وړاندوېینه، اټکل |
| پیشگیری (جلوگیری) | ـ | مخنیوی |
| پیش لنگی (پېش دامن) | ـ | پېشبند ، مخبند |
| پیش مزد | ـ | پېشکي لاسباړه |
| پیش نرفتنی | ناممکن | ناشونی |
| پیش نما (پیش امام) | پېش امام | امام |
| پیش نویس (مسوده) | مسوده | لمېسه |
| پیشه | کسب دنده | ورهڼه |
| پیشه ور | کسبکار | لاسکاری،کسبگر، ورهڼگر |
| پیشی | سبقت | مخکېوالی |
| پیشیاب | ـ | مختیاری، چمتو |
| پیشیار | ـ | متیازې، مېتیازنۍ |
| پیشیاره | ـ | پتنوس |
| پیشین | قبلی | پخوانی، مخکینی |
| پیشینه | سابقه | مخکینی، سربل، مخینه |
| پیشینه دار | سابقه دار (جرمی) | مخینه وال |
| پیشیان | اسلاف | مخینان، پخواني (پلرونه او نیکونه) |
| پیش از پیش | ـ | مخکې له مخکې، وار له واره |
| پیش برآمده | | مخ (ته را) وتی |
| پیش بر آمده گی | ـ | مخ (ته را) وتنه |

۲۷- **په - با ، مختاړي** پارسي ستاینومونه او کړولونه (صفات او قیود) ځینې پښتو ژباړونکي په هماغه آره بڼه را پوروي او کله يې ډېر بې خونده را ژباړي، بې له دې چې له ګړنۍ پښتو مرسته وغواړي او روستاړي والا انډولونه ورته پیدا کړي، لکه :

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| باایمان | ایماندار | مېړه، میړنی |
| باابتکار | ابتکار لرونکی | نوچاری، نوښتگر |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| باآب ورنگ | _ | ځلبلي، ځلاند ، پسوللی، ښکلی، ګلالی |
| با آب وتاب | _ | پتمن، په زړه پورې، په پت وعزت |
| بااراده | اراده لرونکی | هوډمن |
| بااساس | اساسی | بنسټیز |
| با اطلاع (باخبر) | خبر لرونکی | خبر، خبراتر |
| باانضباط | _ | ټینګ موټی |
| بابرکت | برکت لرونکی | برکتي، له برکت سره |
| باپشتکار | _ | کارند ، زیارکښ، ډېرکاری |
| باحوصله | حوصله لرونکی | پېڅیالی، زغمناك |
| بااتفاق | اتفاق لرونکی | یوموټی، یولاسی |
| باارزش | ارزښت لرونکی | ارزښتمن، ارزښتناک |
| باتجربه | تجربه لرونکی | ازمېښتکار، ازمېښت والا |
| باخبر | باخبر | خبردار، خبر |
| باخرد | عاقل | پوه، ویښیار |
| بادرد | بادرده | دردمن |
| بادرد ورنج | په دردوکړاو | دردمن او رنځن |
| بااخلاق | خوش اخلاق | نېکخویه |
| باسواد | باسواد | لیکلوستی، لوستی |
| بارحم | رحم لرونکی | زړه سواند ، لورین، لوراند |
| باشرف | شریف | پتیال (-ی) ، پتمن |
| باشرم | شرم لرونکی | شرمناك |
| باحیا | باحیا | حیاناك، ماتمخی |
| باسرشته | _ | سمبالوونکی، پاك کاری |
| باسلیقه | سلیقه والا | خورزونی، خورمنځی |
| باشهامت | شهامت لرونکی | مېړنی، مېړه، مېړانې والا |
| باشکوه | له شوکته ډك | شاندار، پرتمین، برمیال، ستر |
| باصفا | _ | سپېڅلی، پاکزړی |
| باعاطفه | عاطفه لرونکی | مهربان، لورین، لوراند |
| باعظمت | شاندار | ستر، پرتمین، برمیال |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| باغیرت | باغیرته | غیرتی، مېړه، مېړنی |
| باکروفر | دبدبه لرونکی | په ډب وغپ، له برم وپرتم سره |
| باکمال | دکمال خاوند | تکړه، کمال والا، رسېدلی، وتلی |
| بامعرفت | معرفت لرونکی | پوه، پېژندوی |
| بانقاب | نقاب لرونکی | مخپټی |
| باوجود | باوجود | له - سره سره، سره له - |
| باوصف | رر رر | رر رر |
| باوفا | باوفا | وفا لرونکی، پالیال |
| باوقار | دوقار خاوند | پتمن، درون |
| باعزت | د عزت خاوند | رر |
| باهم | (سره) یوځای | ګډ، یو له بله، وبله، ځبله |
| بایکدیگر | رر رر | رر رر |
| باهمت | باهمته | مېړنی، همتناك |
| باهوش | عاقل | وینن، ویښیار |
| باعشق و علاقه | د عشق او علاقی خاوند | لېوال، مینه وال |
| بانزاکت | بانزاکته | نزاکت والا |
| بامزه | مزه لرونکی | خوندور، خورمنی |
| بالذت | رر رر | رر رر |
| باتدبیر | دتدبیر خاوند | پوه، ځیرك |
| باتربیه | د تربیې خاوند | روزلی، پوولی، دودیال |

۲۸ - په – ګزار او - ګذار "د ترسره کولو" او پرېښوولو په جاج جوړ شوي او جوړېدونکي پارسي ښلنګونه په پښتو کې ښېخي پر بل ډول ښلنګونو اوړي . دا چې دغه دواړه روستاړي یوه مانا او یو راز چار نه لري، نو په کار دي، پښتو ژباړونکي یې هم دغه توپیر په پام کې ونیسي. د ساري په توګه نمازګزار لمونځغاړی وژباړي او نمازګذار بیلمانځه. ځینې نو کاري پارسي ژبې لیکوال هم دغه دواړه روستاړي سره ګډوي او یو د بل پرځای یې کاروي :

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| قانون ګذار | – | دوی رغاند ، قانوساز |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| شریعت گزار | شرعی اجراکوونکی | شرعي قانوساز |
| نمازگزار | لمونځ کوونکی | لمونځغاړی |
| نمازگذار | لمونځ نه کوونکی | بیلمانځه |
| سپاسگزار، منت دار | منت بار | پاسللی، منندوی |
| شکرگزار | رر رر | رر رر |
| منت گزار | رر رر | رر رر |
| منت گذار | احسان ایښوونکی | پاسلونی |
| امانت گذار | | امانت اېږند |
| خراج گزار | خراج ورکوونکی | کلنگوړی، خراج وړی |
| باج گزار | باج ورکوونکی | رر رر |
| احترام گزار | احترام کوونکی | درناوند ، درناوگر |
| ارج گذار | ارزښت ورکوونکی | رر رر |
| تاجگذار | تاج ایښونکی | خول اېږند ، خول اېښواند |
| تاریخ گزار | تاریخ لیکونکی | پېښلیکوال |
| کارگزار | کارکوونکی | کارمند ، کارکړند |
| آهنگذار | د وسپنی ټینگونکی | وسپنټینگی |
| بیمه گزار | بیمه ورکوونکی | بیمه والا |
| پایه - بنیان - اساس گذار | بنسټ ایښودونکی | بنسټوال، بنسټگر |
| خبر گزار(- رسان) | خبر رسوونکی | خبریال، خبررساند |
| - ي | خبر رسونه | خبري |
| برگزار(کردن) | دایرکول | دایر- جوړ(ول) |
| حق گزار | حق ادا کوونکی | څارنوال، رښتیاپال |
| مین (ماین) گذار | ماین اېښوونکی | ماین اېږند |
| فروگذار | پرېښوول | له پامه غورځول |
| دورهٔ گذار | عبوري (دوره) | لنډ مهال (پېر) |
| واگذار (کردن) | | ورپرېښوول، ورلېږدول |
| _(فروگذاشت) | پرېښونه | ناغېړي، پرېښنه |
| سخنگزار | خبری کوونکی | ویناوال |
| سرمایه گذاری | د پانگی اچونه | پانگ اچونه، پانگونه |
| نقطه گذاری | ټکي اېښوونه | لیکښنبه، لیکښنبې |

۲۹ - په - هم - مختاړي جوړ ښتونه هم له هغو بېلنگونو څخه نه دي چې گوندې یوازې په پارسۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې اړه لري. پښتو د (همزولی) او (همغاړی) غوندې هم لږ و ډېر ورته بېلګې لري او په دې توګه ورته په لاسي او قیاسي توګه نوره هم پراختیا ورکولای شو. لکه همرنګ یا همرنګی، هم مهالی(همزمان)، هم ځېلی (همنوع)... مګر ځینې پارسي هغه کېدای شي، پر نورو انډولونو پښتو شي، لکه همسایه د ګاونډي، همزیستی (ګډ ژوند)، همنوا (همغاړی)، هم آهنګي(همغږی)، همراه (مل، ملګری، همدیګر (یوله بله، وبله، ځبله)، همدرد (خوا خوږی)، همدست (یولاسی)، همزبان (هم ژبی، یوه خوله)، همدل (یوزړی)، همصنف یا همصنی (ټولګیوال)، هم قلعه (کلیوال)، مګر همشهری پر ښاروال ځکه نه شي اړول کېدای چې یوه اداري نومونه منل شوې ده. نو همښاری یې انډول کېدای شي، نورې بېلګې:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| همسنګر (همرزم) ـ | همسنګر(ی) | سنګر مل، هممورچلی |
| همواره، هماره | ـ | تل، همیشه |
| هم ارز | یوشان ارزښت لرونکی | همارزی |
| هم آغوش | ـ | همغاړی، غېږ پرغېږ |
| هم اتاق | هم اتاقی | همکوټه، همخونی |
| هم خانه | ـ | همکوری، ګډکوری، همخونی |
| همانند | یوشان | یو ډول، یورنګ، ورته |
| هم آواز (همصدا) | ـ | هم اواز، هم غږی |
| هم آهنګ | ـ | همغږی |
| هم باز | ـ | هم لوبی |
| همدرد | همدرد (پ) | خواخوږی |
| همګام | ملګری | همګامی، همیونی |
| هم مجلس | هم مجلسی | همبنډاری |
| هم بزم | هم بزم | هم بنډار(ی) |
| هم بستر | ـ | همبستر(ی) |
| همبستګی | همبستګی، سره نښتون | پیوستون |
| همپا | ـ | مل، همیونی |
| همپایه (هم ترازو) | همپایه | انډیوال، همپوړی، همپوړی، همځنګ |
| هم پشت | ـ | مرستی، ملګری(همکاری) |
| همپیاله (هم پیک) | همپیاله | همپیاله |
| هم پیشه | ـ | همدندی، همپازی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| هم پیمان | هم پیمان | همتړونی، همژمنی |
| هم جنس | هم جنس | همنوږی |
| هموزن | هموزنه | همتولی |
| همجوار | همسایه | گاونډی، چموال، کندیوال |
| هم چشم | ـ | سیال، جوگه، بډ |
| هم خواب | هم خواب | همبستر(ی) |
| همدم | همدم | ملگری،انډیوال |
| همقوم (همتبار) | ـ | همټبری |
| همزبان | ـ | همژبی |
| همدین ـ همکیش | ـ | همدینی، همکېښتی |
| همراز | همراز | خوالو، خوالگر |
| همخون (هم نژاد ، هم عرق) | | هموینی، گډوینی |
| هم رای (همفکر) | ـ | هم سندی، هم اندی |
| هم رنگ | یوشان | همرنگ(ی) ، یورنگی |
| همروزگار(همعصر) | معاصر | هم مهالی، همپېر(ی) |
| همزاد | ـ | همزولی |
| همسال | ـ | همزولی |
| همسان | ـ | ورته، یورنگ، همرنگ |
| همسایه | همسایه، گوانډی | گاونډی، کډوال |
| همسو (همگرا) | | هملوری، هموخی |
| همسود | کامنلویلت | همگټي(هېوادونه) |
| همزبان، همنژاد (همتار) | | همژبی، همتوکمی |
| هم سبق (همدرس) | همصنفی | هملوستی، ټولگیوال |
| هم سخن | ـ | یو(ه) خوله، همسندی |
| هم میهن - هموطن (وطندار) | | هم هېوادی، هېوادوال |
| همسر | همسر | مېره، ښځه، میرمن |
| همسفر | همسفر | لارمل، ملگری، همیونی |
| همراه | ملگری | مل، هملاری |
| هم سن ـ | همسنه | همزولی، هم منگی |
| هم سنگ (همتا) | ـ | همتولی، همپوړی، همپوړی، همځنگ |
| هم شکل | هم شکل | هم جوله، همډولی، همرنگی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| هم صحبت | همصحبت | هم خبری، همگپی |
| همشیره | خور | خور، خوری (نرسه) |
| هم عقیده | هم عقیده | همگروهی |
| هم قطار | هم قطار، هم مسلکی | انډیوال، همغاړی، همڅانگی |
| همکار | - | همکار(ی) |
| هم کاسه (همخوراك) | - | همکاسه، همکوبی |
| هم کفو | - | ساری، سیال، گور |
| هم مکتب | د مکتب ملگري | ښوونځیوال |
| هم نام | سمنامی | همنامی، همنومی |
| هم نرخ | - | همنرخی، یونرخی |
| همنشین | همنشین | انډیوال، گاونډی، سره ناست (پاست) |
| هموار | اوار | هوار |

۳۰ - په مختاړي یامخکړ- باز پخواني او نوي پارسي ښېلنگونه هم کوم کمی نه لري. د دغه مختاړي انگرېزي انډول (ري-)، المانی یې (ویدر) او پښتو یې (بیا -) دی. پښتو (بیا موندل) د دری (باز یافتن) ډیر پخوانی انډول بلل کېږي او په دې توگه ورته په نورو کړونو (فعلونو) کې دودور کولای شو، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| باز خواست | باز خاست | پوښتنه، گروېږنه |
| بازپس | دوباره | له سره، بیرته |
| باز پرس | پوښتنه | پلټنه ، څېړنه |
| باز رسان | مفتش | پلټونکی، څارونکی |
| بازساز | جوړوونکی | بیا رغاند |
| بازسازی | بیا جوړونه | بیا رغاونه، بیا رغاو |
| بازگو | - | بیاویونکی، بیاویلی |
| بازگویی | - | بیاویېنه |
| باز تاب (بازتابنده) | انعکاس | ځلښت، غبرگون |
| باز یاب | موندونکی | بیاموندی |
| بازیابی | موندنه | بیاموندنه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| باز گشت (باز گرد) | بیرته راگرځېدل | راستنېدنه، (بیرته) راتگ |
| بازمان | _ | شنشوب (رسوب) |
| باز آورد (ره آورد) | سوغات | ډالۍ، یادنښه |
| بازبین | تفنیش، مفتش | پلټونکی، څارند |
| باز بینی | تفتیش | پلټنه، څارنه |
| بازنگری | تجدید نظر | نوې کتنه، بیا کتنه |
| باز پسین | اخرین | وروستنی |
| بازپیچ | _ | تاال |
| بازتابش | انعکاس | ځلېدنه، برېښېدنه |
| بازجو | _ | گروېږند |
| باز خرید | بیا اخېستل | یرغمل بیه، بونگه |
| باز دار | _ | باز لرونکی، بازساتی |
| بازداشت، بازداری | گرفتاری | نیونه، نیونگ |
| باز داشتگاه | خواله جات(پ)،توقیف | اړیځی، ستناوځ |
| باز دم | بیرته سا ایستنه | سا اېستنه، سااخېستنه، دمه |
| باز ده | _ | گټور |
| بازدید | ملاقات | لیدنه، کتنه، لیده کاته |
| باز پرداخت | _ | بیا اداینه |
| باز مانده (بازمان) | _ | پاتشونی، وروسته پاتې، ژوندی پاتې |
| باز کرد | _ | پرانېسته، (بانکي حساب) |
| باز گیری | _ | غوښتنه، غوښنلیك |
| باز رس | _ | څارند ، پلټونکی |
| بازرسی | غورسی | څارنه، پلټنه |
| باز جو (باز جویی) | _ | پلټونکی، (گروېږنه) پلټنه |
| باز گونه | _ | بد مرغ، بدمرغه، بدبخت |
| باز نویس | _ | بیا لمېسی |
| باز نشسته | متقاعد | کورناست |
| بازیافت | بیرته لاس ته راوړنه | بیا اخېسته، بیرته اخیستل، بیا موندنه |
| باز نشسته گی | تقاعد | کورناسته، کورناستی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| بازستانی | _ | بیرته اخېستنه |

۳۱- په- ار روستاړي رغېدونکي پارسي کړنومونه په اوسنیو ایراني نیولوجېزمونو کې مخ پر زیاتېدو دي، لکه:

| | | |
|---|---|---|
| گرفتار | _ | ښکېل، نیولی، بندي |
| رفتار | رفتار | تگ، یون، کړه وړه، چلند |
| گفتار | خبرې | وینا، گړهار |
| ویراستار، پیراستار | سموونکی | سمیال |
| نوشتار | لیکل | لیکنه، کښنه |
| ساختار | جوړونه | رغاو، رغاونه، جوړښت، اډانه |
| کشتار | قتل، وژنه | ټولوژنه، ټول وژله، چړاو |
| کردار | کردار | کړه وړه، کړن |
| پرستار | پرستار(_ه) | ووړپال، ناروغپال |
| جستار | لټونه | لټون، پلټون، پلټنه |
| خواستار | خواهش کوونکی | غوښتونکی، هیله من |
| خریدار | اخېستونکی | پېرونکی، پېرند |
| شنیدار(شنیداری) | اورېدنه(سمعي) | اورېدن(اوریز) |

۳۱ - په - وش، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| مهوش | _ | سپوږوزمه، سپوږمۍ مخی |
| سیاوش | _ | توروزمه، تور ارغوش |
| پریوش | د ښا پېرۍ غوندې | ښاپېرۍ (وزمه) |
| لاله وش | _ | غاټوزمه، لاله رنگ |
| دیوش(دیوفش) | د دېو غوندې | دېووزمه |

۳۲ - په گون، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| گندم گون (سبزه) | - | غنمرنگ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| لاله گون (لاله رنگ) | د غاټول غوندې | لاله رنگ |
| سيمگون | - | زرين |
| قيرگون | دقير په شان | قير رنگه، تورتپلی، توتپی |
| شبگون | د شپې غوندې | توره تياره، تورتم |
| ميگون | د شرابو په رنگ | مې رنگه |
| همگون(هم مانند) | _ | ورته، همرنگ(ی) |
| نيلگون (نيلفام) | - | د نيل غوندې شين، نيلي، وودي |
| لعل گون (لعل فام) | دلال په شان | لال وزمه |
| گلگون (گلفام) | د گل په رنگ | گلرنگ |
| آسمانگون | د اسمان په رنگ | شين، اسماني |
| آبگون | د اوبو په رنگ | شين بخن |
| سرخ گون(سرخ فام) | تك سور | سور بخن، سوررنگی |

**۳۳- په - مانند ، لكه :**

| پارسي | ناكره پښتو | كره پښتو |
|---|---|---|
| مارمانند | د مارغوندې | مارډوله |
| در مانند | د مرغلرې غوندې | مرغلين |
| موم مانند | د مومو غوندې | موم وزمه |
| لعل مانند | دلال غوندې | لال وزمه |
| كر مانند | د كوڼ غوندې | كڼ هوڅ، غوږدروندی |

**۳۴ - په - آسا ، لكه :**

| پارسي | ناكره پښتو | كره پښتو |
|---|---|---|
| دود آسا | د دود په شان | لكه دود ، دود وزمه، لوغړن |
| دل آسا | د لاسا | خواږولی، پوخلا ، هوسا |
| سيل آسا | د سيلاو غوندی | نيز وزمه |
| برق آسا | د بريښنا په شان | لكه بريښنا ، بريښنا وزمه |
| نوبت وار(نوبتی، متناوب) | نوبتي | واريز، په واريز ډول |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۵- په - وار، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| فرزانه وار | _ | پوهيالانه |
| پروانه وار | پتنگ | وزمه |
| خانه وار | _ | کورنۍ، کورنيز، کورسر |
| فصل وار | _ | پرهرکښت، هرکښته، موسمي |
| ماهوار | مياشتيز(پ) | مياشتنی، مياشتينی |
| پيداوار | _ | پيداوار |
| برادروار | د ورور په څېر | لکه ورور، ورورگلويز، وروروانه |
| قهرمان وار | _ | اتلانه، اتلوزمه |
| بزرگوار | _ | ستر، پياوړی |
| هفته وار | هفته يي | اوونيز، هره اوونۍ، اوونۍ پر اوونۍ |
| اميدوار | د کانديد په مانا(پ) | هيله من |
| پريوار | د ښاپيرۍ غوندې | لکه ښاپېرۍ، ښاپېرۍ وزمه |
| مردانه وار | د نارينه په شان | په مېړانه، مېړه وزمه |
| ديوانه وار | د لېوني په شان | لکه لېونی، لېونډوله |
| طوطی وار | د طوطي غوندې | لکه توتي، توتي وزمه |
| سراسيمه وار | پرېشان | ارور ترور |
| سوگوار | ماتم کوونکی | ويرن، ويرمن، ويرژلی |
| سزاوار | _ | وړند(ـه) |
| سبزه وار | _ | شينډنډ |
| راهوار | _ | اراميونی، يرغه |
| مرده وار | لکه مړی | مړزگه، مړوزمه،غونجا |
| شيروار | شيروار | منداښو-غړکه-ځی(کول-وهل) |
| شاهوار(شاهانه) | _ | شاهانه |

۳۶- په - مرد سره رغېدلي پارسي تړنگونه (ترکيبونه)، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| ابر مرد | ابر مرد | زبروگړه، سترمېړه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| شیر مرد | د زمري غوندې سړی | زمریالی، زمریال، زمری |
| دانشی | مرد پوه | مېړه، پوهیال |
| دادمرد | سخي | لوی‌لاسی، بښاوو، پراخلاسی |
| آزاد مرد | _ | ازاد لوښی |
| جوانمرد | ځوانمرد | ځوان (لوښی)، ښه ځوان، مېړه |
| دولت مرد (مدار) | دولتي | چارواك |

۳۷- په - یار رغېدلي پارسي تړنگونه، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| هوشیار | هوښیار | ویښیار |
| شهریار | شهریار | ټولواك، واکمن |
| دستیار | دستیار | مرستیال، مرستی |
| استاد یار | داستاد مرستیال | پوهندوی، پوهنوال |
| دانش یار | استاد ، پوهنیار | پوهنیار، پوهنمل |
| هنریار | _ | هنرمل |
| خدایار | _ | خدای دوست، خدایمل |

۳۸- په - کرد ، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| عمل کرد | عمل کول، د کاراجرأ | کارکړن، پرځایکړه |
| کارکرد | رر | رر رر |
| یاد کرد | یادوبود | یادونه، یادنمانځنه |
| باز کرد | افتتاح | پرانېسته |
| پیکرد | _ | پسې کړن |
| راه کرد | _ | کړنلار، کارتوگه |

۳۹- په - اگین، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| درداگین | له درد ډك | دردناك |
| زهر اگین | له زهر و ډك | زهرجن، زهرژلی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| سهمگین | له بوږ نه ډك | بوږنوړی، بوږند |
| شرمگین | له شرمه ډك | شرمناك |
| غمگین | غمگین | غمجن، خواشینی، ویرژلی |
| آبگین | _ | اوبلن، نری |
| نمگین (پرنم) | _ | نمجن، زیمجن |
| خشمگین | قهرکوونکی | قهرژلی، قارجن، ځاځمن |
| میانگین | وسطی | منځنی |

**۴۰- په - پذیر، لکه:**

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| امکان پذیر | امکان لرونکی | کېدونکی، کېدونی، شونی |
| انعطاف پذیر | انعطاف منونکی | نرم، نرمښت منی |
| آشتی پذیر | _ | پوخلا کېدونی، پوخلاینوړ |
| آسیب پذیر | حساس | زیانمنی |
| تغیر پذیر | تغیر منونکی | اوښتونکی، ونجېدونکی، ونجوړ |
| تاثیر _ اثر پذیر | تاثیر منونکی | اغېزمنی |
| جبران ناپذیر | نه جبرانېدونکی | ناسکیندی |
| خلل پذیر | خلل موندونکی | زیانېدونکی |
| خلل ناپذیر | خلل نه منونکی | زیان نه منونکی، نازیانمنی |
| برگشت پذیر | _ | شاتگی |
| برگشت ناپذیر | _ | نه ستنېدونکی، نا پر شا تلونی |
| شکست ناپذیر | ماتی نه خوړونکی | ناماتی |
| انکار نا پذیر | انکار نه منونکی | نا نټی، نانټوړ، نانټیاله |

**۴۱- په - نما، لکه:**

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| انگشت نما | انگشت نما | گوت لکی، اوخار، رسوا |
| خودنما | خود نما | ځانښکاری |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| زرد نما | – | ژیړبخن |
| مرمر نما | د مرمروغونډې | مرمروزمه |
| نخ نما | – | تاربښکاری، تاروزمه |
| قطب نما | قطب نما، قبله نما | شمالښود، قبله ښود |
| گندم نما | – | غنمرنگ، غنمښود |
| دورنما | دورنما | لرلید |
| خوشنما | ښه ښکارېدونکی | ښکلی، ښه اېسی |
| قدنما | قدنما | ځان هېنداره |
| رونما | برجسته نما، جوت ښود | مخرونې (ناوې) |
| تمام نما | – | ټول ښکاری |
| طاق نما | – | تاخچه وزمه |
| جهان نما | جهان نما | نړۍ ښود |
| آبنما | – | اوبرنگ، اوبښکاری، شینوبره |
| مسلمان نما | مسلمان نما | مسلمان ډوله |
| طوفان نما | – | توپان وزمه |
| بدنما | بد ښکاره کېدونکی | بدرنگ، بداېسی |
| آردنما (آردی) | د اوړو په شان | اوړه وزمه |
| بادنما | د باد په رنگ | توند، گړندی، باد مېچ |
| شتاب نما | – | هودو گراف، هودو مېتر چټک مېچ |
| شب نما | – | بلیندړه، بلاند |
| پیش نما | پېش امام | امام |

**۴۲- په - بر، چې د وړنگ، کښنگ او لېږد جاج ښندي:**

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| پیغمبر - پیامبر | پېغمبر | استازی، ځری |
| مسافر بر | مساپروړونکی | سپرلۍ لېږدی، سپرلېز (گاډی، الوتکه) |
| رهبر | رهبر | سرلاری، لارښود، مشر، سرغندوی |
| دربر | شامل | رانغښتونکی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| رنجبر | رنځ وړونکی | زیار کښ، ربړیالی |
| باربر | بارووړونکی | باري، پنډي، پلنډي |
| فرمانبر | _ | فرمانوړی، ورمندوړی |
| چایبر | چای بر | چای اېشی، چای جوش |
| امر بر | _ | (دوتري) ډاگی |
| دلبر | زړه وړونکی | مینه، مینه وړی |
| سیمین بر | _ | سپین غېږی |
| سیل بر | _ | توی، خوړ، لگړ |

۴۳- په _ مان، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| ساختمان | جوړونه | وداني، رغاونه، جوړښت |
| خانمان | _ | کورنۍ، کهول |
| دودمان | _ | رر رر |
| سازمان | _ | سازمان |
| زایمان | ولادت | لنگوال، لنگون، زېږون |

۴۴- په - دان یا - دانی د توني او لوښني روستاړي په توگه، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| گلدان، گلدانی | گلدان | کونډاله، کوکنۍ |
| آتشدان (دیگدان) | _ | اورغالی، نغری |
| قهرمان | قهرمان | اتل |
| زهدان | زهدان | زېلانځ، گنهی |
| سنگدان | _ | شا ټینگه |
| قندانی(قندان) | قندانۍ | خوږنۍ |
| شکردان | رر | رر |
| چمدان(جامه دان) | بکس، سوټ کېس(پ) | چمدان |
| قلم دان | _ | قلم دان |
| جز دان | همیانۍ | جیبی کتاب، بټوه، مشلیکی |
| سرمه دانی | | رنجرومه |
| سگرت دانی | سگرت دانی | سگرتنۍ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| خاکستردانی | خاکستردانې | ایرنۍ |
| خمیر دان(ـی) | ـ | کولپې |
| بایسکل دانی | ـ | دوڅرخنۍ |
| شمعدان (ـی) | ـ | ماردنګۍ |
| میوه دانی | میوه دانې | میوه نۍ |
| چتری دانی | | چترنۍ |
| شاشدان | | پوکنۍ، متیازنۍ |
| تفدانی | تفدانی | توکنۍ |
| تخمدان (شیردان) | ـ | زېلانځ، ګب |
| یخدان | یخدان | یخنۍ، لوی وسپنیزبکس |
| ناوه دان | ناوه | تره، ترۍ، څمڅۍ |
| آبدان | آبدان | اوبنۍ |
| زنخدان | شانه دان | ږمنځنۍ |

۴۵- په - باف، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| گلیم باف | ټغر او بدونکی | چلګر، کنوال، پېښور |
| پشمینه ـ پشم باف ـ | - | وړۍ اوبی |
| قالین باف | قالین اوبدونکی | غالۍ اوبی |
| بوریا باف | پوزی جوړوونکی | پوزیار |
| خیال باف | خیال پالونکی | انګېریال، واندیال |
| دروغ باف | دروغ اوبدونکی | دروغجن، دوړن |
| تهمت باف | تومت لګوونکی | تور لګاوی |
| منفی باف | منفی باف | نشتاند، نهیلېست |
| زرباف | ـ | زروبی |
| جوراب باف | ـ | پلستر اوبی |
| مخمل باف | ـ | بخمل اوبی |

۴۶- په ـ نشین، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| دلنشین | ـ | زړه راکښونی، په زړه پورې |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| جانشین (جایگزین) | جانشنین | ځایناستی |
| مرز نشین | ـ | برید مېشتی |
| صحرا نشین | صحرایی | کوچی، پوونده، بیدیا مېشتی |
| بادیه نشین | رر | رر |
| کرایه نشین | کراکېنا ستونکی | کډوال،کرایوالا |
| خانه نشین | کور کېناستونکی | کورناست، پرکور |
| شیخ نشین (نشینی) | شیخ نشیني | شیخ مېشتی (هېواد، سیمه) |
| عرب نشین | ـ | عرب مېشتی |
| یهود نشین | ـ | یهود مېشتی |
| گوشه نشین (خلوت نشین) | ـ | گوټ ناست (ـی) |
| دهنشین | د کلي او سېدونکی | کلیوال |
| شهر نشین | د ښار او سېدونکی | ښاری، ښاري |
| همنشین | ـ | همغاړی، گاونډی، انډیوال |
| ته نشین | رسوب | بېخ، بېخنیو، شنشوب |

## ۴۷ - په ـ پراگنی، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| دروغ پراگنی | دروغ ویل | دروغ بادونه |
| زهر پراگنی | زهر شیندل | زهر شیندنه |
| مکروب پراگنی | مکروب شیندل | مکروب شیندنه |
| تخم پراگنی | تخم پاشي | توخم کرنه، توخم شیندنه |
| سخن پراگنی | بروډ کاسټ | رادیویي خپرونه، خبرلوڅي |

## ۴۸- په - بین، لکه:

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| خود بین | خودبین | ځان وینی |
| نیکبین | ـ | ښوینی، نېکوینی |
| بدبین | بدبین | بدوینی |
| خوش بین | خوشبین | ښوینی |
| نزدیك بین | نژدې لیدونکی | لنډوینی |
| باریك بین | باریك بین | کك وینی، ووړ وینی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| سیال بین (تماشاچی) | تماشگر | نندارچی، سیلانی |
| دور بین | دوربین | لروین، لروینی |
| ذره بین (خوردبین) | ذره بین | کللك وین |
| پله بین | پله بین | ورځچاری |
| کجبین (لوچ) | _ | کوږ سترگی، چغر |
| فالبین | فال لیدونکی | پالي(پ)، پالگر |

**۴۹ - په _ رو ، لکه:**

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| خودرو | موټر، گاډی | اډی |
| راهرو | _ | لاروی |
| پیرو (دنباله رو) | پیرو | پلیونی، لاروی |
| شبرو | _ | شپه یونی، شپه گرځی |
| میانه رو | _ | منځلاری |
| پیشرو | _ | پرمخیونی |
| موتر رو | سړك | سپره لار |
| پیاده رو | _ | پلې لار |

**۵۰- په – خوان، لکه:**

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| دستر خوان | دسترخان | کوبی، کوندری |
| فراخوان | دعوت | بلنه |
| آواز خوان | گلوکار(پ) | سندرغاړی |
| خوشخوان | خوش آواز | خوږ غاړی |
| سرودخوان | _ | سرودبول، سندربول |
| غزلخوان (غزل گو) | _ | غزلبول |
| نعت خوان | نعت ویونکی | نعتبول، ناتبول |
| قرآن خوان | قرآن لوستونکی | قرآن بول |
| سوز خوان (نوحه سرا) | _ | ساندو ،ویرنبول |

**۵۱ - په - رس، لکه :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| بازرس | مفتش | پلټونکی، څارونکی |
| دسترس | _ | لاسرسی |
| نورس | _ | نوررسی |
| زودرس | _ | ژررسی |
| فریادرس | _ | غو رسی، غمخور |

**۵۲- په - گیر او - گیری روستاړی منځته راغلي پارسي بېلګونه، لکه:**

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| دمگیر | _ | دوپ (لند ه تودوخه) |
| نخگیر | تارنیوونکی | تارنیو (ماشین) |
| دندان گیر | وړ | وړند ، خوندور |
| سیم گیر | _ | سیم نیو |
| غافلگیر | غافلگیر | ناگار، ښکېلی |
| همه جا گیر (ساری) | ساري | ټولپمی، پمخپوری، ډېر خپوری |
| شماره گیر (تلفون) | شمېر ثبتوونکی | شمېر نیو (لرغږون) |
| سنجاق گیر (سنجاق دانی) | | ستګنۍ |
| بادگیر | بادگیر | هوا بندی |
| بارانگیر | _ | باران نیو ، باران پنا ، (د باران) چتر، څېر |
| نکته گیر (خرده گیر) | _ | گوتنیوونکی، ویارپال |
| سهیل گیر (سهل انگار) | اسانخوښی | ناغېړی، سرسري |
| سربازگیری | _ | سرتېرنیونه |
| فراگیری تحصیل | جامعیت زده کړه | ټول نغښتي |
| ازسرگیری | _ | له سره پیلول |
| سوختگیری | _ | سونتوك اخېستنه |
| اندازه گیری | اندازه اخېستنه | کچ و مېچ |
| کره گیری | _ | کوچ اخېستنه، شاربنه |
| لکه گیری | رټه نیونه | رټه پاکي |
| رد پا گیر | پل پلټونکی | پل نیو ، منډ نیو ، څرکبه |
| فاصله گیر | _ | واټننیو |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| جنگیر | _ | پېریانی |
| کشتی گیر | غېږ نیوونکی | پالوان، غېږ باسی |
| دشوار گیر (سختگیر) | _ | سخت چاری |
| وامگیر | _ | پوروړی، پوروونکی |
| گلگیر | گلگیر | ختپاک (گاډی) |
| درگیر | گیر | ښکېل |
| کفگیر | کفگیر | سمځۍ، کرنډۍ |
| هواگیر | هوادار | تاندهوا |

**۵۳ - په (- انگیز) یا (-برانگیز) روستاړي رغېدلي پارسي بېلگونه په پښتو کې په راز راز روستاړو سره انډول کېدای شي:**

| پارسي | ناکره پښتو | کره پښتو |
|---|---|---|
| دل انگیز | زړه خوښوونکی | زړه تاندی |
| روح انگیز | روح خو شالوونکی | زړه راکښونی |
| حیرت انگیز | اریا نوونکی | هېښنده |
| گفته انگیز | | - |
| وحشت انگیز (هولناك) | وحشت رامنځته کوونکی | بوږنوړی، سونځ، ترهوړی |
| هول انگیز (مهیب) | _ | |
| فتنه انگیز (فتنه آمیز) | پتنه زېږوونکی | پتنه پاری، پتنه زېږی |
| سر انگیز (شرارت انگیز) | شر اچوونکی | اورپکی، اورگډی |
| عبرت انگیز | عبرت ورکوونکی | لوستښود |
| شهوت انگیز | شهوتی | خارښتی |
| غم انگیز | غموونکی | ویر لړلی، ویر پاری |
| طرب انگیز (طربناك) | _ | مست، خوښند |
| عشق انگیز | مینه پیدا کوونکی | مینه پاری |
| نشاط انگیز | خوښي زېږوونکی | خوښند |

(c) ketabton.com: The Digital Library

درېيم څپرکی

# د يوې - کره پښتو ليکلارې سيندگی ډوله لارښود

دا کوشنی سيندگی (فرهنگوټی) ډوله لارښود چې د اړوندې چلند لارې (پروسيجر) ، آرونو او لاسوندونو پر بنسټ اوډل شوی دی ، د ټولېزې ورځنۍ گټې اخېستنې او لاسرسۍ لپاره وړاندې کېږي. په دې ترڅ کې دا هڅه شوې چې د کره بڼو د ښه تراوينگ په موخه له غرېزليك يا غرېزې ابېڅې (فونيميکي الفبې) کار وا خېستل شي او د يوه نيم نابومه يا گران ويي مانا هم په ليندېو کې وليکل شي. د غبرگژبيزو (ټ، ډ، ړ، ڼ) فونيميک انډولونه (ṭ, ḍ, ṛ, ṇ) ، د (ښ) هغه (x̌) ، خجنښه (ـَـ)، زورکی(ə) او لږو ډېر اوډون تر کليوال پاچاراوروسته ځوان اڅکزي سولگرپوه(کمپيوټرپوه) نور هم پسې را بشپړ کړل.

## الف "ا" ( a, ā, +o, +u, +w )

الف ( ا ) د پښتو ابېڅې ړومبی توری دی چې د يوه خپلواك ( واوېل ) د ځرگندوی په توگه د ويي او څپې په سر کې، له يو څو وييو ( آ ، آس ، آر ، آره ، آړ ... ) پرته نور په ټوليز ډول د زور يا فتحې (a) هومره لنډ وينگ (تلفظ) لري. د ويي او څپې په پای کې د پوره عربي الف ( ا ā ) هومره اوږد ادا کېږي خو د عربي يا هندي (اردو) په پېښو يې د همزې (ء) بڼه او وينگ راخپلول کره نه دي. د پورتنيو دروگونو سر الفونو پر سر پرته ليکه يا مد تش د همدې لپاره کښل کېږي چې له ټوليزو سرالفونو يا زورونو (فتحو) سره يې بېلتون راشي . له پارسي سره گډ سر الف او مد لرونکی سر الف هم د زور ( a ) ښوونې لپاره بې له مد ، همزې، پېښ يا بلې ښښې ښښانې ليکل په کار دي، لکه ځنگه چې په همدغه پټۍ کې کښل شوي دي، تر اوږده (مجهول) او لنډ (معروف) "و" له مخه تش د دې لپاره ليکل کېږي چې له زورکيوال ببواك يا معدوله و ( wə ) سره يې توپير راشي، لکه په (اور) او (اوږد) کې، او په دې توگه يې تر دغه بل و ( wə ) له مخه ليکل بېځايه او ناکره گڼل کېږي، لکه په وربل، وربوی، ولس، وزگار، وسپنه ... کې او دا په دې مانا چې په دغه لړ وييونو کې د خپلواك و (o) په پرتله زورکيوال ببواك و (wə) ډېر ويل کېږي او معياري ارزښت لري. همداسې يې د (ی) گانو ترمخه درواخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| کره | غربيزليك | ناکره |
| --- | --- | --- |
| ابا | abā́ | آبا |
| اباد | abā́d | آباد |
| اباسين | abāsín | آباسين ، ابا سيند |
| ابره> يېبره | yebrá | |
| اپلاتون | aplātún | افلاطون |
| اجه > اوجه | | |
| اڅکزی | acəkzáy | اچکزی ، اچکزائی |
| اخېستل | axestə́l | اخستل ، اخيستل |
| ادينه | adıná | ادينه |
| اډه (پاېگاه يا ستېشن) | aḍá | هډه |
| آر (اصل) | ār | ار |
| ارابه | arābá | عرابه ، ايرابه |
| ارام | arā́m | آرام |
| ارام سمندر | arā́m-samandə́r | غلی سمندر ، بحرالکاهل |
| ارت | art | ارت ārat |
| ارز (- ونه) | arz (-úna) | اسعار |
| ارزښت | arzə́x̌t | اهميت |
| ارزښتمن (ارزښتناك) | arzəx̌tmə́n | مهم ، اهم |
| ارزول | arzəwə́l | ارزيابي کول |
| ارزونه (ارزونګ) | arzawə́na | ارزيابي ، ارزشيابي |
| ارغندی | arγandáy | ارغندي |
| اروا پوهنه > سا پوهنه | arwāpohə́na | |
| اروپا | arupā́ | اوروپا ، اروپه ، يورپ |
| آرياني | āryāní | ارياني (اريايي) |
| آړ (مانع ، شرط) | āṛ | اړ |
| اړتيا وړ | aṛtyā- wár | د اړتيا وړ |
| اړخ | aṛx | اړخ ، آړخ |
| آړوتی (شرطی) | āṛwətáy | اړوتی |

| | | |
|---|---|---|
| اړیکی (اړیکي) | aṛikáy | اړیکه (اړیکې) |
| ازاد | azā́d | آزاد |
| ازمایل (ازمویل، ازمېیل) | azmāyə́l | ازمېښتول ، تجربه کول |
| ازمېینه (ازموینه) | azmeyə́na | ازمینه ، ازمېنه |
| آس | ās | اس |
| اسپانیا | aspānıā́ | هسپانیه |
| استاد | ostā́d | استاذ |
| استرالیا | astrālıā́ | استرالیه |
| استوگنه (استوگه) | astogána | هستوگنه |
| استوګن | astogán | هستوگن |
| اسلام کلا | eslām-kalā́ | اسلام قلعه |
| اسمان | asmā́n | آسمان |
| اسوېلی | aswelā́y | اوسېلی |
| اسیا | asyā́ | آسیا ، آسیه |
| اغېزه (اغېز) | aγezá | اغیزه |
| افریقا | afrıkā́ | افریقه |
| اگۍ > هگۍ | | |
| المان | almā́n | جرمني |
| الو | alú | آلو |
| الیخېل | alıxél | علیخېل |
| الیزی | alızáy | علي زی ، علی زائی |
| الیشنگ | alıšáng | علیشنگ |
| الینگار | alıngā́r | علینگار |
| امله | amlá | آمله |
| امرل (انتخابول) | amrə́l | مرل |
| امریکا | amrıkā́ | امریکه |
| انځور (تصویر) | anjór | انځور |
| اند (فکر) | and | آند |
| انډۍ | anḍə́y | غورمه، قورمه |
| انگازه | angāzá | ازانگه ، زونگه |
| اوار > هوار | | |
| اواز | awā́z | آواز |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| اوبه هوا (اوب هوا) | ob-hawā́ | سااوبه، آب وهوا ، اوبه او هوا |
| اوبې | obé | اوبه |
| اوبېشی (آبجوشی) | obešáy | اوبه اېشی |
| اوپیان | upyā́n | اوفیان، افیان، هوفیان (شریف) |
| اوتریش | otríš | اطریش ، اتریش |
| اوجاړ > ویجاړ | | |
| اوچکل > وچکل | wəčkə́l | |
| اوچن > وچن | wəčə́n | |
| اوچوکی > وچوکی | wəčukáy | |
| اوچولی > وچولی | wəčoláy | |
| اوچونی > وچونی | wəčonáy | |
| اوڜنډ | ucə́nḍ | اووڜنډ |
| اوخولې | uxúlay | اووخولې |
| اودرول > درول | dərəwə́l | |
| اوده > وېده | wedə́ | |
| اولان باتور | ulān-bātúr | الان باتور |
| اوربل | orbál(د فیر بولۍ) | وربل |
| اوربل > وربل | wərbál | |
| اوربوز > وربوز | wərbúz | |
| اور بېړۍ (براس بېړۍ) | or-berə́y | بخاري بېړۍ یا کشتۍ |
| اورخاړی > ورخاړی | wərxā́ṛay | |
| اورغۍ | orγə́y | اېرغۍ ، ترغۍ |
| اورگان | orgā́n | ارگان |
| اورگاډی | or-gā́day | رېل ، ترین |
| اورگون | orgún | ارگون |
| اورمېږ > ورمېږ | wərméğ | |
| اوروزگان | orozgā́n | ارزگان |
| اوریځ | uryáz | وریځ |
| اورېدل یا وورېدل | oredə́l | ورېدل |
| اورېدل | awredə́l | اروېدل |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| اوړی > ووړی | | |
| اوړکی > وړکی | | |
| اوړمه (وړځ) > وړمه (وړځ) | wəṛmá | |
| اوږد | óğd | اوږد |
| اوږه > هوږه | | |
| اوږه | uğá | وږه |
| اوژغوني > وژغوني | | |
| اوزار | awzā́r | ابزار ، اسباب ، لوښي |
| اوزګار > وزګار | wəzgā́r | |
| اوزلوبه > وزلوبه | wəzlóba | |
| اوزه > وزه | wəzá | |
| اولس > ولس | wələ́s | |
| اوس | os | اُوس ، اُس |
| اوستربل > وستربل | | |
| اوسترمهال > وسترمهال | | |
| اوسمهال > وسمهال | | |
| اوستری > وروستی | | |
| اوښتی | awə́x̌tay | اوړېدلی ، اړېدلی ... |
| اوښکه | úx̌ka | وښکه |
| اوشنل > شنل | | |
| اوولس | owə-lás | اولس |
| اووم | owə́m | اوم |
| اوونۍ | ownə́y | اونۍ |
| اوونیز (- ه) | owníz(-a) | اونیز (- ه) |
| اووه | owə́ | اوه |
| اووی > ووی | | |
| اویه > هویه | hóya | |
| اېټالیا | eṭalıā́ | اتالیه ، ایطالیه ، اټلي |
| اېرب > رېب | reb | |
| اېږ ، اېږ > هېږ | heğ | |
| اېستل | estə́l | ایستل ، وېستل، ویستل |
| اېسل | esə́l | ایسل |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| اېشله | ešə́la | ایشله |
| اېشنا | ešnā́ | ایشنا |
| اېشېدل | ešedə́l | ایشېدل |
| ایښ پیښ < هېښ پېښ | héx̌ péx̌ | |
| اېښوول | ex̌owə́l | ایښوول ، اېښودل |
| ایغ بیغ | éγ- béγ | |
| اینجه < هنجه | | |
| اینځر | ınjə́r | اېنځر ، انځر |
| اینڅۍ < څنۍ | cənə́y | |
| اینداره < هېنداره | hendā́ra | |
| اېنده (سا ، دمه) | énda | اینده |
| اېنده (ناخصی) | éndə | اینده |
| اینه < ینه | | |
| ایواد < هېواد | | |
| ایواځې < یوازې | | |
| آیه < هویه | hóya | |

## ب – b ( بې )

د پښتو ابېڅې دويم توری

(c) ketabton.com: The Digital Library

| کره | غربیزلیک | ناکره |
|---|---|---|
| بابېز (ناڅیز ، معمولي) | bābéz | بابز ، بابس |
| باچا > پاچا | pāčā́ | |
| بادر | bādə́r | بادور ، بهادر |
| بادري | bādərí | بادوري ، بهادري |
| بادرۍ | bādərə́y | بادورۍ ، بهادرۍ |
| بارخو | bāṛxú | باړخه ، باړخو |
| بانجان | bānjā́n | باڼجن |
| باندې (پر -) | bā́nde | باندې |
| باندېنی (پاسنی) | bāndenáy | باندینی ، باندنی |
| باهو (-گان) | bāhú | باوو |
| بایلل | bāylə́l | بېلل، بایلودل، بایلول، بایلوول |
| بایلنه (بایلنې) | bāylə́na | بایلات |
| باټینگڼ (بانجان، رومي بانجان) | bāṭıngáṇ | باټینگړ، باټینگر |
| باڼو (- گان یا باڼه) | bāṇú | باڼه (مفرد) |
| بډاینه | baḍāyína | غنا ، غنی سازی |
| بډایول(شتمنول) | baḍāyaw | شتمن کول، بډای کول |
| برتانیا | bartānıā́ | بړبوړکۍ |
| برتانیي | bartānayí | برتانیایي، برطانوي |
| برخلیك | barxlík | برخه لیك |
| برخمن | barxmán | برخه من |
| برخوال | barxwā́l | برخه وال |
| برخه | bárxa | بخره |
| برخیز | barxíz | برخه ایز، برخه ییز |
| برسېره > ( پردې) سربېره | | |
| برگړندی، برگنډی > روغبړ | | |
| برلاسی (برتر) | barlā́say | لاسبری |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| برم | bram | برم |
| بریا | baryā́ | لاسته راوړنه |
| برېښليك | brex̌-lík | برېښناليك |
| بړبوړکۍ | bəṛbuṛakə́y | بربوړکۍ، بوړبوړکۍ، بړبړکۍ |
| بشپړ | bə́špəṛ | Búšpəṛ |
| ښناوو | bax̌āwú | بخښناوو |
| ښنل | bax̌ə́l | بخښنل |
| بغوټ | baγót | ښنل |
| بلاربه | blā́rba | برالبه |
| بلخوا | bə́lxwā | بله خوا |
| بلنځه (غټه څېړۍ) | blánja | برلنځه |
| بله پورې > وبله پورې | | |
| بلهار(-ی) قرباني شوي | balhā́r(-ay) | بلهاري |
| بلهارول | balhārawə́l | بلهاري کول |
| بلهاري (قرباني) | balhārí | بلهارى |
| بلوڅ | balóc | بلوچ |
| بمبره | bambára | ډمپره، ډمبره، بنبوره، غمبوز، ټنډه غالبوزه، کټه مچۍ) |
| بنجخه (ببره شاخچه) | banǰə́x̌a | بنجخ |
| بنديز | bandíz | بند بز |
| بندړ | bandə́ṛ | بندڼ |
| بنډار (محفل) | bandā́r | بانډار ، بنډاره |
| بنزۍ | bənzə́y | بنځۍ |
| بڼه (څېره ، شکل) | baṇá | بڼه ( پر ) |
| بوت | but | بت |
| بوت (برد ، میبرد) | bot | بوته ، بوتلو، بوتلئ |
| بوج (د خټکي تخم) | boǰ | بنج |
| بوچری (کوټې) | bočə́ray | بچری |
| بوځي (ببرد) | bóji | بوزي |
| بوخت | boxt | بخت |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| بوخڅکۍ | boxcakə́y | بوڅخکۍ |
| بوخڅه | boxcá | بوڅخه |
| بوډا | buḍā́ | بډا |
| بوډۍ (زړه ښځه) | buḍə́y | بډۍ |
| بوږن (دهشت) | bóğən | بږن ، بوگن |
| بون (د جرمني پلازمينه) | bon | بن |
| بونېر | bonér | بنېر |
| بهېدل | bahedə́l | بيېدل |
| بياڼ (د آس بچی) | byāṇ | بهاڼ |
| بيايي | byāyí | بوزي (پ) |
| بيده > وېده | | |
| بيران> وران | | |
| بيرته | byárta | بيارته ، بېرته |
| بيول | bɪwə́l | بوول ، بېول |
| بيړنۍ (سملاسي مرسته | beṛanə́y mrásta | چټکه مرسته، عاجله مرسته |
| بيړه | bíṛa | ببېړه |
| بی يېبرې (بې حاصله، بې ثمره) | be-ébre | بې ابرې |
| بې پولې (ډاکټران) | be-púle | بې سرحده (ډاکټران) |
| بې پلوه | be-paláwa | بې پرې، بېطرفه، غيرجانبدارانه |
| بې تا ( بې له تا ) | be tā́ | پرته له تا |
| بې ښې بدې | be x̌é - báde | پرته له ښې بدې |
| بېلگه | belgá | بلگه، بولگهbélga |
| بې مرستې ... | be-mráste | بې له مرستې، له مرستې پرته |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پ – p ( پې )

## د پښتو ابېڅې درېیم توری

| کره | غرېزلیك | ناکره |
|---|---|---|
| پاتند (پایند) | Pā́tənd | پاتنی |
| پاتوړی (میراث) | pātawə́ṛəy | پاتمړې |
| پاڅېدم | Pā́cedəm | وپاڅېدم |
| پارسي | pārsí | پاړسو ، فارسي |
| پازوال (مؤظف، مسؤول) | pāzwā́l | پازه وال |
| پالوان | pālawā́n | پهلوان |
| پامور | pām-wáṛ | د پام وړ |
| پانګه | pā́nga | پنګه |
| پانګوال | pāngwā́l | پانګه وال |
| پای ټکی | pā́y ṭə́kay | د پای ټکی |
| پایلامه (خاتمه، عقوبت) | pāylāmá | پیلامه |
| پایلنیوی (نتیجه ګیري) | pāylnıwáy | د پایلې اخېستنه، نتېجه اخیستنه |
| پایلوڅ | pāylúc | پایلوچ |
| پایله (پازیب، نتیجه) | pā́yla | پیله |
| پاینه (بقاء، دوام، ادامه) | pāyə́na | پایونه ، پایېنه |
| پخپله (شخصاً) | pəxpə́la | په خپله |
| پخسه | paxsá | پسخه |
| پخلنځی (پخلنځ) | paxlənjáy | پخلی ځای، د پخلي ځای، آشپزخانه |
| پخلیکار | paxli-kā́r | پخوونی |
| پخول | paxawə́l | پوخول |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پخوله | pəxáwla | توره ټوخله ، توره غاړه |
| پرانسه (فرانسه) | parānsá | فرانس ، فرېنس |
| پرانسي (فرانسی) | Parānsí | فرانسوي ، فرېنچ |
| پرانېسته (افتتاح) | prānésta | پرانېسته ، پرانېستنه |
| پرتله | partalá | پرتله (partála) |
| پرتليز | partalíz | پرتله ييز |
| پرتوګاښ | partogā́x̌ | پرتوغاښ |
| پر دې سربېره | pər de sarbéra | په دې برسېره ، برسېره په دې |
| پر شا | pər šā́ | په شا ، پشا |
| پر کور و پر بېديا | pər kór-o-pər… | |
| پر وړاندې | pər wṛánde | په وړاندې ، په وړاندې |
| پرشنبه، پر درو بجو | pər šánba, pər dró bajo... | په شنبه، په درې يا دريو بجه |
| پرله پورې (پرله پسې) | parla póre | پبله پورې، بله پورې، پله پورې |
| پرله پېيلی (منظم، پرله پورې) | parla peyə́lay | پله پېيلې |
| پرمخيونی (پيشرو ، مترقی) | pərmaxyúnay | پرمختلونکی،پرمختلونی |
| پرهار | parhā́r | پرهر |
| پرښته (فرشته) | parəx̌tá | پرېښته |
| پرښه (ښويه تيره) | pə́rx̌a | پرخه |
| پرېستل (خملول ، راکوزول) | prestə́l | پرېوستل |
| پرېمينځل (مينځل) | premınjə́l | پرېوينځل (وينځل) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پرېوځي | prewә́jɪ | پرېوزي |
| پرېښوول | prexǒwә́l | پرېښودل |
| پرېښوونکی | prexǒwúnkay | پرېښودونکی ، پرېښونکی |
| پرېښی (پرېښوونی، متروك) | préx̌ay | پرې ابښی |
| پړمخې | pә́ṛmәxe | پړمخي |
| پز پرېکړی | paz prekә́ṛay | پوز پرېکړی |
| پزه | páza | پوزه ، پېزه |
| پزول (شمیدن) | pazawә́l | بوی احساسول |
| پستول (نرمول) | pastawә́l | پوستول |
| پسخاك | pasxā́k | پخساك |
| پسخند (- ی) | pәsxánd | پوزخند |
| پسخول | pәsxwә́l | پخسول |
| پسخېدل | pәsxedә́l | پخسېدل |
| پسرلی | pәsarláy | سپرلی |
| پسور (پسورور) | psor | سور (سورور ، سره ور) |
| پشه یي (پشه یان) | pašayí | پشه ئي (پشه ئیان) |
| پښتپوهنه (علم الانساب) | pәx̌tpohә́na | پښتپېژندنه |
| پښتو | pәx̌tó | pәx̌téo ، پُښتو (puštó) |
| پښتون | pәx̌tún | پُښتون (puštun) |
| پښتونخوا | pәx̌tun-xwā́ | پښتونخواه ، پختون خوا |
| پښه | px̌a | پښه (-pә) ، ښپه ، خپه |
| پښین | px̌ín | پېشین ، پېښین |
| پښې یبله | px̌e-yábla | پښې ابله ، پښې لوخ |
| پښېمان | px̌emā́n | ښپېمان ، خپېمان |
| پکې ( ورکې ) | pәké | پکښې ، په کې ، پکښي کي |
| پګړۍ (لونګۍ) | pagṛә́y | پړګۍ، پټکی، پګه، بګړۍ، لونګۍ، ړنګۍ، سمټه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| پل چرخي > څرخي پول | carxí pul | |
| پلارومور | plā́r-o-mór | پلار او مور |
| پلوسه | palósa | پلوڅه |
| پله پر پله (قدم پر قدم) | plə́-per-plə́ | پله په پله |
| پلې لار | pəle-lā́r | د پلیو لار |
| پنا غاړی (پناه جو) | panā-γā́ṛay | پناه غوښتونکی |
| پنځ - ول ، -بدل (طبیعت، خلقت) | pənj | پُنځ (ponj) |
| پنډوس (گینې) | panḍós – (gin) | پنډوسکه ، توپ ، بال |
| پوخلا | poxlā́ | پخلا |
| پوخلاینه | poxlāyə́na | پخلاتوب |
| پورتگال | portagā́l | پرتگال ، پرتقال |
| پوځ | pawj | فوځ ، فوج |
| پوځي ټولگی | pawzí-ṭolgay | فوځي قطعه |
| پوښتپاڼه (ورقه استعلام) | pox̌t pā́ṇa | پوښتنپاڼه |
| پوښتنه اښتنه | pox̌tə́na- ax̌tə́na | پوښتنه اختنه |
| پوښتنښه | pox̌tnáx̌a | پوښتننښه ، پوښتن نخښه |
| پورېوځي | porewə́ji | پورېوزي |
| پول (جسر) | pul | پل |
| پولاو | polā́w | پلو |
| پولۍ (نینه، تښاکه) | poláy | پلۍ |
| پولینډ | Poláynḍ | پولنډ ، پولند |
| پوهنځی | pohanjáy | پوهنځۍ |
| پوهنڅانگه (پوهنیزه څانگه) | pohən-cā́nga | علمي څانگه(رشته، مسلک) |
| په اړه ( په تړاو) | pə-áṛa | په اړوند ، په ارتباط |
| په ټولیز ډول | pə ṭolíz ḍáwəl | په عمومي ډول، عموما |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| په خپله خوښه | Pəx pə́la xwáxa | په خپلې خوښې |
| په خپله کوټه کې | pə-xpə́la-koṭá-ke | په خپلې کوټې کې |
| په رښتینه (په رښتیا) | pə-rəx̌tína | په رښتینې |
| په یو مهال کې (همهماله) | pə əyáw mahāl ke | په عین زمان-حال کې |
| پیاغله (مفلر، دستمال گردن) | pyā́γla | غاړپټی، د غاړې دسمال یا څپوڼی، گلوبند |
| پېچدره | péč-dara | درۀ پېچ، د پېچ دره |
| پېر (پېرنه) | Per | پېرودنه، خرید ، خریداري |
| پېرل | perə́l | پېرودل |
| پېرو پلور | pér-o-plór | پېرودنه او پلورنه، پېر او پلور |
| پېرونې | peróne | پروینې ، پروین |
| پېری (جن) | peráy | پېریان |
| پېریان (جن ها) | peryā́n | پېریانان |
| پېړ (پنډ ، ضخیم) | Peṛ | پرېړ |
| پېژند پاڼه | pežandpā́ṇa | د پېژندنې پاڼه یاکارت، د هویت کارت(شناخت کارټ) |
| پېژند نښه | pežand náx̌a | پېژند نخښه |
| پېشنمی، پېشمنی > چرغږ | | |
| پیسته (مېوه) | pıstá | پسته |
| پیشو | pıšó | پیشي |
| پېنځځنډ | pınj-cə́nḍ | پنځه ضلعي، مخمس |
| پېنځسوی (پېنځسویز) | penj-səwáy | پنځه سویز، (لوټ ، ټولگی ...) |
| پېنځکلن | penj kalán | پنځه کلن |
| پېنځکلن | penj-kalán | پنځه کلن |
| پېنځلس | penjə́-las | پنځلس |
| پېنځمه | penjə́ma | پنځمه ، پنځم ، زیارت |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| (چارشنبه) | | |
| پښنځوس | penjós | پنځوس |
| پښنځه | penjə | پنځه |
| پښنځه ویشت | penjə́-wıšt | پنځه ویشت ، پنځویشت |

| | | |
|---|---|---|
| پیل | pıl | فیل ، هاتي |
| پیلامگر | paylāmgár | پیلامه گر،آغازگر |
| پیلمرغ | pıl-mə́rγ | فیل مرغ، شونډکیز چرگ |
| پېیل | peyə́l | پېودل، پېرل |

## ت – t ( تې )

د پښتو ابېخې څلورم توری

| کره | غږیزلیک | ناکره |
|---|---|---|
| تاخچه (تاخ) | tā́xča | طاقچه (طاق) |
| تاریخ ځپلی | tārıx japə́lay | تاریخ وهلی |
| تاریخساز | tārıxsā́z | تاریخ جوړوونکی |
| تاړی (افېکس) | tā́ṛay | وند ، وندی |
| تا کره > ستا کره | | |
| تا ویل | tā wayə́l | تا وې ، تاول |
| (تل -) ترتله | (ərxə́tə́l-) tərtə́la | تلتله |
| تر ټولو وروسته | tər ṭólo wrústa | وروسته د ټولو |
| ترخه | tərxə́ | تراخه |
| ترخه | tərxá | تریخه |
| ترښځ (تېشه) | tərx̌ə́j | تخز ، تخځ |
| تر- لاندې ،- پورې … | tər-lā́nde, póre | د- لاندې ، - پورې … |
| ترندار (تره ښځه، کاني) | trəndā́r | تنداره ، تینداره |
| ترور | tərúr | ترهور |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| تروږمی | troğmə́y | تروگمی ، ترږمی |
| تروښل (احتطافول) | trox̌ə́l | تروړل، تروښول، اغوا کول |
| تروه | tərwə́ | تراوه |
| تروه | tərwá | تریوه |
| ترهگر (تروریست) | trahgár | ترهه گر، دهشت گرد ، وېره اچوونکی |
| ترهند | Trə́hənd́ | ترند |
| ترهول | trəhawə́l | ترول |
| تریختوری (کرېله) | trıxtorə́y | ترخه توری |
| ترې (ازش) | tre | ترېنه |
| تریپولیس | trıpolís | طرابلس |
| تړون ماتی | taṛun mā́tay | تړون ماتوونکی |
| تس نس (شیند پرشیند) | tás nás | تس ونس |
| تس ونس (ژرخوړلی) | tás-o-nás | تس نس، حیف میل |
| تسکوره (تېشه) | taskóra | ستکوره ، ټسکوره |
| تش | təš | تس |
| تش لاس یا تشلاس | təš lā́s | تش لاسی |
| تشیا لیونی (فضا نورد) | təšyāl yúnay | ستور مزلی |
| تشیال بېړی | təšyāl-beṛə́y | کیهاني بېړی، فضایي بېړی |
| تښتن، تېښتن > څښتن | | |
| تگ وراتگ | tág-o-ratág | تگ او راتگ |
| تلزرغون (- ی) | təl zarγún (-ay) | تلشین ، همېشه بهار |
| تلین | tlın | تلینه ، تلنه |
| تمه | táma | طمع ، طمعه |
| تمځی (ایستگاه) | tamjáy | تمځای |
| تن پر تن جگړه | tán-pər-tán ǰagṛá | تن په تن جگړه |
| تڼی | taṇáy | تڼیوال |
| توپان | topā́n | توفان ، طوفان |
| توتاخېل | totāxél | طوطاخېل |
| توتي | totí | طوطي (طوطا ، توتا) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| توخم | tóxəm | تخم |
| توخی | tóxay | توخي، توخی (tóxəy ) |
| تورپوستی | tor póstay | تور پوستکی، تور پوټکی |
| تورخم | torxám | طورخم |
| تور شاتگ (توره ارتجاع) | tór šātág | تور پرشا تګ |
| تورغونډی | tor-γwənḍə́y | تورغنډی |
| تورك | tork | ترك ، تورکی |
| تورکیه | torkıyá | ترکیه |
| تورن (ټولیمشر) | turán | تورن (torán) |
| توروسپین | tór-o-spín | تور او سپین |
| توره دربله | tóra-drábla | توره دربیله |
| توغندارتی | Toγəndártay | توغندی (راکټ) ویشتونکی |
| توکل( توکول) | tukə́l | توکړل |
| توکم (نژاد) | tókəm | تکم ، توکم (tokám) |
| توکمیز | tokmíz | توکمیز |
| توند | tond | تند |
| توند لاری | tond-lā́ray | سخت لاری |
| تېچ (تېکی) | teč | تچ |
| تیرا | tırā́ | تیراه |
| تیز | tız | تېز |
| تېزوین (تېز لیدی) | tez wín | تېز لیدونکی |
| تیگا (تېګا) | tıgā́ | تګا، تیګه (حوصله، طاقت) |
| تي مور (تیمور) | tı-mór | د تي مور ، رضاعي مور |

## ټ - t ( ټې )

د پښتو ابېڅې پېنځم توری چې کښېني پښتانه یې له وینګ سره سم د هندي ،انګرېزي او نورو پورويیونو د "ت" لپاره هم پر کار اچوي.

| | | |
|---|---|---|
| کره | غرېزلیك | ناکره |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ټاپل | ṭāpə́l | ټاپول ، کمپوزول |
| ټاپه رس، ټاپرس > لمرگلی | | |
| (وروستی) ټاپی | ṭā́pay | وروستی مهلت، ضرب الاجل، اولتیماتوم |
| ټك له ټکه (سملاسي) | ṭák-lə-ṭáka | ټك د ټکه |
| ټکور | ṭakór | ټُکر |
| ټلواله (اېتلاف) | ṭalwā́la | ټلوالي |
| ټوپك | ṭopák | توپك، ټوپکی |
| ټوخلی | ṭoxəlóy | ټخلی |
| ټوغکی | ṭoγakáy | ټغکی ، ټوغك |
| ټوکريېل | ṭukreyə́l | ټوکرټوکر یا ټوټه کول |
| ټوکل | ṭukə́l | ټوکېدل ، ټوکول |
| ټوکیز | ṭukíz | (نه په - ه - ) |
| ټول | ṭol | ټوله |
| ټولگټی | ṭol-gáṭay | د ټولو په گټه ، عام المنفعه |
| ټولگی (صنف) | ṭolgáy | ټولگی |
| ټولگیوال | ṭolgi-wā́l | همټولگی ، همصنفي |
| ټولنپوهنه | ṭolənpohə́na | ټولنپېژندنه |
| ټولنوده | ṭolə́n-wáda | د ټولنې وده |
| ټول وټوك | ṭól-o-ṭúk | جزء وتام ، کل وجزء |
| ټولی | ṭoláy | ټولی |
| ټولیز | ṭolíz | ټولوال، عمومي، عامه، جمعي، کلي |
| ټولیزې رسنی (رسنی) | ṭolíze rasanə́y | ډلیزې رسنی |
| ټیکاوول (ثبات راوستل) | ṭıkāwawə́l | ټیکاوو راوستل |
| ټیکری (پړونی) | ṭıkráy | ټکری |
| ټیټ پوړی | ṭıṭ-póṛay | ټیټ رتبه |

## ج – ǰ ( جې ، جیم )

د پښتو ابېڅې شپږم توری چې د مروتو په پښتو یې د "ځ" ځاېناستی کول کره نه بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| کره | غرېيزليك | ناکره |
|---|---|---|
| جاله > ځاله | jā́la | |
| جاړ (جلاب) | ǰāṛ | ژاړ |
| جرنده > ژرنده | | |
| جرړه (ريښه) | ǰárṛa | جړه |
| جشن | ǰášən | جښن ، ځښن |
| جغ > ژغ | | |
| جکړ (ډېر توند باد) | ǰakáṛ | جاکړ |
| جګپوړی | ǰəg-póṛay | لوړ پوړی ، لوړ رتبه |
| جګړه | ǰagṛá | جګړه (jagəra) |
| جګه (مېړوښې ښځه) | ǰəgá | ژګه |
| جل ، جن > نجل | | |
| جلۍ ، جنۍ > نجلۍ | | |
| جم جکړ (توند بادوباران) | ǰám-ǰakáṛ | جم جاکړ |
| جندره > ژندره | | |
| جنغوزی، جلغوزی > زنغوزی | | |
| جوليز (شکلي) | ǰawlíz | جوله ييز |
| جومات (مزدك) | ǰumā́t | جماعت ، جمات |
| جوند > ژوند | | |
| جېب څپوڼی | ǰéb-capoṇay | د پزې څپوڼی |
| جېب غل (جيب چوری) | ǰeb-γál | جيب وهونکی ، کيسه بُر |
| جيبي کتاب > مشليکی | | |
| جړل > ژړل | | |
| جړه (اختلاف، لانجه، پېچلتيا ،ترينګلتيا) | ǰáṛa | جرړه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چ – č ( چې )

د پښتو ابېڅې اووم توری چې د پارسي او اردو تر اغېز لاندې د څ پر ځای ډېره کارول کېږي او منځني (غلجي) پښتانه يې هم زياتره پر "څ" اړوي او لا هېښنده دا چې په سرچپه ډول لږ وډېر څ.هم پر چ اړوي.

| کره | غړیزلیك | ناکره |
|---|---|---|
| (چال) چلند (برخورد ، سلوك) | čalánd | چلن |
| چاپړاخه، چاپلاخه > څپېړه | | |
| چاپگر | čāpgár | چاپوونکی |
| چاپېر سمندر (بحرمحیط) | čāpér-samandə́r | چاپېر سیند |
| چاپېریالپوهنه | čāperyāl-pohə́na | چاپېریال پېژندنه |
| چار ( - ه ) | čār,čārá | څاره |
| چارشنبه (څلورمه) | čār-šanbá | چهارشنبه |
| چاروال (فعال) | čārwā́l | چارو ، چارندوکی |
| چاغومبی | čāγumbáy | غومبی |
| چالانول | čālānawə́l | چالو کول |
| چاڼل ( چڼل ) | čāṇə́l | چوڼل |
| چاڼځی (پالایشگاه) | čāṇjáy | چاڼځای ، تصفیه خانه |
| چپرهار | čaparhā́r | چپلیار ، څپلیار |
| چښل > څښل | | |
| چپړاسي | čapṛāsí | چوپړاسي، چپلاسی، چوپړی |
| چپه > څپه | | |
| چراغ > څراغ | | |
| چرغړ ( چربانگی ) | čər-γáğ | چرغگ، پیشنمی |
| چرمشکۍ > څرمښکۍ | cərməx̌kə́y | |
| چرهار | čərhā́r | چرار |
| چغ بغ (شورماشور) | čə́γ-bə́γ | چوغ بوغ ، چخ پخ |
| چغه | čə́γa | چېغه ، چیغه |
| چله > څله | | |
| چمبه (داریه، پنجه) | čambá | چنبه |
| چمچۍ، چمچه > څمڅۍ | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| چنوغزه > مچنوغزه | mačnówγzə | |
| چڼ (چاڼونی) | čaṇ | چڼوونکی، چاڼوونکی، فلتر |
| چنچڼه (مرغۍ) | čənčə́ṇa | چڼه، چونچوڼه |
| چوخلۍ (د جوار وربیو) | čuxalə́y | چوخلی |
| چورت | čort | چرت |
| چورچپاول | čúr-čapāwə́l | چور او چپاول |
| چورلاو (ماشین) | čurlā́w | چرلاو |
| چورلکه | čurláka | څرخي الوتکه، هلیکاپټره |
| چورلنډ (کمینه) | čorlánḍ | چرلنډ |
| چورلنډی (پرپره) | čurlanḍáy | چرلنډی |
| چورلیځ (محور، د څرخ میله) | čurlíj | چورلیځی، چورلېځی |
| چوکۍ > څوکۍ | | |
| چونګاښ | čungā́x̌ | چُنګښ ، چنګاښ |
| چونګښه | čungáx̌a | چنګښه ، چینډخه |
| چې | če | څې ، چي ، چه |
| چیرل > څیرل | | |
| چېره > څېره | | |
| چیرې > څیرې | | |
| چېرې (چېرته) | čére | چرې ، چرته (- کې) |
| چېړل > څېړل | | |
| چېښتن > څښتن | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځ – j ( ځې )

د پښتو ابېڅې اتم توری چې په شمال ختيزو ګړدودو کې يې وينګ له "ز" سره همرنګ شوی او په ليکدود کې يې هم ګډوډي ليدل کېږي، غلجي او کرلاڼي يې لږ و ډېر پر "څ" او مروت يې هم پر "ج" اړوي.

| کره | غرېزليک | ناکره |
|---|---|---|
| ځار | jār | جار ، زار |
| ځاله | jālá | ژاله، زاله، جاله (jāla) |
| ځامن > زامن | | |
| ځان ځپونی (ځان وچونی) | jā́n-capóṇay | د ځان وچولو دستمال |
| ځانساتی (محتاط) | jān-sā́tay | ځانساتونی ، محافظه کار، زاړه پال |
| ځانګو > زانګو | zāngó | |
| ځانمرګی برید | jān-márgay-bríd | سرښندونکی برید ، انتحاري برید |
| ځانځاروونی (ځان بلهاری) | jān-jārawúnay | ځانجارونی |
| ځانځومړی | jānjo-mə́ṛay | ځانزومړی |
| ځای | jāy | جای ، جی |
| ځای پرځای | jā́y-pər-jā́y | ځای په ځای |
| ځايناستی (جانشين) | jāynā́stay | ځايناستونی |
| ځايول | jāyawə́l | ځای کول |
| ځبله | jábla | ثبله |
| ځبېښل > زبېښل | | |
| ځپل (ځبل) | japə́l | زپل |
| ځرنده > ژرنده | | |
| ځری (قاصد ، استازی) | jəráy | زری |
| ځړوبی (آبشار) | jaṛobáy | جړوبی |
| ځړول | jaṛawə́l | ځوړندول، زوړندول، ځوړول |
| ځړېدل | jaṛedə́l | ځوړندېدل، زوړندېدل |
| ځښت > زښت | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ځغاسته (ځغستا) | jγā́sta | زغاسته ، زغسته |
| ځغستل | jγāstə́l | ځغاستل، زغاستل، زغستل |
| ځغم > زغم | zγam | |
| ځلوبۍ | jalobə́y | زلوبۍ ، جلبي |
| ځما > زما | | |
| ځمبل (ځمبا) | jambə́l | ځنبل، زمبل |
| ځمرى > زمرى | zmərā́y | |
| ځمکپوهنه (جغرافيا) | jmək-pohə́na | ځمکپېژندنه |
| ځمکپېژندنه (جيالوجي) | jmək-pežandə́na | ځمکپوهنه |
| ځمکرېږده | jmək-réǧda | ځمکرېږدله |
| ځمکسمون | jmək-samún | د ځمکو سمون- اصلاحات |
| ځمکه | jmə́ka | زمکه، مزکه |
| ځموږ > زموږ | | |
| ځنځاوى | janjāwáy | زنزاوى |
| ځنځه > زنځه | zə́nja | |
| ځنځول | janjawə́l | زنځول ، زنزول |
| ځنځير > زنځير | | |
| ځنى، زنى > ژنى | | |
| ځنغوزى > زنغوزى | | |
| ځنکدن | jankadán | ځانکندن، زکندن، زنکدن |
| ځنګل | jangál | زنګل ، جنګل |
| ځنګلواني | jangal-wāní | د ځنګلونو اداره، جنګل داري |
| ځنې (ترې، له – څخه) | jə́ne | ځني، ځېنې، څيني، ځنې، ځيني |
| ځواب | jəwā́b | جواب |
| ځواک انډول | jwāk-anḍwál | د ځواک انډول يا توازن |
| ځواکپېر | jwāk-pér | د ځواک دوره |
| ځواک جګړه (ځواک شخړه) | jwāk-ǰagṛá | پر ځواک جګړه |
| ځواک سيمه | jwāk-síma | د ځواک سيمه، د قدرت ساحه |
| ځواکلېږد | jwākléǧd | د ځواک لېږدونه يا اانتقال |
| ځوروشکنجه | jáwr-o-šekanǰá | زور وشکنجه |
| ځوړند | jwáṛənd | زوړند |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ځوز (اغزی) | joz | ځوځ ، زوځ |
| ځوږ | jwağ | زوږ |
| ځوږ وځوږ | jwáğ-o-júğ | زوږ و زوږ |
| ځوښ | jox̌ | زوښ |
| ځوښا | jox̌ā́ | زوښا |
| ځولانه > زولنه | | |
| ځولۍ | joláy | زولۍ ، جولۍ |
| ځومنه > زومنه | | |
| ځونډی | junḍáy | زونډی |
| ځوی > زوی | | |
| ځه > زه | | |
| ځیرک | jırák | زیرک |
| ځیره > زیره | | |
| ځیره خور | jira-xór | جیره خور، جیره خوار |
| ځیږ > زیږ | zığ | |
| ځېږمه | jéğma | زېږمه ، جېږمه |
| ځېږېدل > زېږېدل | | |
| ځیگر (سینه) | jigár | زیگر، جگر، جیگر |
| ځېل (نوع) | jel | زېل ، زیل |
| ځېلانځ > زېلانځ | | |
| ځېلانځه > زېلانځه | | |
| ځېلۍ | jeláy | زېلۍ |
| ځېني (بعضی) | jéne | زوني |

## څ – c ( څې )

د پښتو ابېڅې نهم توری چې په شمال ختیزه پښتو کې د نه وینګ له کبله له "س" سره ټکرېږي ، تر اردو او پارسي اغېز لاندې زیاتره پر "چ" اړول کېږي او منځني پښتانه "غلجي" یې هم لږوډېر پر "چ" اړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| کره | غربیزلیک | ناکره |
|---|---|---|
| څا | cā | څاه ، چاه |
| څابون، څابوڼ > سابون | | |
| څاپېر > چاپېر | | |
| څاپېره > څپېره | | |
| څادري (دونیۍ) | cādarí | چادری، بورکه، بورقه |
| څارگر (جاسوس) | cārgár | څرکبه |
| څارگري (جاسوسي، استخبارات) | cārgarí | څرکبني |
| څاروان | cārwā́n | ساروان، ساربان، جوپه مشر |
| څارویتون (بیطارخانه) | cārwi-tún | څارنتون |
| څاره > چاره | | |
| څاکن | cākán | څا اېستونکی یا کنونکی |
| څالاك > چالاك | | |
| څانډو > سانډو | | |
| څانگوال | cāng-wā́l | د څانگې (مسلک) خاوند |
| څانگوېش | cāng-wéš | |
| څانگیز | cāngíz | مسلکي، رشته یي |
| څاو (مراقبت) | cāw | ساو |
| څبله > ځبله | | |
| څپان (د اوبو توپان) | capā́n | سپان |
| څپراخه، څپلاخه > څپېړه | | |
| څپلۍ | capláy | چپلي ، چپلۍ |
| څپليار > چپرهار | | |
| څپلکې | capláke | چپلك ، چپلکې |
| څپوټی | capóṭay | څپوټکی، څپټی، سپټی |
| څپه (موج، هجاء) | capá | چپه |
| څپیز | capíz | څپه ییز |
| څټك | cəṭə́k | څوټك ، سټك |
| څټه (ببخ) > سټه | | |
| څټه (د غلې پېټی یا جوال) | cáṭa | سټه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ثراغ | cerā́γ | چراغ |
| ثرخي الوتكه > چورلكه | | |
| ثرخي پول | carxí-pul | پلچرخي ، پل چرخي |
| ثرگنداوی | cargandāwáy | ثرگندتیا ، وضاحت، توضیح |
| ثرگندنه | cargandə́na | اصطلاح، اکسپرېشن |
| ثرگندوړ | cargand –wáṛ | د ثرگندونې یا بیان وړ |
| ثړمنی (پسرلی) | caṛmə́nay | ثوړمنی |
| ثړه لار (پلې لار) | caṛá-lār | ثړه لرې |
| ثښاك | cx̌āk | چشاك، ثكاک |
| ثښاك اوبه | cx̌āk-obə́ | د ثښاك اوبه، د چښلو اوبه |
| ثښتن | cax̌tə́n | تښتن، تېښتن، ثېښتن، چېښتن |
| ثښل | cx̌əl | چښل، ثکل، چېښل |
| ثرمساز | carəm-sā́z | چرمساز، ثرمنساز |
| ثرمي (ثرمنیز) | carmí | چرمي، ثرمني |
| ثرنگتیا (کیفیت) | cərangtyā́ | ثرنگوالی |
| ثرنگیز (کیفي) | cərangíz | ثرنگه ایز |
| ثكاك (کشیدن دخانیات) | ckāk | ثښاك |
| ثكالكی (ثكالی) | cakā́lkay | ثكانی، ښاپرك، ښاپېرك، شوپرك (ماښامی) |
| ثكك (ثثوب) | cakák | چكك |
| ثكول (ثكونه) | ckawə́l | ثكل (ثكنه) |
| ثلاري | calā́rı | ثلورلاري |
| ثلثراغ | cəl-cerā́γ | چلچراغ |
| ثلورسوم | calor-səwə́m | ثلورسووم، ثلورسوه یم |
| ثلورم | calorə́m | ثلرم |
| ثلورمه (سه شنبه) | calorə́ma | ثلور، ثلورم ، نهې |
| ثلوریزه (چهارپاره) | caloríza | ثلوریځه ، ثلوریځ |
| ثلوریځ (مربع ، رباعي) | caloríj | ثلوریز ( - ه ) |
| ثلورثنډ (مربع) | calor-cə́nḍ | ثلورثنډیز، ثلورضلعي |
| ثلوېښت | calwéx̌t | ثولېښت |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| څله | cəlá | چله |
| څلېرويشت | calér-wıšt | څلورويشت، څلوريشت |
| څلېښت | clex̌t | څلېښ ، سرېښ، سليخ |
| څمغېلى | camγélay | سمخنې |
| څنډ (افق) | cənḍ | (د اسمان) څنډه |
| څنۍ (غښتې وړى) | cənə́y | لېڅۍ، انځۍ، نځۍ، څينۍ، اينځۍ، سنۍ |
| څڼه ( څڼې ) | cə́ṇa | څونه ( څونې ) |
| څوباړى | cobā́ṛay | سوباړى |
| څوبمن | cawb-mán | شوقي، د ذوق خاوند ، اماتور |
| څوخړ (خوک دريايي) | cocáṛ | سوسړ |
| څورلس | cwár-las | څوارلس |
| څورليځى > چورليځ | | |
| څوژبى (وګړى ، هېواد) | co-žəbáy | څو ژبيز |
| څوژبيز (سيند) | co-žəbíz | څو ژبى (قاموس) |
| څوکيوال | cawkı-wā́l | څوکيدار، چوکيدار، پهره دار |
| څوکۍ | cawkə́y | چوکي ، چوکۍ، پاټک |
| څومره | cúmra | څونه، څونې، څوني، څوندي، څونبره، څومبره |
| څومره ييز (کمي) | comra-yíz | څومريز، څومره ايز |
| څوولسي (ځواک ...) | co-wələsí | څو مليتي |
| څويم (چندم) | coyə́m | څوم ، څووم |
| څه ناڅه (تقريباً) | cə́-nā-cə́ | څه نه څه |
| څيرل | cırə́l | څيرې کول ، بژې کول |
| څيرله (د کاغذ يا ټوکر ټوټه) | círla | چيرله، پرزه |
| څيز (توک) | cız | څېز ، شى |
| څينګښه > چونګښه | | |
| څېټه (د تېغ شا) | ceṭə́ | سټه ، سټۍ |
| څېرکښ (چهره کش) | cerkáx̌ | څېره کښ، عکاس |
| څېرمه (فرعي) | cérma | څرمه ييز، څرمه يي |
| څېره | cerá | څهره، چهره |
| څېړندود (طرز تحقق) | ceṛən-dód | د څېړنې دود ، د تحقيق |

| | | |
|---|---|---|
| | | متود |
| ثېړنيز (کار، خېړونه، کتاب) | Ceṛəníz | ثېړندويه |
| ثېلمه (ټول) | célma | ثرمه ، ثلمه، سېلمه |

## خ – x ( خې )

د پښتو ابېڅې لسم توری چې د شمال ختيزې پښتو له مخې يې له "ښ" سره ونجول ناکره ګڼل کېږي .

| کره | غږيزليك | ناکره |
|---|---|---|
| خاپ | xāp | خپ ، چاپ |
| خاپوړې (خاړپوسې) | xāpóṛe | خاپوړي ، خاپوسې |
| خاته | xātá | کتابچه ، ليکچه |
| خارو > ښارو | x̌āró | |
| خاروني > ښاروني | | |
| خاږخاږ | xāğ-xā́ğ | خشخاش، خاش خاش |
| خاغلی، خاګلی > ښاغلی | | |
| خاورپوهنه (خاکشناسی) | xā́wər-pohə́na | خاورې پېژندنه |
| خاوروتېل | xā́wro-tel | د خاورو تېل، تيل خاك |
| خاورين (خاکی) | xāwrín | خورين |
| خبرلوخ (ويند ، وياند) | xabar-lóc | خبرلوڅی، خبرلوخ (xabar-lúc) |
| خپرول | xparawə́l | خپورول ، خورول |
| خپللاسي | xpəl-lāsí | په خپل لاس جوړ، مصنوعي |
| خپلمنځي اړيکي | xpəl-manjí aṛíkı | ذات البيني روابط |
| خپور | xpor | خور |
| خپورتيا | xportyā́ | خورتيا |
| ختوری | xatúray | شلتالو ، شفتالو |
| ختې (د ناوې جوړه-کالي) | xə́te | ختي |
| ختيځ (شرق ، مشرق) | xatíj | خاتيځ ، ختيز ، لمرختيځ |
| ختيز (مشرقي) | xatíz | ختيځ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| خځل | xajə́l | خزل ، خزله |
| خدايږو (خداى ږو) | xwdā́y-ğo | خدارږو ، خدايگو ، خلايگو |
| خدمت (چوپړ) | xedmát | خذمت |
| خرانگه | xrā́nga | خړانګه ، ښرانگه |
| خرڅ (لگښت) | xarc | خرچ ، خرچه |
| خرخشه (خدشه) | xar-xašá | خرخښه |
| خره پرخره (يو برابر) | xrə́-pər-xrə́ | خره په خره |
| خرېږی (مرخېږی) | xəreṛáy | مرغېږی ، مرخېږی |
| خريل (تراشيدن موی) | xrəyə́l | خرل ، خرېيل |
| خسر | xsər | خُسر ، سخر |
| خښ (- ول ، - ېدل) > ښخ | xaǩ (-wəl,edə́l) | |
| خلنځه > بلنځه | | |
| خوارږه وېلني | xwāğə́ - welə́nı | کارږه وېلني ، باديان |
| خوالگر (همراز ، همدرد) | xwāl-gár | خواله گر |
| خوبخونه (خوب کوټه) | xob-xúna | د خوب کوټه |
| خوټېدل (خوټول) | xuṭedə́l | خوټکېدل (خوټکول) |
| خوځنده | xwajəndá | خزنده |
| خوځنده ټيليفون > مل غږون | | |
| خوراړه (جذام) | xurā́ṛa | خوړونکې ، بادخوره |
| خور راخور | xór-rā-xór | خپور راخپور |
| خوراکتوکي | xwarāk-tókı | خوراکي توکي يا مواد |
| خورلڼه (واده کليواله) | xor-lə́ṇa | خورلنډه |
| خوروور | xór-wór | خپوروور |
| خورۍ (نرسه) | xorə́y | خوره کۍ ، همشيره |
| خورين (خاورين لوښي) | xawrín | خاورين |
| خورينه (خواهر خوانده) | xorína | خورينگه ، خورلڼه ، خوربللې |
| خوړسکه (دود کثيف وبدبو) | xwṛə́ska | غوړسکه |
| خوړين | xwṛın | خُوړين (xorin) |
| خوسا (گنده) | xosā | سخا |
| خوسی | xosáy | سخی (sxay) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| خوشال | xošā́l | خوشحال |
| خوښچارى | xwax̌-čā́ray | د خپلې خوښې كاركوونكى، رضاكار |
| خوښوړ | xwax̌-wáṛ | د خوښې وړ ، د رضا وړ |
| خوښينه > ښينه | | |
| خوله | xwlə | خُله |
| خونديينه | xwandı-yə́na | خونديتوب ، مصوونيت |
| خوى > ښوى | | |
| خيرښېګڼه > ښمرښېګڼه | | |
| خيږ (د رغېدلي زخم پترى) | xıǧ | خږ ، كرېږ |
| خيښه > ښيښه | | |
| خيه > ښه | | |

## د – **d** (دې ، دال)

### د پښتو ابېڅې يوولسم توری

| كره | غږيزليك | ناكره |
|---|---|---|
| د (تولي يا اضافي سربل) | də | د |
| دا توره (خاتورى) | dāturá | ډانګتوره |
| دادا ، دادك (د پلار ستاينوم) | dādā́ | دادكه (د مشرې خور ستاينوم) |
| دا ده (او است – مو) | dā-dá | دو ، دى ، ده (də) |
| درياال (چمبه) | dāryā́l | دريه، داريه، دايره |
| دارۍ (شرشره) | dārə́y | داره |
| داستان | dāstā́n | كيسه ، افسانه |
| د اسراييلو ... | də-isrāyílo ... | د اسرائيل ... |
| داسې (دغسې) | dā́se | داسي (دغسي) |
| داوه | dāwá | داوا ، دعوه |
| داوى | dā́way | داوي، داوى (dāwáy) |
| د باميانو | də-bāmyā́no | د باميان |
| د باندې | də-bā́nde | د باندي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| د پخوا راهیسې > له پخوا راهیسې | | |
| د پښتانه په نامه | də-pəx̌tānə́-pə-nāmə́ | د پښتون په نوم |
| د – په اړه | də-pəáṛa | د - په هکله ، د - په اړوند |
| د – په پام سره | də-pə pā́m sara | د - په پام کې نیولو سره |
| د – په توګه (د - په ډول) | də-pətóga | د - په څېر ، د - په حیث |
| د – په ګټه اخېستنه > له – په ګټه اخېستنه | | |
| د – په مشرۍ | də-pə-məšrə́y | د – په مشرۍ کې |
| د تا > ستا | stā | |
| د تا کره > ستا کره | | |
| د چا ملاتړ (دفاع، هرکلی، درناوي ...) کول | də-čā-mlā-táṛ | د چا څخه ملاتړ (دفاع، هرکلی، درناوی ...) کول |
| د – څخه > له څخه | | |
| د دباندنیو (بهرنیو) چارو وزارت | də dəbāndenə́yo - | د باندنیو چارو وزارت |
| درشل | Daršə́l | دورشل ، درشایي |
| درملنه | darmalə́na | درملونه، علاجونه، معالجه، تداوي |
| درناب (جناب) | dranā́b | درناو |
| درناوی | dranāwáy | درناوي |
| درنه (درون، درانه، درنې) | draná | درنده (دروند ، درانده، درندې) |
| دروږ (د بلهارۍ لپاره ننبه شوی پسه، بلهارۍ) | darwáğ | درغوږ |
| دروغ | droγ | درواغ، دروېغ، دَروغ (daróγ) |
| درویشت | də́rwɪšt | دروویشت ، دیرویشت |
| دریځ (ممبر، موقف ...) | daríz | دریز |
| درې دېرش ... | dré-derš | درو دېرش |
| درېدل | daredə́l | ودرېدل، درل |
| درېږ (بولۍ) | dreğ | درېژ ، درېش |
| درېګوټ (مثلث) | dre-gwə́ṭ | درې کونج ، درېګوټېز |
| درېیم | dreyə́m | درېم ، دریم |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| دریېمه (دوشنبه) | dreyə́ma | درې، درېیم، گل ، پیر |
| د زړه له پاسه | də-zṛə-lə-pā́sa | د زړه د پاسه |
| د زړه له کومي | də-zrə-lə-kúmı | د زړه د کومي |
| د ساري په توگه - ډول (د بېلگې په توگه) | də-sā́rı-pə-tóga | د مثال په توگه ، مثلاً |
| د – سره > له - سره | lə-sárə | |
| دښمن | dəx̌mán | دُښمن ، دوښمن |
| د – غوندې (د – په څېر) | də-γónde | د – په شان یا پشانې |
| د کابل کتنه | də-kābə́l-katə́na | د کابل څخه کتنه |
| د – کره مېلمه یم | də-kará | د – په کور کې مېلمه یم |
| د – لپاره (د – په پار) | də-ləpā́ra | د – دپاره ، د – له پاره |
| دما > زما | | |
| د ما کره > زما کره | | |
| د مخه > له مخه | | |
| د مخې > له مخې | | |
| د موږ > زموږ | | |
| د موږ کره > زموږ کره | [jhc | |
| د نارینه وو | də-nārınā́wo | د نرینه و ، د نارینه و ، د نارینه ؤ |
| دنده | dánda | دنده (dandá) |
| دننی | danənáy | دننی |
| دو (د پرش) ... | dú ... | دوه ... |
| دوارې ښځې | dwā́ṛe-xə́je | دواړه ښځې ، دواړي ښځي |
| دوبگنی (تابستاني) | dobganáy | دوبگنی (dobgánəy) |
| دوبگوړی (یېلاق، اېلبند) | dubgóṛay | دوبگوړی (dubgóṛəy) |
| دوبی | dóbay | دوبی (dóbəy) |
| دو پسوری | du-psóray | دوه سوری ، دوه سوره، دوبره |
| دو پوړه (دو پوړیز) | du-poṛá | دوه پوړی (دوه پوړیز) |
| دو تنه (پشتی ، دوسیه) | dawtaná | دو تنه (dawtəná) |
| دو څرخه (لاړیس) | du-carxá | سایکل ، بایسکل |
| دوخته > له وخته | lə wáxtə | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| دودبړش | dú-derš | دوه دبړش ، دو دبړس |
| د ورا > له ورا (- یه) | lə wrā̃ (-yə) | |
| د وروسته > له وروسته | lə wrústə | |
| دورې > هورې، هلته | | |
| دوزخ | dozáx | دوږخ ، دوغس |
| دوکان (هټی) | dukā̃n | دُکان |
| دوکتور (ډاکتر) | duktór | دکتور ، داکتر، ډاکټر |
| دوکمار | dokamā̃r | دوکه مار، دوکه مار |
| دوګڼ، دوګغړن > لوګن، لوغړن | logán, luɣəṛə́n | |
| دوګی > دوګی | | |
| دولس | dó-las | دوولس |
| دومره | dúmra | دمره، دومبره، دونې، دوني |
| دومی (والګی ، ګریپ) | dúmay | دومی (dúməy) |
| دوڼی (څادري) | dawṇə́y | بورقه ، چادری |
| دوو ښځو | dwó-x̌ə́jo | دوه ښځو، دوو ښځو (-šə́ju) |
| دوه پردوه | dwá-pər-dwá | دوه په دوه |
| دوه سوم | dwa-səwə́m | دوه سوه وم ، دوه سوه یم |
| دوه ویشت | dwá-wɪšt | دوویشت ، دوه یشت |
| دوه هومره (دوه ګرایه) | dwá-humra | دوه دونه ، دوه برابره، دوچنده |
| دوهه (دوهی) | duhá | دوهنه ، دوی ، دوده |
| دوی (په لنډ - و) | duy | دوی (doy) |
| دوی (قانون ، قاعده) | doy | دوی (duy) |
| دوې ښځې | dwé-xəje | دوه ښځې ، دوی ښځې |
| دویم | duyə́m | دوهم، دوه یم |
| دویمه (یکشنبه) | duyə́ma | دوه، دویم، اتوار، اطوار |
| دویمه خور (ربیع الثانی) | duyə́ma | دوهمه خور |
| دوییز – ه (مثنوي ...) | duyíza | دوه ییز ، - ه |
| دیدن > لیدن | | |
| دی دی (او است – مذ) | day-dáy | دی ده، دی دی (dəy-də́y) |
| دېرش | derš | دېرس |
| دېګچی | degčáy | دېچکی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| دېگچه | degčá | دېچکه |
| دېو | dew | دېب |
| د يوه مخه، د يوې مخې > له يوه مخه، له يوې مخې | | |

## ډ – d ( ډې، ډال )

د پښتو ابېڅې دولسم توری چې اړونده وييپانګه يې زياتره له هندي هغې سره ګډون او تړون لري.

| کره | غرېزليک | ناکره |
|---|---|---|
| ډاډېينه (ډاډ ، ډاډنه) | ḍāḍeyə́na | ډاډينه ، ډاډګيرنه |
| ډار (وېره خطر) | ḍār | ډار (وېره) |
| ډاکتر (دوکتور) | ḍāgtár | ډاکټر ، داکتر |
| ډاګ (پوسته) | ḍāg | ډاک ، پوسټ |
| ډاګيزول (علني کول) | ḍāgizawə́l | په ډاګه کول ، برملا کول |
| ډانډس (ډغ) | ḍānḍə́s | ډنداس، ډانډت، ډنډاپ، ډينګرې |
| ډانګ ډبلۍ (اثاثيه) | ḍā́ng-ḍabalə́y | د کور اسباب |
| ډبر > ټبر | ṭabár | |
| ډب وآخ > اخ وډب | áx- o- ḍáb | |
| ډبيالی > دوديالی | dodyāláy | |
| ډچه (دبدبه) | ḍáča | ډيچه |
| ډډون (جوف ، تشه) | ḍaḍún | ډډون (لټون) |
| ډرری (د پسو بلنوييکی) | ḍərráy | ډريو |
| ډکون (پرانه) | ḍakún | ډکون (ډک ځای) |
| ډله ټپله | ḍála-ṭapála | ډله او ګروپ، ګوند او سازمان |
| ډليز (ګروهی ، جمعی) | ḍalíz | ډله ييز ، ډله ئيز |
| ډمامه (هنګامه ، ډنډوره) | ḍəmāmá | ډمامه (نغاره) |
| ډمبره > بمبره | bambára | |

| | | |
|---|---|---|
| ډوکړه > دوکړه (تبله) | | |
| ډول ډال | ḍáwəl-ḍāl | ډول ډیل، ډول وډال، ډیل ډول، ډال وډیل |
| ډیډم (گاوترقانك) | ḍıḍám | غومی |
| ډېر پېښې | ḍer-péx̌ay | ډېر پېښېدونکی، کثیرالوقوع |
| ډېرکاری | ḍer-kā́ray | کاریگر، سخت کاری |
| ډېری (اکثریت) | ḍeráy | ډېره کی، ډېرښت، ډېرښتی |
| ډیولا | dıwlā́ | سگ ماهی |
| ډیوه | dıwá | ډېوه |

## ر – r ( رې )

د پښتو ابېڅې دیارلسم توری

| کره | غږیزلیك | ناکره |
|---|---|---|
| رابېل > رامبېل | rāmbél | |
| راپرځېدنه (پرځا) | rāpərjedə́na | له پښو غورځېدنه، سقوط |
| راشه ! | rā́ša | رایشه، ریشه ، ریاشه |
| راشی | rāšáy | رش، ریز، برف کوچ |
| راغه (د غره لمن، گټین ډاگ) | rāγə́ | رغ، راغ، رغه |
| رانیول (پېرل) | rāniwə́l | رارانیول ، نیول |
| راهیسې | rāhíse | راسې، رایسته، رادورې، را په دې خوا ، را په ایسته … |
| رانۍ | rāṇə́y | راجگڼه (rājgə́ṇa) |
| ربځ (جاروب، برس) | rabə́j | رېبځ ، ربز |
| ربڼه (نری باد) | rábṇa | ربړه (مشکل، مساله، پرابلم) |
| رشپېل (خوی) | rašpél | راشپېل ، راشبېل |
| رشه | rašá | راشه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ربښ | rax̌ | څوښا، عصاره، د مېوی اوبه، جوس |
| رښتین (رښتینی) | rəx́tín | ریښتین، رشتین، رښتونی |
| رغاوه (صنعت) | raγāwá | رغاو، رغاوه (rəγāwá) |
| رغلی > نغری، اورغالی | | |
| رغندی > غرندی | | |
| رنجړومه | ranjṛúma | رنجلومه، رنجونې، رنجونې |
| رنګی | rangáy | رنګړی |
| رنځپوهنه | ranj-pohə́na | مرض پېژندنه |
| رڼا | raṇā́ | روڼا، رڼرا |
| رڼاوی (وضاحت) | raṇāwáy | روڼاوی |
| رڼایي | raṇāyí | روڼایي |
| روتون | rəw-tún | شودې خور، شیرخوارګاه |
| روځ > ورځ | wraj | |
| روځباړه > ورځباړه | | |
| روځپازه > ورځپازه | | |
| روځپاڼه > ورځپاڼه | | |
| روده (لیاره، طریقه) | rawdá | رُوده (róda) |
| روږد (روږدی) | ruğd | اخته، آموخته، معتاد، عادي |
| روږدتیا (روږوالی) | ruğdtyā́ | عادت، اعتیاد، عادیوالی، معتادي |
| روږدول | ruğdawə́l | آموخته کول، معتادول، عادي کول |
| روږدېدل | ruğdedə́l | آموخته کېدل، عادتېدل، معتادېدل، عادي کول |
| روستاړی | rustā́ṛay | وروستاړی، شاوندی، لاحقه، سفېکس |
| روښانتیایي پېر | roẋāntyāyí-per | د روشنګرۍ دوره |
| روښاند (- ی) | roẋā́nd | روښان فکر، روښان اندی، روڼاندی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| روښاندانه | roxāndāná | روشنفکرانه |
| روښاندي | roxāndı | روښانفکري ، روڼاندي |
| روښه (حلوا) | roxá | وربښه |
| روغبړ | roγ-báṛ | برگړندی ، برگنډی |
| روغتیایي ښباك اوبه | roγtyāyí-cxāk-obə́ | د ښبلو صحی اوبه |
| روغلیك (صلحنامه) | roγ-lık | روغه لیك ، سوله لیك |
| روغه جوړه (پخلاینه) | róγa-ǰóṛa | سوله او سلم |
| روغه ییز | róγa-yız | سوله ییز |
| رومان (ناول) | romā́n | رمان |
| روند (بهند) | ráwənd | رونده ، بهنده |
| رېب (مایل) | reb | اړب ، رېو |
| رېبه (لیکه) | réba | مایل خط ، سلش |
| رېدی | redáy | ریدی |
| رېږده (زلزله) | réğda | ځمکرېږدله ، رېږدله |
| رېږده مېچ | reğda-méč | رېږدله مېچ ، زلزله سنج |
| ریښکۍ (تړانگه، پټاره) | rıx̌kə́y | تراډه، وربښکۍ، ریتاړه |
| ریښه (تریشهء جامه، ریشه) | rıx̌á | ریخه |
| رېوند (رېو) | réwand | رېبند ، مایل (خط) |
| ریی ((پښبۍ) | rayáy | رواش |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ړ – r ( ړې )

## د پښتو ابېڅې څورلسم توری

| کره | غږیزلیك | ناکره |
|---|---|---|
| ړانزړه، ړانځړه > نانځړه، ننځړه | | |
| ړک (ړکند) | ṛak | ړق ، لق |
| ړندتیا (ړندښت) | ṛandtyā́ | نابینایي |
| ړندکی (کوردلیل) | ṛandə́kay | ړندوکی |
| ړندول (- بېدل) | ṛandwə́l | ړوندول، وړوندول |
| ړندون (نابینایی) | ṛandún | ړوندوالی ، نابینایي |
| ړندې پېښې | ṛandé-pexé | د پټو سترګو پېښې ، کورکورانه پېښې |
| ړنګ (- ول ، - بېدل) | ṛang | وران، منحل (حکومت، کابینه ...) |
| ړنګتیا (ړنګېدنه) | ṛangtyā́ | ورانېدنه، منحلېدنه، انحلال |
| ړومبی | ṛumbáy | وړومبی |
| ړومبۍ | ṛumbə́y | شنبه ، خالي ، اوته (هفته) |
| ړومبۍ خور- میاشت > ژړانده | | |
| ړومبیز (نوی یا ړومبی زېږېدلی) | ṛumbíz | ړمبزیز ، ړومبزیز |
| ړوند | ṛund | وړوند ، نابینا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ز – z ( زې )

د پښتو ابېڅې پنځلسم توری چې شمال ختیځ یې د (ځ) پرځای هم کاروي.

| کره | غږیزلیک | ناکره |
|---|---|---|
| زاړمبوی (لته بوی) | zāṛəmbúy | زړمبوی، زړامبو، زړامبوی، زړنبوی، زاړونبوی، زړومبۍ، زړومبه |
| زازو (چارناچار) | zāzú | زاوزو |
| زامن | zāmə́n | ځامن ، زویان ، زمن |
| زانګو | zāngó | ځانګو |
| زاڼه | zāṇa | زانې ، زانی ، زانیه |
| زباد (اثبات ، ثبوت) | zbād | زبات |
| زبادول | zbādawə́l | زباتول ، زباتل |
| زبادېدل | zbādedə́l | زباتېدل |
| زبرګ (ولي ، ستانه) | zbərg | بزرګ |
| زبېښاك (استثمار) | zbexā́k | ځبېښاك |
| زبېښل (زبېلل) | zbexə́l | ځبېښل (ځبېلل) |
| زده کړه وال | zdákṛa-wā́l | تعلیم والا ، تعلیمیافته |
| زده کړیال (پوهنپال) | zdakṛyā́l | پوهنتوني شاګرد ، محصل |
| زدوول (سولول) | zdowə́l | زدول |
| زر > ژر | žər | |
| زرنګ (د نیمروز مرکز ښار) | Zaráng | زرنج |
| زری > ځری | | |
| زړاند > ځړاند | | |
| زړی (خسته ، هسته) | zə́ṛay | زړی ، زوړی ، مندکه |
| زږه | zəğá | زیږه ، ځیږه |
| زګ > ځك | jag | |
| زما | zəmā́ | دما ، یېما ، ځما ، زما (zmā) |
| زما څخه > له ما څخه | lə mā́ caxə | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| زما سره > له ما سره | lə mā́ sara | |
| زما کره | zəmā́-kara | د ما کره ، ما کره |
| زموږ | zəmúğ | دموږ، یېموږ، څموږ، څمونږ، زموږ (zmuğ) |
| زموږ کره | zəmúğ-kara | د موږ کره ، موږ کره |
| زنګل | zangə́l | زانګل ، ځانګل |
| زنګن | zangán | زنګوهلی |
| زنځه | zənja | ځنځه ، زنزه |
| زنغوزی | zaṇγozáy | زړغونځی ، جنغوزی |
| زوزات (اولاده ، اولاد) | zawzā́t | زوی زات، زهوزات، زات وزویات ، زوزار، زوایت) |
| زول > ژول | | |
| زول > ځول | | |
| زولنه (دُربلی) | zawlaná | زولانه ، زلوانه ، زلونه |
| زولۍ > ځولۍ | | |
| زومل > ژمل | žmal | |
| زومنه (ښوروا ، یخني ښوروا) | zómna | زېمنه، ځومنه، ځواوله، ځواونه |
| زوول (زېږول) | zowə́l | زودل |
| زوی | zoy | زی، زو ، ځوی، زوی (zuy) |
| زه او ته کورته ځو | zə́-aw-tə́-kór-ta-ju | ما او تا کورته ځو |
| زۍ > ژۍ | | |
| زیړ ، زېړ > ژیړ | | |
| زېړی، زیړی > ژیړی | | |
| زیړه (کنځا) | zyáṛa | زېړه ، زیاړه |
| زیږ | zığ | ځیږ |
| زېږ (تولد ، تولید) | zeğ | زېږېدنه، زېږونه، تولید |
| زېږ اړیکي | zeğ-aṛ́kí | تولیدي مناسبات |
| زېږځواك | zeğ-jwā́k | تولیدي یا مولد ځواك |
| زېږدي (زېږېز) | zeğdí | زېږدیز، میلادي |
| زېږکالیزه | zeğ-kālíza | د زېږېدنې کالیزه ، د زوکړې کالیزه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| زېږول (زوول) | zeğawә́l | څېږول، زوکول |
| زېږون | zeğún | زېږېدنه |
| زېل > ځېل | | |
| زېلانځ (رحم، تخمدان) | zelā́nj | زېلان، ځېلانځ |
| زېلۍ > ځلوبۍ | jalobә́y | |

## ژ – ž ( ژې )

د پښتو ابېڅې شپاړسم توری چې په شمال ختیزه پښتو کې زیاتره پر "ج" او منځنۍ هغه کې پر "ز" اړول کېږي او همدا سې ناکره لیکل کېږي.

| کره | غربیزلیک | ناکره |
|---|---|---|
| | | ږغ ، جغ ، ځغ |
| ژاخ (د بوټو ځنګل) | žāx | چاخ (سوات) |
| ژاله > ځاله | | |
| ژامه | žā́ma | زامه، جامه، ژامه (žāmә) |
| ژباړن (مترجم) | žbāṛán | ژباړونکی |
| ژباړون (ترجمان) | Žbāṛún | ژباړن |
| ژبپوهاند (ژبپوه) | žәb-pohā́nd | ژبپوهان ، ژبپېژندونکی |
| ژبتوکمپوهنه | žәb-tóḱm-pohә́na | ژبپوهنه او توکمپوهنه، اتنولېنګوېستیکس |
| ژبزده کړه | žәb-zdákṛa | د ژبې زده کړه |
| ژبلوست | žәb-lwást | د ژبې لوست، د ژبې درس |
| ژبور (خولور) | žәbawә́r | ژبورکی، ژبه ور، زبور |
| ژبونج | žәb-wāñǰ | ژبنی بدلون |
| ژبیز (ژبنی) | žәbíz | ژبه ییز |
| ژبټولنه | žәb-ṭolә́na | ژبنۍ ټولنه |
| ژبڅوکه | žәb-cúka | د ژبې څوکه ، د ژبې سر |
| ژبڅېړنه | žәb-ceṛә́na | د ژبې څېړنه ، ژبنۍ څېړنه |
| ژبښود | žәb-x̌ód | (د ژبې) خودآموز |
| ژبښوونه | žәb-x̌owә́na | ژبښودنه ، د ژبې تدریس |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ژبۍ (زبانچه) | žəbə́y | ژبه کې |
| ژر | žər | زر |
| ژر باوری (زود باور) | žər-bāwáray | زر باوری |
| ژر پوهی | žər-póhay | ژر پوهېدونکی |
| ژر تېری (زود گذر) | žər-téray | ژر تېرېدونکی |
| ژر رسی | žər-rásay | ژر رسېدونکی ، زودرس |
| ژرځوابی (حاضرجواب) | žər-jwā́bay | ژرځواب ورکوونکی، حاضرځوابه |
| ژرگه (د اوښ زږې برخې) | žərgá | ژره ، ژرۍ ، رږیری، زرگه |
| ژرنده | žránda | ځرنده، جرنده، زرنده |
| ژر یېبری (زود حاصل) | žər-yébray | ژر ثمری ، زود ثمر |
| ژړا | žaṛā | جړا ، زړا |
| ژړاند | žaṛā́nd | ژړان، جړاند ، زړاند |
| ژړل | žaṛə́l | جړل ، زړل |
| ژړندوك | žaṛandúk | ژړاندوك ، ژړانوك |
| ژغور (ژغورا) | žγor | ژغورنه، ژغورتيا |
| ژغور ببړۍ | žγor-beṛə́y | د ژغورنې یا نجات ببړۍ |
| ژغور ډله | žγor-ḍála | د نجات گروپ ، د ژغورنې ډله |
| ژغور ملاوستنی | žγór-mlāwastə́nay | د ژغورتيا كمربند |
| ژغورندوی | žγorəndóy | نجات ببنونکی، نجات ورکوونکی، ژغورونکی |
| ژغورنده غورځنگ | žγórənda-γorjáng | نجات ببنونکی غورځنگ يا تحريك |
| ژغی | žeγáy | جغی ، تسكېره |
| ژگه > جگه | | |
| ژمل | žməl | ژمنه کول |
| ژمن (ژمندوی) | žmán | ژبن ، رږبن ، زبن( متعهد ) |
| ژمنماتی | žman-mā́tay | د ژمنې (وعدې) ماتوونکی، وعده خلاف |
| ژمنه | žmə́na | ژمنه (وعده ،تعهد ،رسالت) |
| ژندره (کولپ) | žandrá | جندره ، ځندره |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ژوبڼ | žobáṇ | د ژویو بڼ ، ځناور باغ |
| ژوند پوهنه | žwand-pohə́na | ژوند پېژندنه ، بیالوجي |
| ژوند جګړه (مبارزه، تنازع البقاء) | žwánd-jagṛá | ژوندون جګړه |
| ژوند دود (ژوند توګه) | žwand-dód | د ژوند ډول ، د ژوند طرز |
| ژوند کچه | žwand-káča | د ژوند سطح یا سویه |
| ژوندوژواك | žwánd-o-žwā́k | زوندوزواك، جوند وجواك |
| ژوندون (ژوند) | žwandún | زوندون، جوندون، جمدون |
| ژوول (جویدن ، زیستن) | žowə́l | ژول ، جوول |
| ژویالپوهنه | žoyā́l-pohə́na | د ژوند چاپېریال پوهنه، ایکولوجی |
| ژیړ | žyaṛ | ژړ، زیړ، زېړ |
| ژیړانکه | žyāṛānáka | ژیړن، ژیړې، ژیړانکه، ژړانګه |
| ژیړی (یرقان) | žyaṛay | ژړی ، زېړی |
| ژۍ (کنار ، حاشیه) | žəy | زۍ ، جۍ ، ځۍ |
| ژی (مشك دوغ، جك) | žay | زی ، جی ، ځی |

# ږ – ğ ( ږې )

د پښتو ابېڅې اوولسم توری چې په منځنۍ پښتو کې د ږېری د (گ + غ) گډ اواز څرگندوی دی او د همدغه وینگ پر بنسټ د سوېل ختیزې ( ž ږ ) او شمال ختیزې ( گ g ) د یوې گډولې (ğ) په توگه زیات کره گڼل کېدای شي ، د غزني ، پکتیکا ، زرملې ، ږوب او کوټې خوا ته یې وینگ ( ز ) دی او وزیر – مسید ، ختټک ... یې "ژ" ادا کوي .

ږدل ( د تېرمهال "اېښوول" پر وړاندې په ناتېرمهال کې گردانېږي، لکه ږدم ، ږدو ... ) اېږدل ، اېژدل او کېږدل یې ناکره ځېلونه دي.

| کره | غږیزلیک | ناکره |
| --- | --- | --- |
| ږدن ( ارزن ) | ğdən | گدن ، ژدن ... |
| ږغ > غږ | | |
| ږغبندی > ژغنډی | | |
| ږغرل > ژغرل | | |
| ږغول > غږول | | |
| ږغېدل > غږېدل | | |
| ږله غری (برنجك برف وژاله) | ğala-γəráy | ژله غری، گله گرکی، ږغږغری |
| ږلۍ | ğaləy | ژلۍ، گلۍ |
| ږمنځ (- ول ، - ېدل ) | ğəmənj | گمنځ، گومنځ، ږمنځ |
| ږمنځۍ | ğəmənjəy | گمنځۍ، گومنځۍ |
| ږنگوری (انگور وږی) | ğangúray | زنگوری ، ژنگوری |
| ږو (قسم کوم) | ğo | گو |
| ږوب | žob | ژوب ، زوب |
| ږوږ، زوږ > ځوږ | | |
| ږوغ ږغ > غږغوږ | | |
| ږوی (لووی) | ĝə́way | گوی ، گواه |
| ږیر خریلی | ğır-xrəyəláy | ږیر خرېلي ، گیر خریلی |
| ږیره | ğıra | ژیره ، ایره ، گیره |
| ږیری > ژرگه | žargá | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# س – s ( سې ، سین )

## د پښتو ابېخي اتلسم توری

| کره | غږيزليك | ناکره |
|---|---|---|
| سا (ساه) | sā (-h) | ساهه |
| سا بېړی > الوتکه | | |
| سابه پلور | sābə-plór | سابه پلورنه، سابه خرڅونه، سبزي فروشي |
| سابه پلوری | sābə-plóray | سابه پلورنکی، سابه خرڅوونکی، سبزی فروش |
| سا پوهنه | sā-pohə́na | سا پېژندنه، اروا پوهنه، اروا پېژندنه |
| ساتېری | sā-téray | ساعت تېری ، خوشگذران |
| ساتېري (سرگرمي) | sā-térı | ساعت تېري |
| سارمی (سارمه) | sārmáy | څارمی ، سارمکۍ (سابه) |
| سارو ان > څاروان | cārwā́n | |
| ساری (سيال) | Sā́ray | سال ، مثال |
| سازمان | sāzmā́n | نهاد ، ټولنه، تنظيم، موسسه |
| سازمانول | sāzmānawə́l | سازمان ورکول، تنظيمول |
| سازښت | sāzə́x̌t | سازش |
| سازي | sāzí | سازنده، نوازنده، ساز غږوونکی |
| ساگ (سابه) | Sāg | ساك، سبزي، سبزيجات |
| سال (سرمه ريگ) | Sāl | شگه |
| سا لنډي (سا بندي) | sā-lánḍı | سا تنگی، نفس تنگي |
| سا لنډی (سا بندی) | sā-lánday | سياره، سا تنگي، ضيق النفس |
| ساندي (مهمان دير پا) | Sāndí | ساندی |
| سانگه (نيزه ، شل) | sā́nga | څانگه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| سانګه > څانګه | | |
| ساوتیګا (ساسوی) | sā-o-tıgā́ | ساوتیگه، نفس سوخته |
| ساهو (سا کښ، ازاد) | Sāhú | ساوو |
| ساییز | sāyíz | ساهیز، تنفسي، روحي |
| سبا | Sabā́ | صبا ، صباح |
| سباناری (سهارنۍ، ګهیځنۍ، برېځر) | sabā́-nārā́y | سبناری |
| سباوون (سحرګاه، سحرګاهان) | sabāwún | سباون ، صباون |
| سپارښتلیك | spārəx̌t-lík | د سپارښتنې لیك، سفارش نامه |
| سپارښتي | spārəx̌tí | سفارشي ، فرمایشي |
| سپاره | Spā́ra | سسپار، سسپاره، تسپار |
| سپرلو | sparló | د آس سپرلي |
| سپرلي (د نقلیه وسیلو سپور) | Sparlí | سورلي ، مساپر |
| سپرلی > پسرلی | | |
| سپرلۍ ګاډی | Sparlə́y-gā́ḍay | د سپرلیو موټر یا سروېس، مساپر وړونکی ګاډی |
| سپره لار | Spará-lār | د سپرو لار، موټر رو، سړك |
| سپرېدل (سپرول) | sparedə́l | سپورېدل، سورېدل (سورول) |
| سپړل | spəṛə́l | سپړل ، سپړدل ، سپړودل |
| سپړلی | spəṛə́lay | سپړدی ، سپړودی |
| سپږمه > سږمه | | |
| سپښته (ببلۍ) | spə́x̌ta | سپخته |
| سپم (د ستنې سوری) | Spam | سپومی ، ستومی |
| سپنخړی | spən-xə́ṛay | وسپنخیری، وسپنخړی، اوسپنخړی، سپینخړی |
| سپور (سوار) | Spor | سور |
| سپوږمۍ تندره (خسوف) | spoğməy-tándra | د سپوږمۍ تندره |
| سپوږمیز (- لېږدي) | spoğmíz | هجري، قمري هجري |

| | | |
|---|---|---|
| سپيتانه | spıtā́na | سپي توب |
| سپېڅلځای | Specəl-jā́y | سپېڅلی ځای ، مقدس ځای |
| سپېده داغ (سپېدې چاود) | speda-dā́γ | سپيدو داغ ، سپيده دم |
| سپېرلم (روباه) | Sperlə́m | سپلم |
| سپېلنی | spelanáy | سپلنی ، سپانده |
| سپي لوبه | spı-lóba | سپي جنگونه ، سگواني |
| سپين روبی | spın-róbay | سپين دروبی، سپين دوبی |
| سپين زرين | spın-zarín | د سپينو زرو ، نقره يي |
| سپين نمری (سپين روبی) | spın-nmə́ray | سپين جامه (سپين کالي) |
| ستا | Stā | د ستا ، د تا ، يېتا |
| ستا څخه > له تا څخه | | |
| ستاړه (روغه ، پخلاينه) | stā́ṛa | سوله ، صلح |
| ستا سره > له تا سره | lə tā sará | |
| ستاسې (ستاسو) | Stā́se | د ستاسې، د تاسې، ستاسي |
| ستاينوړ | stāyən-wáṛ | د ستاينې وړ |
| ستاينوم (صفت ، لقب) | stāy-núm | د صفت نوم (اسم صفت)، لقب |
| سترغلی | stər-γaláy | سترگغلی |
| سترگ ارتاو (چشم انداز) | stərg-artā́w | ليدارتاو |
| سترگبندی | stərg-bandáy | چشم بندی |
| سترگرپ | stərg-ráp | د سترگو رپ |
| سترگ ليد (سترگلين) | stərg-líd | د سترگو ليد ، نگاه |
| سترگور | stərgawár | سترگه ور ، بينا ، لوی سترگی |
| سترگو ليدلی (عينی) | stərgo-lıdə́lay | د سترگو ليدلی، په سترگو ليدلی |
| سترگه (سترگې) | stə́rga | سترگه (stərgi, stərgə) |
| سترگې پرلار | stərge-pər-lār | سترگې په لار (- ې) ، منتظر |
| سترگۍ والا | stərgəy-wālā́ | سترگۍ (چشمی، عينك) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | | جوړوونکی یا پلورونکی |
| ستروی (بزرگواری) | stərwáy | سترتوب ، عظمت |
| ستړیا | stəṛyā | ستړتیا |
| ستغ (سخت ، زشت) | stəγ | ستغ، ستوغ، ستخ، ستوخ |
| ستغلېږدی (ستغیونی) | stəγ-léğday | د ستغې لارې تلونکی، صعب المرور، صعب العبور |
| ستگ (سنجاق) | Stag | ستنکی |
| ستمن > شتمن | | |
| ستناو (آړ ، خنډ) | stənā́w | ستناوی ، مانع |
| ستنبه (رگبه) | stənbá | ستنوهونکی، پېچکاري کوونکی، آبله کوب |
| ستنځی (اړځی ، اړتون) | stənjáy | توقیفځی ، حواله جات |
| ستو (ښواکی) | Staw | ستو (کوشنی سوری) |
| ستور بېړۍ (تشیال بېړۍ) | stor-beṛə́y | فضایي بېړۍ |
| ستور پوهنه | stor-pohə́na | ستوري پېژندنه |
| ستوریانی (ستوریانۍ) | storyānáy | فېلمي ستوری (ستورې) |
| ستوریونی (تشیا لیونی) | stor-yúnay | ستور مزلی، کیهان نورد ، فضا نورد |
| ستوگه > استوگه، استوگنه | | |
| ستونځ (اوج ، قله) | Stunj | د غره څوکه، د غره سر، لوړه |
| ستونزمن | stonzmán | ستومانوونکی |
| ستونزه (مشکل) | stónza | ستونځه، ستونزه (stúnza) |
| ستوني ستخ | Stúni-stax | ستوني ستاخ، ستوني ستغ، ستوني ستاغ، ستوني ستاک |
| ستوه | satə́wa | پیش قبضه، ستوه (satwá) |
| سته > شته | Šta | |
| سټک | səṭə́k | سوټک ، څټک |
| سټه (بېخ) | sə́ṭa | څټه |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ستې > ښېته | | |
| سخا > خوسا | | |
| سختچاری | saxt-čā̆ray | سختگیر ( - ه ) |
| سختدریځی(توندلار ی) | saxt-darízay | کلك دریځی، ټینگ دریځی، توند دریځی |
| سخر > خسر | | |
| سخی > خوسی | | |
| سربانه (وربینه) | Sarbā̆ṇa | سربانه، سره بونې، سره لې، ناړې، ورگینه |
| سرپر سر (یو برابر) | sár-pər-sár | سرپه سر، سرپسر |
| سرته رسول (ترسره کول) | Sarta-rasawә́l | وسرته رسول ، اجرا کول |
| سرتېری (عسکر) | sar-téray | سرتېر، سرباز، سپاهی |
| سرخوږ (سرخوږی) | sar-xwә́ğ | سردرد ، سردردي، سردردی |
| سرسوبنده > شوبله | | |
| سرغاړی (سرغړاند) | sar-γā̆ṛay | سرغړوونکی، سرواخی، خلاف کار |
| سرغشی (سرغشي) | sar-γášay | شرغشی، شېرغشی، کهی |
| سرکونډې (سر پرڅېې) | sar-kóṇḍe | سرکونډو ، لکې پنبې، سر پرڅېړی، سنگوپ (ملاق) |
| سرگڼی | Sargáṇay | ړومبی گڼه ، اول نمره لومړی درجه |
| سرلیك (عنوان) | sar-lík | سرلیکنه ، سرخط |
| سرلیکنه | sar-lıkә́na | سرلیك ، سرمقاله |
| سرلیکه | sar-líka | سردړه ، سرلوحه، بورډ |
| سرمخ | sar-mә́x | سرصفحه |
| سرمشریزه | sar-məšríza | سرمشریزه غونډه، د سرانو غونډه |
| سر وزیر | sár-wazír | لومړی وزیر، وزیراعظم، صدراعظم |
| سروزیري | sar-wazırí | لومړی وزارت، صدارت، صدارت العظما |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| سروېږدی (بالښت) | sar-wéğday | سراېږد ، سروېږد ، سروېښت |
| سره بانجڼ > باټينګڼ | | |
| سره زرين (طلايي) | srə-zarín | د سرو زرو |
| سره له دې ( له دې سره سره) | sará-lə-de | باوجود |
| سرهېته (لالهاند) | sar-héta | سرگردان |
| سری > شری | | |
| سريزه | saríza | سريځه، مقدمه، پيش لفظ |
| سرېښ > ثلېښت | clex̌t | |
| سړک | saṛák | سرك |
| سړوپی | saṛopə́y | سړې پی، شيريخ، آيسكريم |
| سړه لړې (تب لرزه) | saṛa-lə́re | سړه لوي ، سړه لوې |
| سړي سرکال ګټه | saṛı-sár-kāl-ğáṭa | كالنی سړي سرګټه ، د سړي پرسر كالنی عايد |
| سږکال | sáğ-kāl | سخكال ، سكال |
| سسكوره > تسكوره | | |
| سکروټه | skarwáṭa | سروټكه ، سروټه |
| سکم (جوال) | Skam | سكيم |
| سکو (ښاخی) | Sku | دوښاخه، دوه خلې، خاخی |
| سکولل (سکوښتل) | skóləl | سكوستل، سكول، سكويل (د پسو وزو خرېيل) |
| سکېلوی (زګېروی) | skelwáy | زبېرګی ، ځګېروی |
| سګك > غربی | | |
| سل په سل کې | sə́l-pə-sə́l-ke | سل په سلو كې |
| سلګی (هكهك، نالش) | səlgə́y | سوګلی ، سولګی |
| سلنه (فيصدي) | sələ́na | سلواله |
| سليزه (پېړی) | səlíza | سلی ، سلكلني |
| سماوار | samāwā́r | سماوات |
| سمبال (- ول ، بدل (تامين ، اجراء ...) | səmbā́l | سنبال ، سامبال |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| سم له سمونې (سم له لاسه) | sám-lə-samúne | سم د سمنې، سم له سمني، سمدستي، دستي |
| سمڅ | sməc | ثمخ ، سمس ، ښمخ |
| سمندر ربړده | samandər-réğda | بحري زلزله ، ثونامي |
| سمندرگی | samandərgáy | بحيره |
| سمونپال | samun-pā́l | سمونوال، اصلاح پال، اصلاح غوښتونکی |
| سندوی (غاټول بوټی) | sandóy | سندی |
| سنډ (کتان) | sənḍ | سونډ ، سڼ ، سوڼ |
| سڼ (زنجبيل) | səṇ | سوڼ، سنډ |
| سڼوسپېرکی | sə́ṇ-o-spérkəy | سنډوسپېرکی |
| سوابېره | swābéra | صوابېره، سوابېره (sowābéra) |
| سوات | Swāt | صوات ، سوات (səwāt) |
| سوب (حاضر) | Swab | سوب (sob) |
| سوباړی > څو باړی | | |
| سوبتيا (حاضري، حضور) | swabtyā | سوبتيا (sobtyā) |
| سوبله > شوبله | | |
| سوړسك | soṛsə́k | سوکړك ، جواری |
| سوکمار | sukmā́r | سوك وهونکی ، بوکسر |
| سوکماري | sukmārí | سوك وهنه، بوکس، بوکسېنگ |
| سوگندکول - پورته کول... > لوړل | | |
| سوگند ليك | sawgand-lík | قسم ليك ، قسمنامه |
| سول (سوځل) | swəl | سوزل ، سېزل ، سېځل |
| سول (شدن) > شول | | |
| سوله ستاړه (روغه جوړه) | sóla-satā́ṛa | سوله ستاره، سوله بوله، صلح وسلم، صلح وصفا |
| سوله ييز (روغه ييز) | sola-yíz | سوليز |
| سوليز | solíz | د سول (عقل) اړوند ، سولي، عقلاني، عقلي، منطقي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| سومبور | sumbawár | سومباټور |
| سونبوټي | Swan-búṭi | د سون بوټي یا بوټی |
| سونتوکي | Swan-tóki | د سون توکي ، د سون مواد |
| سونلرګي | Swan-largí | د سون لرګي |
| سونوړ | Swan-wáṛ | د سون وړ، د سوځېدو وړ |
| سووان | sowā́n | سوهان |
| سوواني (اساني، شېبره) | sowāní | سواني، سوهاني، سوهانه |
